NEW KABUL BOOKSTORE

په اسلام باندې د غیر مسلمو

# اعتراضونه

او د هغې جوابونه

Download from:aghalibrary.cm



ډاکټر ذاکر نائیک

ژباړه: محمد نذیر "ذبیح"

169080

په اسلام باندې دغير مسلمو

# اعتراضونه

او دهغې جوابونه

0782083116
0776087677

ذاکر نائیك

Download from:aghalibrary.cm

ترجمه

محمد نذیر (ذبیح)

دکتاب ټول حقونه د خپروندویه اداري سره خوندي دي

دکتاب نوم

# په اسلام باندي دغیر مسلمو اعتراضونه
# او دهغي جوابونه

تقریر

ډاکټر ذاکر نائیك

ترجمه

محمد نذیر ذبیح

دچاپ ځای

نیو کابل کتاب پلورنځی
پشاور، بورډ
دهوټولونو راسته
پنځم نمبر کوڅه نهم نمبر دکان
فون 091573304
موبایل : 03339217133

# فهرست

پېژندګلوي.......................................................1
شل عمومي اعتراضونه : .................................................1
منفي نظريې او تصورات دوخت سره بدليږي ..........................3
غلط فهمیانې په هرځای کې یو شان دي ...............................4
تعدد ازواج..........................................................5
دښځو لپاره په یو وخت کې له یوه نه دزیاتو خاوندانو د کولو مسئله :.....11
حجاب یا پرده .......................................................13
بابلي تهذيب.........................................................14
یوناني تهذیب........................................................14
رومي تهذیب .........................................................15
مصري تهذیب.........................................................15
دحجاب نور لوازمات...................................................17
د دوو غبرګو خويندو مثال...............................................18
آيا اسلام د تورې په زور باندې خپور شوی دی ؟ ............................21
د اسلام مطلب.........................................................21
کله کله د زور استعمال هم ضرور وي........................................21
د مورخ ډي ليسي اوليرى رايه...............................................22
په هسپانیه کې د اسلامي حکومت 800 کاله ....................................22
یو کروړ څلويښت لکه عربان پیدائشي عیسایان دي..................................23
دهندوستان له 80 فیصده څخه زيات غير مسلم نفوس دی..............................23
د اندونيشيا او مليشيا مسلمان ...........................................24
دافريقا مشرقي ساحل......................................................24
د تهامس کارلائل رايه......................................................24

په اسلام کې زور نشته .................... 25
د ربنتون ولې توره هم پرې کول کوي .................... 25
په نیمه پیړۍ کې دمذهبونو د پیروانو دزیاتیدلو څیړنه .................... 26
په آروپا او امریکاکې تر ټولو نه په تېزۍ سره خپرېدونکی مذهب .................... 26
د ډاکټر جوزف آدم پئرسن تاثرات .................... 27
صرف مسلمان دهشت ګرد او انتها پسند ولې وي؟ .................... 27
د بنسټ پالنې تعریف .................... 28
ټول بنسټ پالونکي یو شان نه وي .................... 28
زه پدې فخر کوم چې یو بنسټ پاله مسلمان یم .................... 29
هرمسلمان باید دهشت ګرد وي .................... 30
د اسلام مطلب امن او سلامتي ده .................... 31
مسلمان غوښه خوري .................... 32
مسلمان سبزي خور هم کېدلی شي : .................... 32
په قران کریم کې د غیر نباتاتي خوراکونو داستعمال اجازه .................... 33
انساني غاښونه دغوښې او نباتاتي غذاګانو لپاره جوړ دي : .................... 34
په هندو توب (هندووالي) باندې دنورو مذهبونو اثر .................... 37
که ټول خلك سبزي خواره شي : .................... 39
دسبزي دخوراك فائدې : .................... 39
په اسلام کې دذبح طریقه ظالمانه ده ؟ .................... 40
غوښه خوړل مسلمانان د سختي خواته مائل کوي .................... 42
مسلمان کعبې ته سجده ولې کوي ؟ .................... 44
اسلام په اتحاد باندې یقین لري : .................... 44
دحجر اسود په اړه د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه وینا : .................... 45
غیر مسلمو ته اجازه نشته چې هغوی مکې او مدینې ته ننوزي : .................... 46
مسلمان د خنزیر غوښه نه خوري .................... 48

دخنزير غوښه د متعددو بېماريانو سبب جوړېږي.......................49
دخنزير شمار په بدو حيواناتوکې کيږي : .......................50
دشرابو څخه منعه .......................51
په احاديثو کې دشرابو ممانعت : .......................53
د سړيو اوښځو دشاهدي (ګواهي) مسئله.......................57
ميراث.......................62
آيا قران کريم د الله تعالى په کلام باندې مشتمل دى.......................68
آيا قران کريم د رسول الله صلى الله عليه وسلم اختراع ده ؟ .......................69
آيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د منصب او مال طلبګار وو؟ .......................70
ابو لهب قران کريم درواغ ثابت نشو کړلی .......................81
د قران د درواغو د ثابتولو لپاره چلنج تر قيامت پورې دی : .......................84
زمکه مربع ده او که ګرده (ګول)؟.......................88
آخرت (حيات بعد الموت) .......................93
آخرت يوه منطقي عقيده .......................93
الله تعالى قادر مطلق او منصف (انصاف کونکی )دی.......................97
مسلمان په مختلفو فرقو باندې ولې تقسيم شوي دي ؟.......................101
ټول مذهبونه ښې لارې ته بلنه کوي نو بيا داسلام ترجيح ولې ده ؟ .......................106
د اسلام په احکامو او دمسلمانانو په عمل کې فرق ولې دی؟ .......................114
مسلمان په مجموعي توګه باندې نېك خلك وي.......................115
غير مسلمو ته کافر ولي ويل کيږي .......................117

# پېژند ګلوي

دعوت او تبلیغ په مونږ باندې فرض دی
ډېر مسلمان ددې حقیقت نه ښه خبر دي چې اسلام یو نړی وال مذهب دی او هغه د ټول انساني نسل دهدایت لپاره رالېږل شوی دی الله تعالی دټولو کائناتو مالك او خالق دی او ټول عالم ته ددې پیغام رسول مسلمانانو ته سپارل شوي دي مګر له بده مرغه اکثرو مسلمانانو دا خپله ذمه واري هېره کړې وي مونږ مطمئن کیږو چې مونږ د ژوند اسلامي طریقه خپله کړېده مونږ دهغې د ټولو تقاضو تکمیل کړی دی مګر هغه کسانو ته چې دا پیغام تر اوسه ندی ور رسېدلی هغوی ته یې درسولو ارمان زمونږ په زړونو کې نشته دعوت یو عربي لفظ دی چې معنی یې ده را غوښتل او په اسلامي اصطلاح کې دا د اسلام دخپرولو لپاره کوشش کولو ته وایي په قران کریم کې الله تعالی فرمایي :

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَادَةً عِندَهُ مِنَ اللّهِ وَمَا اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ

سورت بقره آیه 140

ترجمه : تر هغه نه به څوك لوی ظالم وي چې دی دخدای هغه ګواهي پټه کړي چې لده سره وي او الله تعالی ستاسې له کارونو څخه بې خبره ندی .

# شل عمومي اعتراضونه :

داسلام تبلیغ د خبرو او سوال جواب نه بغیر نه کیږي .
الله تعالی فرمایي :

ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ

سورة النحل اية 125

ترجمه : د خپل رب لارې ته خلك په حكمت او بهترين نصيحت سره را وغواړه او له هغوی سره په بهترينه طريقه سره خبرې وكوه .

غير مسلمو ته دحق د پيغام رسولو لپاره صرف دا نده بس چې هغوی ته د اسلام مثبت نكات وړاندې كړل شي بلكه دهغوی اعتراضونه په علمي طور باندې څېړل او دهغوی مطمئن كول هم ضروري دي دكومو اعتراضونو له امله چې ذهنونه ګډ وډ شوي وي د اسلام په اړه مخې ته راغلي ټول ابهامونه بايد د دليلونو او حقيقتونو په رڼا كې لرې شي ، ممكنه ده چې د اسلام په ډېرو مثبتو طرفونو باندې هغه پخپله هم قائل شي مګر د نارينه وو لپاره ديوې نه د زياتو ودونو په كولو، د زنانه وو د حجاب په اړه او په مسلمانانو باندې دبنياد پرستي د تور په بنياد ګډ وډ شوی ذهنونه بايد دحكمت او دليل په واسطه باندې صاف كړل شی او دهمدې خبرې ضرورت دی .

زه د دعوت او تبليغ دخپلو تجربو او مشاهدوڅخه دې نتيجې ته رسېدلی يم چې كم زيات شل داسې اعتراضونه دي او سوالونه دي كوم چې تبليغ كونكو ته په عامه توګه په مخه ورځي .

كله هم چې تاسې دكوم غير مسلم څخه پوښتنه وكوئ چې تاسې ته د اسلام كومه خبره غلطه ښكاره كيږي نو په عامه توګه هغه پنځه شپږ سوالونه كوي چې د راتلونكو شلو اعتراضونو برخه به وي .

دحكمت او دليل د قوت څخه اكثر معترضين مطمئن كېدلی شي كه تبليغ كونكي ددې اعتراضونو جوابونه په ښه توګه باندې په ذهن كې كېږدي يا لږ تر لږه دهغو سر سري حواله دهغوی په حافظه كې محفوظه شي نوانشاءالله هغه به كامياب وي اګر كه هغه غير مسلم آوريدونكي د اسلام په حقانيت

ندې په پوره توګه باندې قائل هم نه کړلی شي مګر دهغوی ذهنونه به د
سلام په اړه د غلطو نظریاتو له زهرو څخه پاك کړي او دهغوی ذهنونه به د
یر متعصبانه فکر د خپلولو لپاره خامخا تیار کړي .

میډیا خپرې کړل شوې غلطې نظرېې :

اکثر غیر مسلمو ذهن د اسلام او مسلمانانو په اړه د غلطو نظریاتو نه
څکه متاثر کیږي چې د نړۍ والې میډیا څخه چې په هغې کې سټلائټ، ټي
وي چینلونه ، ریډیو سټیشنونه ، اخبارونه ، جریدې او کتابونه شامل دي
کوم چې د غربیانو په واك کې دي په مسلسله توګه د یوې غیر محسوسې
طریقې نه یو کوشش کیږي چې په هغې کې د اسلامي عقیدو په اړه غلطو او
بې بنیاده خبرو ته د تحقیق او دلیلونو د ښائسته نومونو د ورکولو سره
دخلکو ذهنونه اړول کیږي اوس انټرنیټ دمعلوماتو او اطلاعاتو دذخیرې
په شکل کې مخې ته راغلی دی او په هغه باندې دهیچا واکمني نشته مګر
په هغه باندې هم د اسلام په اړه د زهرو خپرول جاري دي اګر چې مسلمانان
هم دخپل مذهب د تبلیغ لپاره انټرنیټ استعمالوي لکن دهغوی دکار دائره
ډېره محدوده ده او دمخالفینو دکار قوت له هغوی څخه څو چنده زیاته دي
مسلمانانو ته په کار دي چې پدې طرف کې خپل کارونه او خدمتونه تېز
کړي .

## منفي نظرېې او تصورات دوخت سره بدلیږي .

ددې مشاهده شوېده چې د اسلام په اړه عمومي اعتراضات په مختلفو
وختونوکې او دورونو کې مختلف کیږي مونږ چې دلته دکومو شلو
اعتراضونو جوابونه انتخاب کړي دي دهغوی تړاو له موجوده دور سره دی
او څه زمانه وړاندې دغیر مسلمو اعتراضونه پدې ډول نه وو کوم چې نن دي

په همدې ډول ممکن دي چې څه زمانه وروسته را پورته شوي اعتراضونه ددېنه هم بدل شي.

# غلط فهمیانې په هرځای کې یو شان دي.

ماته ددنيا په مختلفو برخو کې د غير مسلمو سره د اسلام په حواله باندې د خبرو کولو موقع په لاس راځي او حقيقت دادی چې داسلام او مسلمانانو په اړه پيدا کېدونکې غلط فهمیانې په هرځای کې همداسې دي ، البته ممکنه ده چې د شاوخوا د تهذيب او رواج په رڼا کې څه نور سوالونه هم راپورته شي دمثال په توګه په امريکا کې د عمومي سوالونو څخه علاوه داپوښتنه هم کيږي چې اسلام د "سودي راکړې ورکړې ممانعت ولې کوي؟" ما د عمومو شلو سوالونو سره داسې سوالونه هم شامل کړي دي کوم چې په عامه توګه غير مسلم هندوستاني راپورته کوي دمثال په توګه "مسلمان په خپلو خوراکونوکې غوښې ته ولې ترجيح ورکوي؟" ددې سوالونو د اهميت په حقيقت باندې خبرېدل ددې لپاره په کار دي چې هندوستاني او هندوستاني نسل اوسېدونکي په دنيا کې په هرځای کې پيداکيږي او د دنيايي نسل پنځمه برخه دا خلك تشکيلوي ددې امله ددنيا په هره برخه کې داسې سوالونه راپورته کيږي.

د اسلام د مطالعه کونکو غير مسلمو په ذهنونو کې را پورته شوي سوالونه دداسې غير مسلمو تعداد هم کم ندی چې دوی اسلام مطالعه کړی وي مګر له بده مرغه په هغوی کې اکثر داسلام په اړه سطحي علم لري او د اسلام په اړه دهغوی معلومات د متعصبو مصنفنو دکتابونو تر مطالعې پورې محدود وي ، دداسې غير مسلمو په ذهن کې د راپورته شويو سوالونو څرنګوالی (نوعيت) له نورو څخه بدل وي ددې امله پدې اړه شل سوالونه او دهغې جوابونه بېل په ترتيب کړل شوي دي دمثال په توګه دهغوی دعوی

ده چې په قران کریم کې ضد او نقیض بیانونه موجود دي او دا چې قرآني تعلیمات له سائنس سره ټکر دي او له هغوی سره مطابقت نلري او داسې نور ددې امله د داسې غیر مسلمو لپاره چې هغوی د اسلام په اړه د مسخ شویو کتابونو مطالعه کړې وي او دهغوی په ذهن کې چې کومې غلط فهمیانې پیدا شوې وي دهغې د لرې کولو لپاره او ددېنه علاوه ما د غیر مسلمو سره د خبرو په وخت د شویو خبرو په رڼا کې نور اضافي سوالونه او جوابونه تیار کړي دي چې پدې کتاب کې ستاسې خدمت ته وړاندې کیږي دا سوالونه دهغه مشهورو اعتراضونو څخه مختلف دي کوم چې په عامه توګه باندې را پورته کیږي او دا اعتراضونه دهغه غیر مسلمو دي چې دوی د اسلام په اړه یوڅه معلومات لري .

# تعدد ازواج

پوښتنه : په اسلام کې سړي ته دیوې نه دزیاتو ښځوکولو اجازه ولې ورکړل شوېده؟

جواب :

د تعدد ازواج تعریف

په یووخت کې د سړي لپاره له یوې نه دزیاتو ښځو په خپله نکاح کې ساتل .

دښځې لپاره په یو وخت کې دیو نه دزیاتو خاوندانو ساتل .

په اسلام کې سړي ته د خاص عدد ښځو دساتلواجازه ورکړل شوېده او ښځې ته دیونه دزیاتو خاوندانو د کولو مکمل ممانعت دی اوس راځو ددې سوال لوري ته چې سړي ته په یو وخت کې د متعددو ښځو دکولو اجازه ولې ورکړل شوېده .

**قران کریم یوازینی مذهبي کتاب دی چې وایي "صرف یو واده وکوئ"**

قران کریم دزمکې په مخ باندې یوازینی مذهبي کتاب دی په کوم کې چې دا الفاظ موجوددي چې "صرف یو واده وکوئ" په کوم بل مذهبي کتاب کې د سړیو لپاره صرف په یوه ښځه باندې د قناعت کولو حکم ندی ورکړل شوی که هغه کتاب وید دی ، که رامائن بهارت، ګیتا ، تورات یا بائیبل دی ددې کتابونو له مخې کـه سړی هرڅومره وغـواړي ښځې کـولی شـي دا خو په وروستنیو کې هندو پردهتانو او مسیحي چرچ ددې ممانعت وکولو چې یو سړی دوه ښځې نشي کولی .

د هندوانو د مذهبي کتابونو له مخې ددې مذهب پخوانیو مشران به دڅو څو ښځو خاوندان وو راجه سرتهچې د رام چندرجي پلار وو دهغه په کور کې هم له یوې نه زیاتې ښځې وې په همدې ډول کرشن جي مهاراج ته هم د متعددو ښځو دخاوندکېدلو اعزاز حاصل وو.

په مخکني عیسایي دور کې سړیو ته د دوی دخوښې مطابق دښځو دساتلو اجازه وه ځکه چې بائیبل په سړیو باندې دا پابندي نه لګوي چې هغوی باید متعددې ښځې ونه کوي او په یهودیت کې هم د یوې نه دزیاتو ښځو کول روا ګڼل کیږي د تلمود له مخې د ابراهیم علیه السلام درې بیبیانې وې او د سلیمان علیه السلام حرم په څو سوه بیبیانو باندې مشتمل وو په یهودیت کې تر ډېرې زمانې پورې دیوې نه دزیاتو ښځو کولو رواج په ځای پاتې وو حتی چې لوی مذهبي امام ګرشوم بن یهودا (960-1030) د یوه فرمان په وسیله باندې د ښځو د تعددممانعت وکولو او په مسلمانو ملکونو کې په میشتو یهودیانو کې د یوې نه دزیاتو ښځو دکولو رواج تر 1950 پورې په ځای پاتې وو کله چې داسرائیلو دمذهبي امورو یوې محکمې حکم صادر کړو چې د هغې لاندې یې یهودیان له یوې د زیاتو ښځو له کولو څخه منع کړل .

دلته یو په زړه پورې حقیقت د یادونې وړ دی چې د هندوستان د 1975د سر شمارنې د نتیجو له مخې په هندوانو کې له یوې نه دزیاتو ښځو کولو رواج له مسلمانانو څخه زیات وموندل شو .

په اسلام کې دښځو حیثیت په اړه دیوې کمیټې دراپور چې په 1975 کې خپور کړل شو په 66 او 67 صفحو کې لیکلي دي چې له 1951 څخه تر 1961 پورې پدې مینځ کې د تعددازواج اندازه په هندوانو کې 5.06 فیصده او په مسلمانانو کې 4.31 فیصده وه حال دا چې دهندوستاني قوانینو له مخې صرف مسلمانو سړیو ته اجازه ورکړل شوېده چې له یوې څخه زیاتې ښځې وکوي او هیڅ غیر مسلم نشي کولی چې له یوې څخه زیاتې ښځې وکوي په شروع کې په هندوانو کې هم دیوې نه دزیاتو ښځو کولو څه ممانعت نه وو مګر په 1954 کې کله چې هندو میرج ایکټ منظور شو نو د هندوانو لپاره له یوې څخه زیاتې ښځې کول غیر قانوني وګڼل شول او اوس د هندوستان دقوانینو لاندې هندوانو سړیو ته له یوې څخه دزیاتو ښځو کول غیر قانوني دي لکن دهندو دمذهبي کتابونو له مخې داسې هیڅ پابندي هم نشته .

اوس راځئ چې مونږ ددې څېړنه وکوو چې په اسلام کې دیوې نه دزیاتو ښځو کول ولې روا ګڼل کیږي .

قران کریم اجازه ورکوي چې یو سړی دې په یو وخت له یوې څخه د زیاتو ښځو سره واده وکوي .

لکه مخکې چې تېر شول چې قران کریم یوازینی مذهبي کتاب دی چې صرف دیوې ښځې دکولو حکم کوي دا الفاظ د قران کریم په سورت النساء کې په لاندیني آیت کې ذکر شوي دي :

فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً

سورة النساء اية 3

ترجمه : هغه ښځې چې ستاسې خوښې شي له هغوی نه دوه دوه ، دری دری ، څلور څلور نکاح کړئ لکن که تاسې ډارېږئ چې تاسې به د هغوی په مینځ کې عدل ونشی کړای نو بیا صرف یو واده وکوئ .
د قران کریم د احکامو د نازلېدلو څخه وړاندې دښځو دکولو کومه شمېره هیڅ معلومه نه وه سړیو به په یو وخت کې د بې شمېره ښځو سره ودونه کول چې د ځینې خلکو دښځو شمېره به په سلګونو هم وه او اسلام دښځو دزیاتولو آخري اندازه صرف څلور مقررې کړې مګر د دوو،دریو ، څلورو ښځو سره یې واده کول پدې شرط باندې روا کړي دي چې تاسې به دهغوی په مینځ کې انصاف کوئ .
د سورت النساء په 129 آیه کې د الله تعالی فرمان دی :

وَلَن تَسْتَطِيعُواْ أَن تَعْدِلُواْ بَيْنَ النِّسَاء وَلَوْ حَرَصْتُمْ

سورة النساء اية 129

ترجمه : دښځو په مینځ کې پوره عدل کول ستاسې په وس کې ندي که تاسې وغواړئ هم په هغه باندې نشئ قادر کېدلی
ددې مطلب دادی چې دیو نه زیات ودونه کول کوم حکم او قانون ندی بلکه یوه استثناء ده ډېر خلك پدې غلط فهمۍ کې آخته دي چې اسلام په خلکو باندې لازم کړي دي چې دوی باید له یوې نه زیاتې ښځې وکوي ضمناً زه تاسې ته ویل غواړم چې په اسلام کې د امر او نهی (چې څه باید وکول شي او څه ونه کول شي) پنځه درجې دي :

1. فرض : ددې کول لازمي وي (واجب هم همداسې وي)
2.مستحب: کول یې غوره وي
3. مباح: کول یې روا وي

4. مکروه: نه کول يې غوره وي

5. حرام : نه کول يې لازمي وي

تعدد ازواج د مباح په جمله کې دي يعني کول يې صرف روا دي او دا حکم نشي کېدلی چې هغه څوك چې له يوې نه زياتې ښځې يې کړې وي هغه به تر هغه مسلمان څخه غوره وي چې هغه يوه ښځه کړې وي .

دښځو مينځنی عمر له سړيو څخه زيات وي .

د الله تعالى د پيداکولو مطابق تقريباً نارينه او زنانه په يوه اندازه کې پيدا کيږي لکن په ښځو کې د بيمارۍ سره دمقابلې کولو توان او دهغوی قوت مدافعت له سړيو څخه زيات وي او جينکۍ تر هلکانو څخه په قدرتي توګه باندې د جراثيمو سره ډېره مقابله کولی شي ددې امله په وړوکوالي کې تر جينکيانو څخه هلکان زيات مړه کيږي او په جنګونو کې هم د سړيو تباهي له ښځو څخه زياته وي او زنانه څرنګه چې د جنګ ځايونو ته نه ځي نو د امن د خرابېدو په وخت کې ددوی مرګونه تر سړيو څخه لږ وي ، ددېنه علاوه په مختلفو حادثو کې هم دسړيو مرګونه له ښځو څخه زيات وي او په هره معاشره کې دکونډو ښځو شمېره له کونډو سړيو څخه زياته وي دا ټولې خبرې ددې نښه ده چې د ښځو درميانه عمر له سړيو څخه زيات وي .

په هندوستان کې څرنګه چې د پيدايښت نه وړاندې او وروسته د جينکيانو قتل کيږي نو دسړيو شمېره له ښځو څخه ددې امله زياته ده .

دهندوستان شمېره په هغه متعددو ملکونو کې کيږي چېرته چې دښځو شمېره له سړيو څخه کمه ده او دهغې وجه يو دردوونکې حقيقت دی چې په هندوستان کې د نويو پيدا شويو جينکيانو وژنه يو عام رواج دی او هر کال کم او زيات 10 لکه جينکۍ دمور په ګېډه کې ختمول کيږي او دنوي سائنسي آلاتو په مرسته دا معلومېدلی شي چې دمور په ګېډه کې هلك دی که جينۍ که معلومه شي چې جينۍ ده نو دهغې اسقاط کيږي او که په

هندوستان کې دا بد رواج له مينځه لاړ شي نو دلته به هم له سړيو ځخه دښځو شمېره زياته شي.
په سړيو باندې پابندي لګول چې دوی بايد صرف يو واده وکوي دعمل وړ نده:
که په امريکا کې دهرسړي واده وشي نو بيا به هم درې کروړه ښځې بې خاونده پاتې شي په همدې توګه په برطانيه کې ځلويښت لکه، په جرمنۍ کې پنځوس لکه، او په روسيه کې نوي لکه ښځې له سړيو ځخه زياتې دي چې دوی به دخپل کور نه محرومې شي.
تاسې فرض کړئ که په امريکا کې پدې ښځو کې چې دخاوند دکولو نه محرومې پاتې شوې دي يوه زما او يا ستاسې خور ده نو دهغې په وړاندې به صرف دوه لارې وي يا دا چې دکوم واده کړي سړي سره واده وکوي او دوهمه ښځه يې شي او يا دعامو خلکو دلاس دلوبو سامان شي او پدې توګه باندې خپل ژوند وکوي نو يقيناً دښې مفکورې لرونکې ښځه به دا خوښه کړي چې له يو داسې سړي سره واده وکوي چې مخکې نه يې بله ښځه وي هو! دا حقيقت هم په خپل ځای دی چې ښځه په خپل ژوند کې د خاوند دوهمه ښځه نشي برداشت کولی مګر اسلام پداسې صورت کې ښځو ته دا خبره ضروري کړېده چې هغوی دې دا وړوکې قرباني ورکړي او دخير خواهي اظهار دې وکوي او خپلې نورې خويندې (د واده نه پاتې ښځې) دې په غلطو لارو باندې له تللو ځخه وساتي کوم چې ډېر لوی نقصان دی.
دیو واده کړي سړي سره واده کول لدې ځخه غوره دي چې د ډېرو خلکو لپاره لکه دلوبو سامان داسې استعمال شي.
په غربې معاشره کې د هرسړي لپاره ګرل فرنډ (جينۍ ملګرې) ساتل او بېغير له واده ځخه دسړي او ښځې تعلقات کومه نوې خبره نده مګر پداسې صورت کې ښځه يو بې سرنوشته ژوند کوي او دهغې پداسې صورت کې هېڅ قسم تحفظ نه وي مګر په هغه معاشره کې سړی نشي کولی دوهم واده

وکوي حال دا چې که دا صورت عملي کړل شي چې یو سړی دوه ودونه وکوي پدې صورت کې ښځه کولی شي یو دعزت څخه ډك ژوند وکوي اسلام صرف دښځې دعزت دخوندي ساتلو لپاره سړیو ته اجازه ورکړېده چې له یوې څخه زیاتې ښځې وکوي ترڅو ځینې ښځې دځپل کور له لرلو څخه محرومې پاتې نشي د یوې نه د ډېرو ښځو کولو نورې وجې هم شته لکن مهم مقصد یې صرف د ښځې دعزت ساتنه ده او بس .

## دښځو لپاره په یو وخت کې له یوه نه دزیاتو خاوندانو د کولو مسئله :

پوښتنه: کله چې سړي ته اجازه ورکړل شوېده چې په یو وخت کې له یوې نه زیاتې ښځې وکوي نو ښځې ته ولې اجازه نده ورکړل شوې چې په یو وخت کې له یو نه زیات مېړونه (خاوندان) وکوي

ځواب : ډېر خلك چې په هغوی کې مسلمانان هم شامل دي پدې اړه پوښتنه کوي چې سړیو ته د یوې نه دزیاتو ښځو کولو اجازه ورکړل شوېده او ښځې دیو نه دزیاتو خاوندانو دکولو له حق څخه محرومې شوې دي .

دا یو منل شوی حقیقت دی چې د اسلامي معاشرې بنیاد په انصاف او برابرۍ باندې اېښودل شوی دی الله تعالی نر او ښځې په برابره درجه کې پیدا کړي دي لکن د دواړو صلاحیتونه او ذمه واریانې له یو بل نه بدلې دي په همدې توګه باندې نر او ښځه په جسماني او ذهني توګه باندې هم له یو بل څخه بدل دي نر او ښځه داسلام په نظر کې برابر دي مګر یو شی ندي په قران کریم کې په سورت النساء کې دهغه ښځو لست ښکاره کړل شوی دی چې دهغوی سره مسلمان واده نشي کولی (له 22 نه تر 24) پورې دا

خبرې شوې دي او په هغه ښځو کې هغه ښځه هم شامله ده چې له مخکې نه
یې واده شوی وي.
لاندې له دلیلونو سره ددې خبرې څېړنه کیږي چې په اسلام کې ښځو ته له یو
نه دزیاتو خاوندانو دکولو اجازه ولې نده ورکړل شوې.

1. که یو سړی دیوې ښځې سره واده وکوي نو ددې ودونو په نتیجه کې د پیدا شویو ماشومانو دمور پلار په پېژندنې کې هیڅ مشکل نشي راتلی او که ښځه د یو څخه له زیاتو خاوندانو سره واده وکوي نو ددېنه دپیدا شوي ماشوم د مور پېژندنه خو به خامخا کیږي لکن دا چې پلار یې څوك دی پدې اړه معلومات نشي کېدلی او اسلام دماشوم دمور او پلار دواړو پېژندلو ته ډېر اهمیت ورکوي د نفسیاتو ماهرین پدې خبره متفق دي چې داسې ماشوم چې هغه ته دمور پلار په خاصه توګه دپلار په اړه معلومات نه وي چې هغه څوك دی هغه دسختې ذهني بیمارۍ ښکار کیږي د داسې ماشومانو ماشوم والی ټول د بدو حادثو څخه عبارت وي په مشاهده کې راغلې ده چې د طوائفو اولادونه اکثریت د ښه صحت او ښه ماشوم توب څخه بې برخې وي که داسې ماشومان په مکتب کې داخلول کیږي د پلار په ځای دچا دنوم لیکلو په وخت کې هم مشکلات مخې ته راځي دا خبره صحیح ده چې نني سائنس د معائناتو په مرسته مونږ ته دا آسانه کړېده چې دکوم ماشوم مور او پلار معلوم کړو نوځکه پدې خبره کې اوس لکه دمخکې په توګه باندې سختوالی ندی پاتې شوی لکن که طبیعت ته وکتل شي هیڅ سلیم الطبع انسان به داخوښ نه کړي چې له یوې داسې ښځې سره واده وکوي چې دهغې بل خاوند هم وي الله تعالی په ځنګلي ځناورو کې هم دا حس پیدا کړی دی چې یومونث ځناور په یو وخت کې صرف یو مذکر ځناور له ځان سره اوسېدلو ته پرېږدي لکه زمري او داسې نور او په هغه وخت کې هماغه ځناور ددې دبچیانو پلار وي نوچې

ځناور داسې شرکت نشي برداشت کولی نو انسان خو باید په درجه اولی سره دداسې شرکت څخه ځان وساتي .

2. په سړيو کې په فطري توګه باندې له يوې نه دزياتو ښځو طلب اوخواهش موجود وي او دښځې فطرت ددېنه بالکل په چپه دی .

3. په حياتياتي توګه باندې په سړي کې صلاحيت موجود وي چې هغه له يو نه دزياتو ښځو سره ژوند وکولی شي مګر که ښځه د متعددو سړيو سره واده وکوي نومعمولي ژند کول به هم ممکن نه وي دخپلې مياشتنۍ دورې له امله هغه ترخوورځو پورې د يو بد حالت سره مخامخ وي چې په هغه وخت کې ددې ذهني کيفيات او عمومي رويه په پوره توګه باندې متاثره وي ددې امله د متعددو سړيو سره په ښه طريقه ژوند کول ددې لپاره ممکن نه وي .

ځکه داسې ښځه بايد دځو کسانو (خپلو خاوندانو) سره جنسي اختلاط وکوي نو ددې امله به دجنسي بېماريانو خطره دېته له عامې ښځې نه څو چنده زياته وي او پدې صورت کې دا بيماري ددې خاوندانو ته هم انتقال کېدلی شي هغوی چې صرف په همدې ښځه باندې يې اکتفاء کړې وي او له نورو ښځو سره يې څه تعلق هم نه وي .

دا خو هغه خبرې دي چې مونږ پرې پوهېږو او زمونږ دمشاهدې نه مونږ ته را رسېدلي دي مګر الله تعالی څرنګه چې حکيم دی داسې ډېرې نورې بدۍ به هم دهغه په علم کې وي دکومو په بنياد باندې چې الله تعالی ددې کار (چې يوه ښځه متعدد مېړونه وکوي) نه منع کړېده .

## حجاب يا پرده

پوښتنه :اسلام په ښځو باندې حجاب مسلط کړی دی او پدې سره يې دهغې قدر او اهميت کم کړی دی ؟

ځواب: په نننۍ سیکولر میډیا کې دښځې مقام او مرتبه ډېر زیات د تنقید لپاره هدف جوړول کیږي او ددې کوشش کیږي چې حجاب یا اسلامي جامه دښځې دغلامي او په هغې باندې دجبر نښه جوړه کړي وړاندې لدې چې مونږ دحجاب په اړه د پردې شاته داسلام دحکمت څېړنه وکوو راځئ چې مونږ وګورو چې د اسلام نه وړاندې د ښځې حیثیت څه وو ؟
مخکې دښځو حیثیت دزړه دخوشحالولو لپاره دلوبو دسامان څخه زیات نه وو .
د لاندې مثالونوڅخه په ښه توګه باندې اندازه لګول کیږي چې په مخکنیو تهذیبونو کې دښځې حیثیت ډېر پس مانده وو او اکثر به هغوی د انسان دبنیادي حقونو څخه محرومې کېدلې .

# بابلي تهذیب

دبابلې قوانینو لاندې ښځه یو ډېر سپك او بې حیثیته مخلوق وو او هغې ته هیڅ قسم حقونه ورکړل شوي نه وو که کوم سړي کومه ښځه مړه کوله نو هغې ته دسزا ورکولو په ځای به دهغه ښځې ته دمرګ سزا ورکوله کېدله .

# یوناني تهذیب

یوناني تهذیب په پخوانیو تهذیبونو کې ډېر مهذب او عالیشان ګڼل کیږي مګر پدې عالیشان تهذیب کې هم ښځې دټولو حقونو څخه محرومې ساتل کېدلې اوهغه به سپکې ګڼلې کېدلې په یوناني دیو مالاکې یو "تصوراتي ښځه" پنډورا د ټولو انساني مصیبتونو بنیاده وګڼله شوه د یونانیانو په وړاندې ښځه د ادنی درجې مخلوق دی او د سړیو په مقابله کې کمترینه ده او په یوناني معاشره کې ښځې ته د عصمت او پاکي مرتبه حاصله وه ګواکې

وروسته یونانیان دجنسي خواهشاتو غلامان شول او فحاشي دیوناني معاشرې یو نه بېلېدونکی جز جوړ شو .

## رومي تهذیب

کله چې رومي تهذیب په خپل عروج باندې وو هغه وخت هم د ښځې حیثیت دا وو چې دهغې خاوند ته دا اختیار حاصل وو چې کله هغه غوښتي وای هغه یې مړه کولی شوای بدکاري او بې پتي او عریاني ددې تهذیب ښکاره خصوصیتونه شمار کېدل .

## مصري تهذیب

دمصریانو په وړاندې ښځه د بدیو ریښه او د شیطان نښه وه .

داسلام نه وړاندې عرب

د اسلام نه وړاندې به ښځې په معاشره کې د سپك چلند سره مخامخ کېدلې ماشومانې به چې اکثر پیدا کېدلې نو ژوندۍ به خښول کېدلې .

داسلام له راتلو وروسته

اسلام په لمړي ځل ښځې ته دعزت نه ډك ژوند او لوړه مرتبه ورکړه او اسلام له ښځې نه غوارې چې هغه لدې لوړې مرتبې څخه ونه غورځېږي .

سړیو ته دپردې کولو حکم

په عامه توګه باندې فکر کېږي چې حجاب صرف د ښځو لپاره دی لکن په قران کریم کې الله تعالی له ښځو څخه وړاندې سړیو ته دپردې کولو حکم کړی دی په سورت النور کې الله تعالی فرمایي :

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ

سورة النور اية 30

ترجمه : ووایه سړیو ته چې دوی دې خپل نظرونه ښکته ساتي او دخپلو شرمګاهونو دې حفاظت وکوي

کله هم چې کوم سړی کومه ښځه ویني نو که هغې په زړه کې کوم بد اوشیطاني خیال راځي نو هغه ته په کار ده چې خپل نظر ښکته کړي.

دښځو لپاره پرده

په سورت النور کې د پورتني آیت نه په وړاندې آیت کې الله تعالى فرمايي :

وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء

سورة النور اية 31

ترجمه : او ووايه مسلمانو ښځو ته چې دوی دې ښکته کړي خپل نظرونه او دخپلو شرمګاه حفاظت دې وکوي او ښکاره دې نه کړي خپل سنګار مګر هغه چې پخپله ښکاره کیږي او را خپاره دې کړي خپل ټکري په خپلو سینو باندې او ندې ښکاره کوي خپل سنګار مګر ددې خلکو په وړاندې خاوند، پلار، خسر (دخاوندپلار) ، زامن، دخاوند زامن (دبلې ښځې نه) ، ورونه، وریرونه، خوریونه، زنانه ، هغه مریونه چې دوی یې مالکانې وي، هغه

خادمان چې خواهش یې نه وي، هغه ماشوم چې د زنانه له پټو خبرو څخه خبر نه وي.

دحجاب لپاره شپږ اصول :

د قران کریم او سنتو له مخې دحجاب بنیاد په بنیادي توګه باندې په شپږو معیارونو او اصولو باندې دی .

دحجاب حدونه

i. لمړی اصل دادی چې په پرده کې باید دبدن کومه برخه پټه کړله شي دا معیار د نر اوښځې لپاره بدل دی نارینه باید له ناف (نو) څخه تر ګونډو پورې خپل جسم پټ وساتي او ښځه باید د لاسونو او پښو څخه علاوه نور ټول بدن پټ وساتي بعض علماء وایي ښځه باید خپل مخ پټ وساتي او بعض بیا وایي چې نه .. که مخ پټ نه وي نوخیر دی باقي نور پنځه اصول دنر اوښځې لپاره یو قسم دي

ii. لباس باید دومره تنګ نه وي چې جسماني اعضاء پکې ښکاره شي .

iii. لباس باید داسې باریك او نری نه وي چې جسم پټ نشي کړلی

iv. لباس باید داسې ښائسته نه وي چې دجانب مقابل توجه ځان ته جلب کړي .

v. دنارینه وو لباس باید له ښځو او دښځو لباس باید له سړیو سره یو قسم نه وي او نه مشابهت ولري .

vi. دمسلمانانو لباس باید داسې نه وي چې دکافرانو له لباس سره مشابهت ولري .

## دحجاب نور لوازمات

دلباس نه علاوه اخلاقي رویه ، سلوك کردار هم دحجاب په لوازماتو کې شامل دي دحجاب لپاره صرف د پرده ناك لباس د تقاضو دپوره کولو لپاره

نيت هم پاك وساتل شي پدې ډول بايد چال چلند ، خبرې دا ټول دحجاب برخه ده .

حجاب ښځې ته ساتنه ورکوي

ښځو ته حجاب ولي ضروري دی ددې ذکر په قران کريم کې په سورت احزاب کې شوی دی :

الله تعالی فرمايي :

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا

سورة احزاب اية 59

ترجمه : ای نبي ووايه خپلو بيبيانو ته او خپلو لورانو ته او مومنو زنانه وو ته چې هغوی د را وپيچي په خپلو ځانونو باندې خپل ټکري او دخپل ټکري پلو دا ډيره ښه طريقه ده ترڅو هغوی و پيژندل شي او ضرر ورته ونه رسول شي او دی الله تعالی معاف کونکی او رحم کونکی .

د قران کريم فرمان دی چې په ښځو باندې پرده کول ددې لپاره ضروري کړل شوي دي چې خلکو ته معلومه شي چې دا ښځه پاکه ده او په غلطه لاره باندې ددې روانول مشکل دي .

## د دوو غبرګو خويندو مثال

پورتنۍ حقيقت ددې مثال سره په ښه توګه باندې واضح کيږي تاسې فرض کړئ چې دوه غبرګونې خويندې دي کومې چې دواړه په يو قسم ښائسته دي بهر په کوڅه کې روانې دي يوه مکمله په پرده کې ده چې ټوله په اسلامي حجاب او لباس باندې پټه ده او دوهمه يې په غربي لباس باندې پټه ده چې مني سکرټ (يوه مختصره جامه چې صرف دبدن بعض برخې پټولی شي) او

يا يې نيكر آغوستى وي دکوڅې په يو طرف کې يو بدعمله ځوان چې له ښځو سره بد تميزي کوي ولاړ وي او ښځو ته اوازونه ورکوي نو اوس تاسې فيصله وکوئ چې هغه به دخپل مقصد لپاره پدې دواړو کې کومه يوه غوره کوي يقيناً چې دهغه ددې خبيث نيت نښه به هغه خور وي چې په مغربي لباس کې وي ځکه دهغې خپل جسم ددې خبرې دعوت ورکوي نو بيا ولې هر بد نظر پدې باندې پرې نه وزي په قران کرمي کې چې پرده او حجاب دښځو لپاره دنجات او حفاظت ذريعه ګڼله شوېده په ځاى ده .

دښځو سره په زور باندې بدعلمي کولو ته دمرګ سزا .

په اسلامي قوانينو کې هغه چاته چې له کومې اجنبي ښځې سره په زور سره بدعملي وکوي هغه ته د مرګ سزا ورکوله کيږي پدې سخته سزا باندې هم کله دحيرانتيا اظهار کيږي او ځينې خلك اسلام بې رحمه او ظالم مذهب ګڼي ما دا پوښتنه دسلګونوغير مسلمو څخه کړېده چې خداى ناخواسته که ستاسې دښځې يا خور سره څوك په زور دا بد عملي وکوي او تاسې ددې عدالت لپاره قاضي مقرر کړل شى او دا مجرم ستاسې مخې ته د فيصلې لپاره راوستل شي نو تاسې به هغه ته څه سزا ورکړئ دټولو وينا وي چې مونږ هغه بيا په زمکه باندې ژوندى نشو ليدلى بلکه بعض خو پداسې صورت کې وايي چې هغه به مونږ پداسې عذاب کې ساتو چې په ورو ورو مړ شي ، دايوه عجيبه تماشه ده چې که څوك ستا دمور، خور او ښځې سره په زور بدعملي وکوي نو تاسې هغه ته دمرګ سزا ورکول غواړئ او که دبل چا له خور او لور سره دا کار وشي نو بيا دمرګ سزا ته ظالمانه ويل کيږي .

ښځو ته دلوړې مرتبې ورکول د غربي ميډيا له لورې صرف يو فريب دى .

ښځو ته دازادي ورکول دمغربي ميډيا صرف يو فريب دى او درواغ دي دا د ازادي نعره صرف د ښځې دجسم دحاصلولو لپاره کيږي دې تش په نوم آزادي خو هغه پايمال کړېده او هغه يې دخپل عزت او وقار څخه محرومه کړېده مغربي معاشره خو دعوه کوي چې ښځې ته يې لوړه مرتبه ورکړېده

مګر په حقيقت کې په هغه معاشره کې دښځې اهيمت د ګرل فرنډ (ملګرې جينۍ) او سوسائټي ګرل (دمعاشرې جينۍ) نه نور څه زيات ندی .
دهوس د تابعدارانو او دجنسي تاجرانو د آرټ او کلچر په نوم سره هغه دخپلو لاسونو لپاره دلوبو سامان جوړ کړی دی .
په امريکا کې دښځو سره دبدعملي واقعې تر هرځای نه زياتې دي .
دامريکا رياستونه په پر مخ تلليو ملکونو کې شمارل کيږي مګر ددې سره سره هلته دښځو سره دبدعملي کېدلو واقعات له ټولې دنيا څخه زياتې دي
د ايف بي آر دراپور له مخې په 1990 کې په امريکا کې هره ورځ په مينځنۍ اندازه باندې د 1756 ښځو سره بدعملي شوې وه او بيا وروسته د يو راپور له مخې ددې ښځو شمېره 1900 وه مګر ددې سره دکال تاريخ نه وو ليکل شوی کېدی شي چې دا د 1992 او يا 1993 ذکر وي .
تاسې فرض کړئ په امريکا کې که ښځې اسلامي او شرعي حجاب آغوستل شروع کړي او که بيا دکوم نارينه نظر په هغې باندې پريوزي هغه فوراً خپل نظر ښکته کړي او ددېنه وروسته هم که کوم سړی له کومې ښځې سره بدعملي کوي هغه ته دمرګ سزا واوروله شي نو پوښتنه داده چې ددې انتظام نه وروسته به په امريکا کې د ښځو سره د بدعملي کولو واقعات زيات شي، او که به په همدې اندازه باندې پاتې شي او که کم به شي ؟ يقيناً چې کم به شي .
د اسلامي قوانينو دعملي کولو سره دښځو سره دبدعملي واقعې کميږي
بېشکه د اسلامي قوانينو دعملي کولو نتيجې ډېرې مثبتې وي ددنيا په هره برخه کې که هغه امريکا وي که آروپا وي يا کومه بله برخه که هلته اسلامي قانون نافذ کړل شي نو ټول خلك به دسکون تنفس وکوي د پردې له امله په ښځه باندې هېڅ نقصان نه راځي بلکه دهغې په عزت کې زيادت راځي او دا دښځې د عصمت او پاکي نښه وي .

# آیا اسلام د تورې په زور باندې خپور شوی دی ؟

پوښتنه: اسلام ته دامن مذهب څنګه ویل کېدلی شي چېرته چې هغه د تورې په زور باندې خپور کړل شوی دی .

ځواب : په ځینو غیر مسلمو حلقو کې دا تاثر ډېر عام دی چې که د اسلام دخپرولو لپاره زور او طاقت نه وای استعمال شوی نو اسلام به دومره په تېزۍ سره نه وو خپور شوی ا و نه به یې په پیروانو کې دومره زیادت راغلی وو لاندې د وړاندې کړل شویو دلائلو په مرسته به دا حقیقت ثبوت ته ورسیږي چې اسلام د تورې په زور نه بلکه د رښتون ولي په زور باندې خپور شوی دی او خلکو هغه د رښتون ولي له امله منلی دی .

## د اسلام مطلب

د اسلام مطلب امن او سلامتي ده یعني د سلام له لفظ نه جوړ شوی دی ددې مطلب دالله تعالی د رضا په وړاندې د تسلیم سر ښکته کول هم دي پدې حواله باندې اسلام دامن بیرغ پورته کونکی مذهب دی او دهغې حاصلول دخالق کائنات د رضا په وړاندې د سر ښکته کولو سره ممکن دي

## کله کله د زور استعمال هم ضرور وي

په دنیا کې اوسیدونکی هر انسان د بیل مزاج او طبیعت مالك وي او ټول خلك امن خوښوونکي نه وي او د داسې خلکو کمبود نشته چې هغوی دخپلو شومو مقاصدو لپاره د دنیا امن خرابول غواړي نو ددې امله کله کله دامن

د راوستلو لپاره د زور استعمال ضروري وي او ددې لپاره خو دپولیسو محکمه جوړه شوېده ترڅو چې د معاشرې ددښمنانو د کارونو مخه ونیسي اسلام د امن د خپرولو جنډه پورته کوي او خپلو پیروانو ته نصیحت کوي چې هرچېرته چې ظلم وي دهغې خلاف جنګ وکوئ او ښکاره خبره ده چې دظلم په خلاف د جنګ کولو لپاره د زور استعمال ضروري دی په اسلام کې صرف دامن او انصاف لپاره د زور داستعمالولو اجازه ده .

# د مورخ ډي لیسي اولیری رایه

ددې غلط تصور چې اسلام د تورې په زور باندې خپور شوی دی جواب یو انګریزي مورخ ډي لیسي اولیری په خپل کتاب Islam at the Cross Road کې په ډېره ښه توګه باندې ورکړی دی ددې کتاب په 8 صفحه کې هغه لیکي

تاریخ په هر حال کې دا حقیقت خلاص کړی دی چې د مسلمانانو په اړه دا رواجي د تعصب په بناء باندې جوړې قصې چې مسلمانانو د لپونتوب په څېر په دنیاکې فتوحات وکول او په زور سره یې د فتح شویو علاقو خلک مسلمانان کړل ټولې نا معقولې او بې فایدې افسانې دي چې مورخین یې تکرار کوي .

# په هسپانیه کې د اسلامي حکومت 800 کاله

مسلمانانو په هسپانیه کې 800 کاله حکومت وکولو مګر د غیر مسلمو رعیتونو دمسلمان کولو لپاره یې کله هم ریاستي زور استعمال نه کړو مګر وروسته راغلیو مسیحي فاتحینو د مسلمانانو پوره صفایي وکوله او یو

داسې وخت هم راغلو چې هلته یو مسلمان هم پاتې نه شو چې هلته بیا کله اذان هم نه کېدو .

## یو کروړ څلویښت لکه عربان پیدائشي عیسایان دي

په عربي دنیا باندې د برطانیې او فرانس د یو څو کلونو نه بغیر د 1400 کاله نه مسلمانان حاکمان دي لکن دهغې سره سره پدې ملکونو کې یو کروړ څلویښت لکه قبطي عیسایان یعني په نسل نسل کې عیسایان پاتې دي دا خبره بالکل ښکاره ده چې که مسلمانانو حاکمانو زور استعمال کړی وای نو یو عرب به هم غیر مسلم نه وو پاتې شوی .

## دهندوستان له 80 فیصده څخه زیات غیر مسلم نفوس دی

په هندوستان باندې دمسلمانانو دحکومت وخت تر 1000 کاله کم ندی هغوی بغیر دبل چا دشرکت نه د هندوستان مالکان وو او دهغوی لپاره هېڅ مشکل نه وو چې هغوی هر هندو په زور مسلمان کړی وای لکن نن د 80 فیصد نه زیات هندوان ددې خبرې ثبوت دی چې مسلمانانو حاکمانو دخپلو مذهبي رویو څخه کار اخستی او مذهبي ازادي یې روانه ساتلې وه .

# د اندونیشیا او ملیشیا مسلمان

اندونیشیا په ټوله دنیا کې د مسلمان نفوس له مخې تر ټولو لوی ملك دی په همدې توګه په ملیشیا کې دمسلمانانو اکثریت دی داعتراض کونکو څخه پوښتنه کېدلی شي چې ددې دواړو ملکونو دخلکو لپاره کوم فوجونه استعمال کړل شوي وو چې دا ملکونه یې فتح کړي وو؟

# دافریقا مشرقي ساحل

په همدې ډول د افریقا په مشرقي ساحل باندې هم اسلام له تېزۍ سره خپور شو که د اسلام دخپرېدلو ذریعه صرف توره وای نو د افریقا په مشرقي ساحل باندې کومو اسلام فوجونو حمله کړې وه ؟

# د تهامس کارلائل رایه

مشهور مورخ تهامس کارلائل په خپل کتاب "هیروز اینډهیروورشپ" کې دا موضوع حواله جوړه کړېده او هغه لیکي
د اسلام په خپرېدلو کې توره خامخا استعمال شوېده لکن دا توره څنګه وه؟ یوه نظریه داسې ده چې هره نوې نظریه په اول کې دیو کس په ذهن کې راځي هلته لوئیږي او پدې باندې په اول کې صرف یو شخص یقین لري یعني پدې اړه یو شخص له ټولو انسانانو څخه مختلف وي که هغه په لاس کې توره واخلي او ددې لارې نه د خپلې نظرې دخپرولو کوشش کوي نو دا به بې فایدې کار وي لکن که ستاسې په نظریه کې زور وي نو دا پخپله خپرېږي

# په اسلام کې زور نشته

دا خبره خو په تاريخي توګه باندې صحيح ده چې داسلام دتورې په زور باندې ندی خپور شوی لکن که مسلمان د تورې استعمال ته تيار هم شي نو داسې نشي کولی ځکه چې اسلام ددې خبرې ممانعت کړی دی په قران کرم کې په سورة بقره کې الله تعالی فرمايي

لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ

سورة بقره اية 256

ترجمه د دين په معامله کې زور نشته صحيح خبره له غلطې خبرې نه ښکاره کړل شوېده .

# د ربښتون ولي توره هم پرې کول کوي

دا خبره ثابته شوېده چې حکمت او هوښياري هغه توره ده چې زړونه فتح کوي او ذهنونه مسخر کوي په قران کريم کې الله تعالی په سورة النحل کې فرمايي

ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ

سورة النحل اية 125

ترجمه د خپل رب لارې ته خلك په حکمت او بهترين نصيحت سره را وغواړه او له هغوی سره په بهترينه طريقه سره خبرې وکوه بېشکه ستا رب

له خپلې لارې څخه ګمراه خلك ډېر ښه پېژني او هدایت موندونکي خلك هم ښه پېژني.

## په نیمه پېړۍ کې دمذهبونو د پیروانو دزیاتېدلو څېړنه

د ټولې دنیا په سویه باندې مشهورې نشریې ریډر ډائجسټ په 1986 کې یو مضمون خپور کړو چې په هغې کې د 1934 نه تر 1984 پورې پدې نیمه پېړۍ کې ددنیا دمذهبونو دپیروانو د زیاتېدلو تعداد او شمېره ورکړل شوې وه دا مقاله پلین ټهر ت Plain Turth نومې نشریې هم خپره کړې وه دهغې له مخې د اسلام د حقیقت د قبلوونکو شمېره تر هرچا څخه زیاته وه او دهغې اضافي اندازه 235 فیصده وه او دعیسائیت په اضافه والي کې 47 فیصده زیادت راغلی وو پوښتنه داده چې په دې زمانه کې په کوم ملك کې جنګ شوی وو چې په نتیجه کې یې له لکونو څخه زیات خلك د اسلام په دائره کې داخل شول ؟

## په آروپا او امریکاکې تر ټولو نه په تېزۍ سره خپرېدونکی مذهب

دا دریکارډ خبره ده چې نن په امریکا او آروپا کې اسلام د ټولو مذهبونو نه زیات په تېزۍ سره خپرېږي آیا اعتراض کونکي به ددې خبرې جواب ورکړي چې په آروپا او امریکا کې د اسلام قبلونکو په سر باندې کومه توره اېښودل شوې ده چې خلك دومره په تېزۍ سره بدلیږي .

# د ډاکټر جوزف آدم پئرسن تاثرات

د ډاکټر جوزف آدم پئرسن رایه صحیح ښکاره کیږي دهغه وینا ده چې کوم خلك پدې خبره باندې خفه دي چې چېرته اتومي طاقت کومه ورځ دعربو لاس ته ورنشي هغوی ددې حقیقت ادراك ندی کړی چې دهغوی لاس ته د اسلام اتوم بم هغه ورځ ورغلی دی چې کله محمد صلی الله علیه وسلم دنیا ته تشریف راوړی وو .

# صرف مسلمان دهشت ګرد او انتها پسند ولې وي؟

پوښتنه: آخر ولې داسې وي چې چېرته چې د دهشت ګردۍاو انتها پسندۍ واقعې وي په هغې کې صرف مسلمان ملوث وي ؟

ځواب : کله چې دمذهب یا عالمي معاملاتو په اړه باندې خبرې کیږي بالواسطه او یا بلا واسطه دا پوښتنه دمسلمانانو مخې ته ضرور راځي دا الزام د غلطو اطلاعاتو او د درواغو افتراء ګانو سره ښایسته کول کیږي او په میډیا باندې یوه بې بنیاده پرا پیګنډه چلیږي دکوم له امله چې بیا له مسلمانانو سره په دنیا کې بېله رویه کیږي او په هغوی باندې ظلم او زیاتی کیږي تاسې ته به په امریکا کې د اوکلا بمي چاودنه یاده وي چې په هغې کې فوراً بغیر دکومې څېړنې د بم شاته د مډل ایسټ سازش یو داستان جوړ کړو حال دا چې کوم مجرم چې ورروسته ونیول شو هغه د امریکا یو فوجي وو.

راځئ چې مونږ د بنسټ پالنې، دهشت ګردي او انتها پسندي څېړنه وکوو .

# د بنسټ پالنې تعریف

د بنسټ پالنې تعریف دادی چې هر هغه کس چې دکومې عقیدې او نظریې پیروان وي چې دهغې عقیدې په بنیادونو باندې په سختۍ سره عمل وکوي دېته بنسټ پال وایي دیو ډاکټر لپاره ددې ضرورت دی چې هغه د علم الطب په بنیادي خبرو باندې په پوره توګه خبر وي او په هغو باندې له سختۍ سره عمل وکوي په بل تعبیر مونږ ویلی شو چې هغه باید په علم الطب کې بنسټ پال وي په همدې ډول د ریاضي دیو ښه ماهر لپاره ضروري ده چې هغه د ریاضي په بنیادي اصولو باندې خبر وي او په هغو باندې لفظاً او معنی عمل وکوي او هغه باید په ریاضي کې بنیاد پرست (بنسټ پال) وي او دیو ښه سائنس دان لپاره ضروري ده چې هغه د سائنس په بنیادي خبرو باندې په پوره توګه باندې پوه وي او صرف دا نه بلکه په هغو باندې عمل هم وکوي یعني سائنس دان باید په سائنس کې بنیاد پرست (بنسټ پاله) وي

# ټول بنسټ پالونکي یو شان نه وي

ټول بنیاد پرستان (بنسټ پالونکي) په یوه پیمانه باندې نشي پیمانه کېدلی او نه خو ټول بنسټ پالونکي په ښو او بدو خاونو کې تقسیم کېدلی شي دکوم بنیاد پرست ښه والی او بدوالی دهغه تر متعلقې شعبې پورې دی او دهغه تر عمل پورې دی په کوم کې چې هغه بنیاد پرست دی یو بنیاد پرست (بنسټ پاله) غل دجامعې لپاره د تکلیف او زحمت سبب وي او جامعه هغه نه خوښوي او له بلې خوا یو بنیاد پرست ډاکټر دمعاشرې لپاره خدمت کوي او په معاشره کې هغه ته داحترام مرتبه حاصله وي .

# زه پدې فخر کوم چې یو بنسټ پاله مسلمان یم

زه یو د کلکې عقیدې لرونکی مسلمان یم او دالله تعالی په فضل او کرم سره د اسلام په بنیادي خبرو باندې پوهېږم او په هغې د عمل کولو پوره کوشش کوم او دیو رښتوني مسلمان په بنیاد باندې د بنسټ پاله مسلمان په کېدلو باندې اعتراف کوم او پدې اړه د هېڅ قسم شرم او خجالت احساس کول ندي په کار زه په خپل بنسټ پاله مسلمان کېدلو باندې فخر کوم ځکه چې زما یقین دی چې د اسلام بنیادي اصول نه صرف د انسانیت بلکه د دنیا د ټولو مخلوقاتو لپاره فایده من دي د اسلام یو هم داسې اصل نشته چې هغه دانساني نوع د ښه والي خلاف وي ډېر خلك د اسلام په اړه دشکونو ښکار شوي دي او فکر کوي چې داسلام ځینې تعلیمات په انصاف باندي ندي بنا شوي دا فکر صرف داسلام په اړه دپوره علم نه لرلو نتیجه وي که اسلامي تعلیمات له خلاص ذهن سره وڅېړل شي نو دې حقیقت ته انسان رسیږي چې اسلام په اجتماعي او انفرادي توګه باندې فایده من دی .

د بنسټ پالنې اصطلاح په لمړي ځل کې د امریکایانو لپاره استعمال شوې وه .

د انګریزي د مشهوراو معروف قاموس **Websters** له مخې فنډا منټلزم (بنسټ پالنه) یو تحریك وو کوم چې د 20 پیړۍ په اولو وختونو کې په امریکا کې د پروټسټنټ په حلقو کې را پورته شو دا دنوي والي خلاف یو رد عمل وواو ددوی زور پدې خبره وو چې بائبل نه صرف دعقائدو او اخلاقیاتو له غلطیانو څخه بلکه د تاریخ په حواله باندې له غلطیانو څخه هم پاك دی او د هغوی عقیده داوه چې بائبل حرف په حرف د الله تعالی په الفاظو باندې مشتمل دی په همدې ډول د تاریخي حوالو له مخې د بنیاد پرستي اصطلاح لمړی ځل د عیسایانو د یوې ډلې لپاره استعمال کړل شوه چې دهغوی

عقیده داوه چې بائبل کې کوم تحریف او تبدیلې نده شوې او دا هو به هو
د الله تعالی په الفاظو باندې مشتمل کتاب دی.
د اکسفورډ قاموس له مخې دکوم مذهب په خاصه توګه اسلام په اولنیو او
بنیادي اصولو او نظریاتو باندې عمل کولوته بنیاد پرستي وایي مګر نن
اهل مغرب بنیاد پرستي صرف مسلمانانو او اسلام ته منسوبه کړېده او د
دهشت ګردي تعلق یې له اسلام سره جوړ کړی دی.

# هرمسلمان باید دهشت ګرد وي

زه پدې خبره یقین لرم چې هر مسلمان ته په کار ده چې دهشت ګرد شي
دهشت ګرد هغه وي چې دهغه شخه ټول خلك وډار شي او وېره ترې وکوي
لکه غل، مجرم چې پولیس ووینې نو هغه وډار شي نو دهغه لپاره پولیس
دهشت ګرد دی پدې توګه باید هر مسلمان د معاشرې د دښمنانو لپاره
دهشت ګرد وي یعنې غل، ډاکو، او د مسلمانانو دعزتونو پایمال کونکی
چې مسلمان ووینې هغه باید ترې وډار شي دا خبره صحیح ده چې په نني
دور کې د دهشت ګردي نه مراد هغه شخص وي چې دخپلو کارونو له امله
په خلکوکې وېره پیدا کړي لکن رښتونی مسلمان هغه دی چې د معاشرې
دښمنان ترې وډار شي او دهغوی لپاره د دهشت ګردۍ نښه جوړه شي لکن
د بې ګناه ښاریانو لپاره دده وجود دامن او ساتنې ذمه وار وي.
د یووخت دهشت ګرد دبل وخت دملك او وطن هېرو(اتل) جوړېږي
د ازادي نه وړاندې چې کله په بر صغیر پاکستان او هندوستان باندې د
انګریزانو واکمني وه نو ددې ازادي لپاره جنګ کونکي چې هغوی د
برطانوي حکومت په وړاندې خپل دتسلیم سرونه ښکته نه کړل نو هغوی ته
دهشت ګرد وویل شول او کله چې انګریزي واکمني ختمه شوه نو همدا
دهشت ګرد "محب وطن" ومنل شول یعنې په یوقسم عمل باندې یو

حکومت هغوی ته دهشت ګرد او بل حکومت هغوی ته د حب الوطن انعام ورکړو په همدې ډول هغه خلکو چې فکر کاوه چې په هندوستان باندې د انګريزانو حکومت صحيح دی نو هغوی ذې مجاهدينو ته دهشت ګرد ويل او هغه خلکو چې فکر يې کاوه چې په هندوستان باندې دانګريزانو واکمني بې ځايه ده او د انګريزانو دا حق نشته چې په هندوستان باندې حکومت وکوي نو هغوی دې جنګياليو ته اتلان وويل نو ددې امله د انصاف تقاضا داده چې دکوم انسان په اړه د فيصلې کولو څخه وړاندې دې دهغه کس موقف ضرور واورېدل شي او د دواړو خواوو موقفونه دې وڅېړل شي او و دې کتل شي چې ددې شخص اراده څه ده او له ده سره ددې خپل کار لپاره څه جواز دی ؟

# د اسلام مطلب امن او سلامتي ده

اسلام د سلام له مادې څخه جوړ شوی دی چې مطلب يې امن او سلامتي ده دا دامن او سلامتي دين دی او خپلو پيروانو ته په دنيا کې د امن دخپرولو وصيت کوي پدې توګه بايد هر مسلمان بنسټ پاله وي يعني د سلامتي د دين اسلام بايد مکمله پيروي وکوي او هغه بايد د معاشرې ددښمنانو لپاره دهشت ګرد شي ترڅو چې په معاشره کې امن او مان راشي او د انصاف دور خپور شي .

# مسلمان غوښه خوري

پوښتنه : کوم حیوان مړه کول یو ظالمانه کار دی نو مسلمان غوښه ولې خوري ؟
ځواب : سبزي خوراك اوس په دنیا کې یو مهم شکل اختیار کړی دی او ځینې خلك ددې ترون د د حیواناتو له حقونو سره هم جوړوي او نن سبا د داسې خلکو تعداد کم دی کوم چې د غوښې خوراك اویا د نورو غیر نباتاتي خوراکونو خوراك د حیواناتو د حقونو خلاف ورزي گڼي .
اسلام په ټولو ژوندیو شیانو باندې درحم کولو حکم کوي او ددې سره سره دا هم مني چې الله تعالی دا دنیا او پدې کې موجوده هر شی که حیوانات دي او که نباتات دي دا یې ټول د انسان د فایدې لپاره پیدا کړي دي او دا د انسان کار دی چې اوس دا ټول شیان دالله تعالی له لوري یو نعمت او احسان وگڼي او په ښه توگه یې استعمال کړي .
راځئ چې مونږ ددې دلیل بل طرف هم وڅیړو .

## مسلمان سبزي خور هم کېدلی شي :

هر مسلمان که په مکمله توگه باندې سبزي خور شي او غوښه اونور غیر نباتاتي خوراکونه پرېږدي نو بیا هم ښه مسلمان کېدلی شي او په مسلمانانو باندې لازمي نده چې هغوی دې خامخا غیر نباتاتي خوراکونه استعمال کړي

# په قران کریم کې د غیر نباتاتي خوراکونو داستعمال اجازه

په قران کریم کې مسلمانانو ته د غیر نباتاتي خوراك د استعمال اجازه ورکړل شوېده الله تعالی فرمایي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَوْفُواْ بِالْعُقُودِ أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الأَنْعَامِ إِلاَّ مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ إِنَّ اللّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ

سورة المائده اية 1

ترجمه : ای مومنانو پوره کړئ خپل عهدونه تاسې ته حلال کړل شوي دي حیوانات بیغیر له هغه څخه چې تاسې ته بیان کیږي بلکه حلال مه ګڼئ ښکار کله چې تاسې د احرام په حالت کې یاست بېشکه الله حکم فرمایي څه يې چې خوښه وي .

او په بل ځای کې الله تعالی فرمایي :

وَالأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ

سورة النحل اية 5

ترجمه : او چارپایان الله پیدا کړي دي ستاسې لپاره په هغې کې د ځان ساتلو (ډیخنې نه) .سامان او هرقسم فائدې دي او له هغې نه ځینې تاسې خورئ .

په سورة مومنون کې الله تعالی فرمایي :

وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ

سورة مومنون اية 21

ترجمه : او يقيناً شته تاسې ته په چارپايانو کې عبرت، مونږ څښو په تاسې باندې له هغوی څخه له هغه څه چې دهغوی په ګېډو کې دي او شته ستاسې لپاره په هغوی کې فائدې ډېرې او تاسې له هغوی څخه خوراك کوئ .

غوښه له غذائيت څخه ډکه ده او ښه خوراك دی :

غوښه او نور غير نباتاتي خوراکونه د اعلی ترين لحمياتو د حاصلولو ذريعه ده پدې کې په حياتياتي حواله باندې مکمل لحميات موجود وي يعني ټول آټه مائنوايسيډ کوم چې جسم نشي جوړولی او دخوراك په وسيله يې اخستل ضروري وي ددېنه علاوه په غوښه کې فولاد ، ويټامين بي، او نياسين په پوره اندازه کې موجود وي .

# انساني غاښونه دغوښې او نباتاتي غذاګانو لپاره جوړ دي :

که تاسې د سبزئ خوړونکي حيوانات لکه غوا ، بېزه ، مېږه و غيره و څېرئ او دهغې غاښونه وګورئ هغه ټول هموار وي دا حيوانات دګياه څخه علاوه نور شی لکه غوښه وغيره نشي خوړلی او دغوښه خوړونکو حيواناتو لکه زمری ، پړانګ، سپی و غيره غاښونه تېره وي ځکه دا ځناور صرف غوښه خوري ګياه او داسې نور شيان دهغوی خوراك ندی په همدې ډول که تاسې د انسانانو غاښونو ته وګورئ او که کله تاسې په آينه کې خپلو غاښونو ته وګورئ نو تاسې ته به معلومه شي چې ستاسې غاښونه تېره هم وي او هموار هم وي دا ځکه چې انسانان غوښه هم خوري او سبزي جات هم ، که الله مونږ صرف د سبزيانو دخوراك لپاره پيدا کړي وای نو زمونږ

غابښونه به هم صرف هموار وو نو بيا يې مونږ ته تېره غابښونه د څه لپاره راکړي دي ؟

انساني معده نباتاتي او غير نباتاتي دواړه قسمه خوراکونه هضم کولی شي . که تاسې د سبزي خوړونکو حيواناتو د نظام هضم څېړنه وکوئ نو معلومه به شي چې د هغوی معده داسې جوړه شوېده چې هغوی غوښه نشي هضم کولی صرف ګیاه او سبزي هضم کولی شي او د انسان نظام هضم داسې جوړ وي چې هغه غوښه او سبزيجات هرشی هضم کولی شي که د الله له لوري مونږ ته د غوښې د خوراك اجازه نه وای نو بيا الله تعالى مونږ ته داسې نظام هضم ولې راکولو .

ددې وجې نه که دسائنسي نقطې نه هم وکتل شي نو ښکاره ده چې د الله رضا هم همداسې ده چې انسانان بايد سبزيانې او غوښه دواړه وخوري لکه مسلمانان چې کوي.

په هندي مذهبي کتابونوکې دغوښې دخوراك اجازه :

1. په هندوانو کې ډېر داسې خلك دي چې هغوی دخوښې خوراك دخپلو عقيدو سره ټکر خبره مني، مګر حقيقت دادی چې په هندي مذهبي کتابونو کې دغوښې دخوراك اجازه شته او پدې کتابونو کې د سنتونو او سادهوګانو نومونه ورکړل شوي دي چې هغوی به غوښه خوړله .

2. دهندو مذهب دمشهور کتاب منو سمرتي په 5 باب او 30 اشلوك کې داسې ليکل شوي دي :

3. "که خوراك کونکی دهغه شيانو غوښه خوري کوم چې دخوراك لپاره پيدا وي نو دا بد ګڼل ندي په کار هره ورځ دې وخوړل شي ځکه پيدا کونکي څه شيان ددې لپاره پيدا کړي دي چې هغه وخوړل شي او څه شيان يې داسې پيدا کړي دي چې هغه بايد ونه خوړل شي .

دمنو سمرتي په پنځم باب او 31 اشلوك کې ويل شوي دي " د قرباني لپاره دغوښې خوراك صحيح دی ځکه چې ويل کيږي چې همدا د ديوتا ګانو قانون دی"

دمنو سمرتي په 5 باب د 30 او 40 اشلوك له مخې "پيدا کونکي پخپله د قرباني کولو لپاره حيوانات پيدا کړي دي ددې امله د قرباني په وخت کې د غاړې ماتول دغاړې ماتول نه ګڼل کيږي "

دمها بهارت انوشاشن پروا په 88 باب کې د هرم راج يوزشتهر او بهشما په مينځ کې شوی بحث ورکړل شوی دی چې د شردها (له دنيا نه د تلليو پلرونو او نيکونو په ياد کې د پروګرام په موقع باندې ) بايد کوم خوراك خلکو ته ورکړل شي .

ددې کتاب هغه حصه په لاندې ډول ده :

يوذشتهرا وويل : ای عظيم طاقت واله ! ماته وښايه چې هغه څه شی دي چې که د پتريانو ( له دنيا څخه دتلليو پلرونو او نيکونو) لپاره ورکړل شي نو هغه به کله هم ختم نشي او هغه به دائمي پاتې شي او دهغوی وجود به همېشنی وي .

بهشما وويل : " واوره يوذ شتهرا (زه درته وايم) که دشردها (پدې اړه پروګرام) په موقع باندې که تل، وريژې، مئ، اوبه ، ريښې او مېوې ورکړل شي نو هغوی (د دنيا نه تللي پلرونه او نيکونه) تر يوې مياشتې پورې خوشحال پاتې کېدلی شي ، او که پدې پرګرام کې خلکو ته ماهی ورکړل شي نو پتري تر دوه مياشتو پورې خوشحال پاتې کېدلی شي ، که د پسه (ګډ) غوښه ورکړل شي نو تر دريو مياشتو پورې ، که دسوی (خرګوش) غوښ ورکړل شي نو تر څلورو مياشتو پورې، د ببزې دغوښې سره پنځه مياشتې، دخنزير دغوښې سره شپږ مياشتې، دمارغانو دغوښې سره اوه مياشتې، د هوسی دغوښې سره آته مياشتې، د رورو (يو قسم حيوان ) دغوښې سره نه مياشتې، د ګوايا دغوښې سره لس مياشتې ، د ګامېښ دغوښې سره

یولس میاشتې، د غوا د غوښې سره دولس میاشتې که غوړي او پیاسه سره یو ځای کړل شي هم نو دهغې درجه به دغوا دغوښې وې ، د غوایه غوښه که ورکړل شي نو تر دولسو کلونو پورې او که د ګینډا ( یو حیوان) غوښه د مرحومو روحونو ته دقمري تاریخونو له مخې ورکړل شي نو بیا به هغوی ته هیڅ فنا نه راځي او دهغې اثر بیا همېشنی دی او ددې سره هم بیا سورګ باشي د ټول عمر لپاره خوشحال وي او ددېنه علاوه د کلسکا نومي بوټي ، د کنچنا د ګل پاڼې او د سرې بېزې غوښه هم که پدې پروګرام کې خلکو ته ورکړل شي نو بیا به هم هغوی ته فنا نه راځي او ددې سره به هم تللي پلرونه او نیکونه په خوشحالی کې او مطمئن وي ددې امله که تاسې خپل پلرونه او نیکونه خوشحال ساتل غواړئ نو دسرې بېزې غوښه پدې پروګرام کې په خلکو باندې وخورئ "

# په هندو توب (هندووالي) باندې دنورو مذهبونو اثر

اګر چې دهندي مذهب کتابونو خپلو پیروانو ته اجازه ورکړېده چې هغوی دغوښې نه جوړ خوراکونه وخوري لکن هندوانو د ځینې نورو مذهبونو لکه جین مت او داسې نورو نه اثر قبول کړی او د غیرلحمي غذا ګانو(چې دغوښې شمولیت پکې نه وي) خپل کړی دی .

بوټي هم روح لري

بعض مذهبونو صرف سبزي خپل خوراك ددې امله جوړ کړېدی چې هغوی د یو ژوند شي د مړه کولو مکمل خلاف وي لکن که دیو ژوندي شي دمړه کولو نه بغیر ژوندکول ممکن وي نو زه به تر ټولو وړاندې ددې نظام د قبلولو لپاره اول سړی وم ، مخکې عام دا فکر کېده چې بوټي ژوندي نه وي

او دا اوس یو منل شوی حقیقت دی چې بوټي هم ژوند لري ددې امله کومو خلکو چې په مکمله توګه باندې سبزي خپله غذا جوړه کړېده هغوی هم پدې خپل اصل باندې ندې ولاړ پاتې چې هغوی باید کوم ژوندی شی مړ نه کړي. بوټي هم د تکلیف احساس کوي :

هغه کسان چې سبزي خوري (خوښه خوراك ناروا ګڼي) هغوی وایي چې بوټي درد او تکلیف نشي محسوس کولی ددې امله د بوټي مړه کول سپك جرم دی لکن ننی سائنس مونږ ته راښیي چې بوټي هم د تکلیف احساس کوي لکن د بوټي د ژړا او د تکلیف دوخت اواز انسان نشي آورېدلی او دهغې وجه داده چې انساني غوږونه د دې صلاحیت نلري چې د 20 هرټز او 20 زره پریکونسي په مینځ کې نه راتلونکی اواز واوري او دمثال په توګه سپی تر 40 زره هرټز پورې اواز آورېدلی شي.

په امریکا کې پدې اړه یوه تجربه وشوه چې یوه دهقان یوه مخصوصه آله جوړه کړه چې دهغې په اړه انسان کولی شول چې دبوټو اواز واوري د بوټو دا خاصیت دی چې کله هغه ته داوبو ضرورت وي نو هغه چغیرږي (خپل اواز وباسي) او دهغه آلې په مرسته د بوټو داقسم آواز واورېدل شو او هغه آلې دا نظریه باطله کړه چې بوټي د درد احساس نشي کولی.

پدې اړه زما د یو داسې سبزي خور سره بحث وشو چې له هغه سره د دلیلونو انبار وو هغه ویل: ذاکره! زه منم چې بوټي ژوندي وي او هغه احساس کوي مګر ته پوهېږي چې په هغې کې دوه حسونه کم وي په بوټي کې صرف دری حواس وي او په حیواناتو کې پنځه حواس وي ددې امله دحیواناتو مړه کول لویه ګناه ده.

ددې په جواب کې ما هغه ته وویل فرض کړه: ستایو ماشوم ورور پیدا شو او هغه ګونګی او کوڼ دی یعني دهغه هم دوه حسونه کم دي کله چې هغه لوی شي او څوك یې قتل کړي نو آیا په محکمه کې به ته قاضي ته ووایې

چې جناب څرنګه چې زما د ورور دوه حسونه کم وو نو ده ته کمه سزا ورکړې ؟

آیا ته به داسې ووایې ؟ نه بلکه ته به ورته وایې چې ده ته دوه چنده سزا ورکړې ځکه چې یو معصوم انسان یې قتل کړی دی نو ځکه په اسلام کې دېته اعتبار نشته چې دهغه یو حس کم دی او که دوه حسونه یې کم دي .

يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي الأَرْضِ حَلاَلاً طَيِّباً

سورة بقره اية 168

ترجمه : ای انسانانو وخورئ دزمکې له شیانو څخه کوم چې ستاسې لپاره حلال او پاك دي.

## که ټول خلك سبزي خواره شي :

تاسې فکر وکوئ چې ټول خلك سبزي خواره شي او هېڅ شخص هم دغوښې خوراك ته مائل نشي نو دزمکې په مخ باندې به هرطرف حیوانات خپاره شي ځکه دحیواناتو نسل په تېزۍ سره زیاتیږي الله تعالی پدې باندې ښه پوهیږي چې دخپلو مخلوقاتو مینځنی توازن باید څنګه وساتل شي ددې امله انسان ته دغوښې دخوراك داجازې ورکول دحکمت څخه خالي ندي .

## دسبزي دخوراك فائدې :

سبزي خوړل کوم جرم ندی مګر هغوی باید هغه کسانو ته بد ونه وایي چې هغوی غوښه خوراك روا ګڼي او نه هغوی ته باید بې رحمه ووایي دا یو په زړه پورې حقیقت دی چې که ټول هندوستانیان سبزیانې پرېږدي او دغوښې

خوراکونه خپل کړي نو دهغو نقصان به دغوښو خوړونکو ته شي ځکه چې غوښه به قیمته شي .

# په اسلام کې دذبح طریقه ظالمانه ده ؟

پوښتنه : مسلمانان حیوانات په ظالمانه طریقه سره ولې ذبح کوي او پدې طریقه سره دهغه نفس په ورو ورو وزي او حیوان ته پکې تکلیف وي؟
ځواب : د اسلام دذبح په طریقه باندې اکثر خلك سخت اعتراض کوي چې دذبح دا طریقه حیوان ته ډېره تکلیف ورکونکې ده لکن که دحقیقتونو په رڼا کې وکتل شي نو دا خبره سراسر بې بنیاده ده او دا اوس ثابته شوېده چې د ذبح اسلامي طریقه نه صرف دا چې حیوان ته راحت ورکونکې ده بلکه په سائنسي لحاظ باندې هم غوره طریقه ده .

د ذبح اسلامي طریقه

ذکیتم (چې تاسې یې حلالوئ) یو عربي لفظ دی د ذکات څخه اخستل شوی دی چې مطلب یې دی پاکول ددې مصدر تزکیه ده چې مطلب یې دی صفایي کول په اسلامي طریقه باندې د ذبح کولو لپاره لاندې شرطونه ضروري دي :

په کومه چاړه چې حیوان حلالیږي هغه باید تېره وي :

حیوان باید په داسې چاړه یا چاقو باندې حلال کړل شي چې هغه تېره وي او حلالونکی باید لاسونه په تېزۍ سره وښوروي ترڅو د حیوان د تکلیف وخت تر ممکنه حده پورې کم شي .

دذبح په وخت کې باید حلقوم، مری او شارګ پرې کړل شي :

ذبیحه عربي لفظ دی چې مطلب یې دی حلال کړل شوی د ذبح کولو په وخت کې باید دحلقوم او شارګ په شمول د وینې تول رګونه پرې کړل شي او حرام مغز باید پرې نه کړل شي .

وینه باید پرېښودل شي چې په پوره توګه باندې وبهیږي :

د حیوان د ذبح کولو نه وروسته باید انتظار وشي چې د بدن څخه ټوله وینه وبهیږي د بدن څخه د ټولې وینې د بهولو مقصد دادی چې که داسې ونه کړل شي نو دا به په غوښه کې پاتې شي او د جراثیمو لپاره به داوسېدلو یو ښه ځای جوړ شي او دحرام مغز د پرې کولو ممانعت ددې لپاره شوی دی چې ددې د پرې کولو سره زړه ته نقصان رسیږي دکوم له امله چې دزړه حرکت په فوري توګه باندې بندیږي او د بدن څخه دوینې وتل بندیږي او هغه په نلکو کې پټم کیږي د کومې له امله چې غوښه د فایدې په ځای انسان ته نقصان ورکوي .

وینه د جراثیمو او بیکټیریا لپاره د ودې کولو بهترین ځای دی :

وینه د جراثیمو، بیکټیریا او زهریله مادو د خپرېدلو لپاره یوه ښه وسیله ده ددې امله د ذبح اسلامي طریقه بهتره ده ځکه چې پدې طریقه سره په جراثیمو ، بیکټیریا او په زهرجنو مادو باندې مشتمله وینه په غټه پیمانه د بدن څخه وزي او پدې توګه باندې دمختلفو بېماریانو څخه د محفوظ پاتې کېدلو لپاره ذریعه جوړیږي .

پدې توګه باندې غوښه تر ډېره وخته پورې تازه پاتې کېدلی شي :

په اسلامي طریقه باندې حلاله شوې غوښه تر ډېره وخته پورې نه خرابیږي ځکه چې د وینې دموجودیت سره د غوښې د زر د خرابېدو خطر زیات وي ددې امله له نورو طریقو څخه اسلامي طریقه په هر لحاظ باندې غوره ده .

ذبح شوي حیوان ته په اسلامي طریقه باندې ذبح تکلیف نه وي .

په غاړه کې د وینې د نلکیو د کټ کولو سره اعصابو ته د رسېدونکې وینې رسېدل بند شي دکوم له امله چې هغه حصه بې کاره شي او د درد احساس ختم شي او حیوان د تکلیف احساس نه کوي او دروح د وتلو په وخت کې چې حیوان څومره نا آرامي کوي او لاس او پښې وهي هغه د درد له امله نه

وي بلکه دوينې د بهېدلو له امله په پلو (اعصابو) کې حرکتونه راځي او
ددې ټولو حرکاتو سبب جوړيږي .

# غوښه خوړل مسلمانان د سختۍ خواته مائل کوي

پوښتنه : سائنس مونږ ته را ښيي چې خوراك په طبيعت باندې اثر کوي نو
بيا اسلام ولې مسلمانانو ته اجازه ورکړېده چې غوښه وخوري دکوم له امله
چې دهغوی طبيعت سختيږي او تُنديږي .
ځواب : زه دا منم چې انسان څه شی خوري ددې اثر دده په رويه باندې وي
ددې امله اسلام د غوښه خوړونکو حيواناتو لکه زمری، سپی او داسې نورو
دغوښې دخوراك اجازه نه ورکوي ددې لپاره چې دهغوی دغوښې دخوراك له
امله په انسان کې هم همدارنګه ځناوري طبيعتونه پيدا نشي کوم چې دهغه
حيواناتو خصوصيتونه وي اسلام صرف دهغه حيواناتو د غوښې دخوراك
اجازه ورکوي چې هغه ګياه خوري لکه غوا، بېزه ، مېږه او داسې نور او دا
ټول د نرم طبيعت لرونکي حيوانات وي او مسلمانان هم امن غوښتونکي
خلك وي ددې امله دوی دهغه حيواناتو غوښه خوري .
د قران کريم فرمان دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له بدو لارو څخه منع
کوي
په قران کريم کې الله تعالی فرمايي :
" هغه پيغمبر تاسې ته دښو کارونو دکولوحکم کوي او تاسې له بدو کارونو
څخه منع کوي او پاك شيان تاسې ته حلالوي اوله مردار شيان تا سې ته حرام
کوي "

سورت 7 آيه 157
"مسلمانانو پيغمبر چې تاسې ته په کوم شي باندې امر کوي هغه واخلئ او له
کوم شي څخه چې تاسې منع کوي له هغې نه ځان وساتئ "

سورت 59 آیه 7

دیو مسلمان لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا فرمان آخري حد دی چې الله تعالی د انسانانو لپاره د ځینې حیواناتو خوراك روا کړي دی او د ځینو نه يې ورته دخوراك منع کړېده .

د غوښه خوړونکو حیواناتو دخوراك نه درسول الله صلی الله علیه وسلم منع :

په صحیح بخاري او مسلم کې روایت شوی دی چې دبعض مصدقه احادیثو له مخې د ځینو ځناورو او مارغانو غوښې خوراك منع کړل شوی دی د ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دی ( صحیح مسلم باب الصید و الذبح 4752 سنن ابن ماجه باب 13 حدیث 3232 تر 3234) ددې حوالو له مخې د لاندې شیانو غوښه خوراك ناروا کړل شوی دی

- دهغه ځناورو چې غاښونه يې تېره او نوك دار وي یعني هغه حیوانات چې غوښه خوري یعني دسپي او پشی له کورنی سره تړل شوي ټول حیوانات لکه زمری ، پشی ، سپی او داسې نور .
- قطع کونکی حیوانات لکه موږك او داسې نور .
- چیچونکي حیوانات لکه مار او داسې نور .
- ښکار کونکي مارغان لکه عقاب، کارغه او داسې نور یعني د را تاو شویو منښوکو لرونکي مارغان چې په خپلو پنجو کې ښکار ونیسي او خوري يې .

ستاسې دعلم لپاره وایم چې پدې مقصد کې داسې کوم سائنسي ګواهي نشته چې دغوښې دخوراك له امله د انسان طبیعت سختیږي .

# مسلمان کعبې ته سجده ولې کوي ؟

پوښتنه: کله چې اسلام د بتانو د عبادت خلاف دی نو مسلمانان دمانځه کولو په وخت کې کعبې ته سجده ولې کوي؟
ځواب : کعبه په اصل کې قبله ده یعني هغه طرف دی چې هغې ته باید مسلمانان په مانځه کې مخ واړوي یعني هغه طرف دی چې مسلمانانو ته حکم شوی دی چې دوی باید په مانځه کې هغېس خواته مخه کړي او دوی کعبې ته سجده نه کوي ، مسلمانان د الله تعالی نه سوا بل هېڅ شي ته سجده نه کوي په سورت بقره کې الله تعالی فرمایي :
"ای پیغمبره مونږ اسمان طرف ته ستا بیا بیا مخ اړول وینو کومه قبله چې ستا خوښه وي مونږ به تا همغې خواته واړوو اوس خپل مخ د مسجد حرام (کعبې) طرف ته واړوه او تاسې چې هرچېرته یاست په مانځه کې خپل مخونه دهغې طرف ته کړئ .

سورت بقره آیه 144

# اسلام په اتحاد باندې یقین لري :

مسلمان په خپلو مینځونو کې اتحاد او اتفاق په کلکه سره مني نو ددې امله د الله عبادت کونکو ته کعبه د عبادت طرف مقرر شوی دی .
که داسې نه وای نو یو مسلمان به چې مونځ کولو ویل به یې چې ځه مخ به شمال ته کړم ، دویم به ویل جنوب طرف ته مخه کړه ځینو به مشرق او ځېنو به مغرب ته مخ کولو نو په ذهن کې به هروخت سوال پیدا کېدلو چې اصلاً باید انسان په مانځه کې مخ کوم طرف ته واړوي؟ اسلام چې څنګه د اتحاد

او اتفاق دين دی نو ځکه ټولو مسلمانو ته امر شوی دی چې په مانځه کې به مخ د قبلې طرف ته کوي

کعبه ددنيا په مرکز کې واقع ده :

په دنيا کې يې چې تر ټولو څخه وړاندې د دنيا نقشه جوړه کړه هغه مسلمان وو کوم وخت چې مسلمانانو ددنيا نقشه جوړه کړه نو قطب جنوبي يې پورته خواته کېښود او قطب شمالي يې ښکته خواته کېښود پدې توګه چې وکتل شول کعبه د ټولې دنيا په مينځ کې راتله بيا اهل مغرب راغلل نو هغوی ددنيا نقشه چپه کړه نو قطب شمالي يې پورته او جنوبي يې ښکته خواته کېښود نو الحمد لله کعبه بيا هم په مينځ کې ده يعني مکه مکرمه په مرکز دزمکې کې واقع ده او مسلمانان چې ددنيا په هرځای کې وي هغوی په مانځه کې مخ کعبې ته اړوي .

په ځوك دمکې شمال ته اوسيږي هغوی په مانځه کې مخ جنوب ته کوي او ... جنوب ته اوسيږي نو هغوی په مانځه کې مخ شمال ته کوي ددې وجې ... چې کعبه صرف د مخ داړولو لپاره يو طرف دی کوم چې دټولو کائناتو ... ور او مرکز دی ددې امله د کعبې نه طواف کول دا مطلب ندی چې ګنې مونږ دکعبې عبادت کوو .

## دحجر اسود په اړه د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه وينا:

په کتاب الحج جلد 2 صحيح مسلم کې د حضرت عمر رضـی الله تعالی عنه روايت دی چې هغه فرمايي : زه په مکه کې حجر اسود ددې امله مچي کوم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم همداسې کړې وو او کنه نو دا توره تيږه ماته نه کوم تاوان رسولی شي اونه کومه فائده

خلك به دكعبې بام ته ختل او اذان به يې كولو:
ددې لپاره يو ښه مثال دا هم دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه كې به كله صحابي رضـی الله تعـالی عنه دكعبې چت تـه وختلو او اذان به يې وكولو زه لتاسې څخه پوښتنه كوم چې څوك بـه دومره بد تميز وي چې په خپل معبود باندې وخيژي؟

# غير مسلمو ته اجازه نشته چې هغوی مكې او مدينې ته ننوزي :

پوښتنه : غير مسلمو تـه ولې اجازه نـده وركړل شوې چې هغـوی مكې او مدينې ته ننوزي ؟
ځواب : دا خبره صحيح ده چې په قـانوني توګه بـاندې غيـر مسلم خلك د اسلام دپاكو ښارونو مكې او مدينې څخه بند كړل شوي دي لكن په دنيا كې ډېر داسې ځايونه دي چې عام خلك هغې ته نشي ننوتلی دمثال په توګه ...

عامامو ښاريانوته اجازه نه وي چې هغوی دې فوجي ځايونو ته ننوزي
زه يو هندوستاني ښاري يم لكن ددې سره سره بعض داسې علاقې دي چې هلتـه مـاتـه د ننوتلواجازه نشته او په هر ملك كې ځينې داسې علاقې وي چې هلتـه عـام خلك نشـي ننوتلی فوجـي خاصـو ځايونو تـه صرف فوجيـان او د ملكي دفـاع سره تړلـي خلك ننوتلی شي ددې املـه اسلام د ټول انسـانيت لپـاره يو عمومي مذهب دی او د اسلام خاص ځايونه مكه او مدينه دي چې په يو عام ملك كې يو عام ښاري ته اجازه ورنه كړل شي چې هغه د يو فوجي قرار ګاه تـه پرې نـه ښودل شي نو دهغې له املـه بـه دهغه ښاري اعتراض بې

ځایه وي نو همداسې که مکې او مدینې ته هم یو غیر مسلم پرې نه ښودل شي نو دا اعتراض بې ځایه دی .

مکې او مدینې ته دننوتلو لپاره اجازه نامه :

1. کله چې هم یو انسان د بل ملك په سفر باندې ځي نو دهغې نه وړاندې هغه ته ددې ضرورت کیږي چې هغه د ویزې غوښتلو لپاره عریضه وړاندې کړي او دهر ملك قوانین وي چې منل یې په هر هغه چا باندې ضروري وي چې دې ملك ته ور ننوتل غواړي او ترڅو چې ته دهغه ملك ټول قوانین ونه منې نو تا ته ویزه نه ورکوله کیږي .

2. هغه ملکونه چې دویزې په ورکولو کې ډېر داحتیاط څخه کار اخلي په هغو کې امریکا هم شامله ده په خاصه توګه د دریمو ملکونو خلکو ته دویزې ورکولو په وخت د عادي څخه هم زیاتې قاعدې عملي کوي .

3. کله چې ما دا غوره کړه چې زه سنګاپور ته سفر وکوم نو ما ولیدل چې په امیګریشن فارم باندې په قانوني توګه باندې لیکلي وو چې د نشه یې توکو قاچاق کونکو ته به د مرګ سزا ورکوله کیږي او هر هغه کس چې سنګاپور ته ځي هغه باید د سنګاپور د قوانینو پابندي وکوي او هغه ته ددې ویلو اجازه نشته چې دا سزا ظالمانه ده او ترڅو پورې چې مسافر د ټولو قوانینو دمنلو لپاره امضاء ونه کوي هغه ته ددې اجازه نه ورکوله کیږي چې دې ملك ته ننوزي ددې امله مکې او مدینې ته د ننوتلو لپاره اول شرط دادی چې په خپله ژبه باندې به دا الفاظ وایي لاالـه الاالله محمد رسول الله یعني د الله نه بغیر کوم بل معبود نشته او محمد د الله تعالی رسول دی .

# مسلمان د خنزير غوښه نه خوري

پوښتنه : مسلمانانو ته ولې د خنزير دغوښې دخوراك څخه منع شوېده؟
ځواب : دا خبره رښتيا ده چې په اسلام كې ددېنه منع شوېده چې دخنزير غوښـه د وخوړل شي او ددې په ممانعت كې لاندې دليلونه ستاسې خدمت ته وړاندې كوم :
دخنزير دغوښې نه منع په قران كې ده :
په قران كريم كې د خنزير دغوښې نه منع لږ تر لږه په څلورو ځايونو كې شوېده په سورت بقره 173 آيت ، سورت 5 په 3 آيت، سورت 6 په 145 آيت، سورت 16 په 115 آيت دا هغه څلور ځايونه دي چې الله تعالى پكې انسانان دخنزير له غوښې څخه منع كړي دي الله تعالى فرمايي :
" حرام دي په تاسې باندې مرداره(هغه حيوان چې په خپل مرګ باندې مړ شي) او بهېدلې وينه او دخنزير غوښه او دهغه حيوان غوښه چې د الله تعالى نه بغير پرې دبل چا نوم واخستل شي .

سورت 5 آيه 3

د خنزير دغوښې دخوراك ممانعت بائبل هم كړېدى :
په مسيحيانو باندې د دوى دخپل كتاب نه حواله ډېر تاثير كوي د بائيبل په Liviticus كتاب كې ويل شوي دي :
"او خنزير اګر چې دهغه كور په دوه برخو تقسيم شوى دى لكن هغه شوخند نه وهي نو ددې امله تاسې ته يې خوړل نا روان دي "
"دهغه غوښه تاسې مه خورئ او مه دهغه دمړه جسم سره تاسې لاس لګوئ هغه ستاسې لپاره ناپاك دى"

(Liviticus 11:7,8)

او دخنزیر دغوښې خوراك د تورات په پنځم کتاب کې هم په کتاب استثنا (Deuteronomy) کې منع کړل شوی دی هلته ویل شوي دي :
"او خنزیر څرنګه چې دهغه کور په دوه برخو تقسیم شوی دی او هغه شوخند نه وهي ددې امله هغه تاسې ته مردار دی مه دهغې غوښه خورئ او مه دهغه دمړه جسم سره لاس لګوئ )
(Deuteronomy 14:8)
په همدې طریقه باندې د بائیبل په **Isaiah** کې په **65** باب کې د **2** نه تر **5** آیت پورې دخنزیر دغوښې نه منع کړل شویده .

# دخنزیر غوښه د متعددو بیماریانو سبب جوړیږي

ځینې غیر مسلم اولامذهبه خلك د سائنس له مخې او منطقي دلیلونو له مخې هم مطمئن کېدلی شي هغه داسې چې دخنزیر غوښه د لږ تر لږه **70** بېماریو سبب جوړیږي د ځیني مختلف قسمه چینجي راونډ ورم، پن ورم، هوك ورم او تر ټولو خطرناك ټیپ ورم د خنزیر د غوښې دخوراك نه پیداکیږي او ټیپ ورم په لویه کُلمه کې دځان داوسېدلو لپاره ځای جوړوي او چې بیا دهغه ځای څخه دهغه هګۍ په وینه کې شاملیږي دبدن هرې برخې ته رسیږي او که دا دماغو ته ورسیږي نو د دماغو دحافظې برخه بې کاره کیږي او که زړه ته ورسیږي د زړه دوره راتلی شي او که سترګو ته ورسیږي نو د سترګو نظر له مینځه تلی شي په همدې ډول جګر ته او دبدن هرې برخې ته نقصان ورکولی شي .
یوه غلط فهمي دا پیدا شویده چې که دخنزیر غوښه په ښه توګه باندې پخه کړله شي نو ددې چینجیو هګۍ مړې کیږي مګر په امریکا کې دشوې یوې څېړنې له مخې معلومهِ شویده چې د **Trichura Tichurasis** په نوم چینجي چې یوه خطرناکه بیماري ده پدې باندې په اخته په **24** مریضانو کې

د 22 مریضانو وینا ده چې دوی غوښه په پوره توګه باندې پخوي او
استعمالوي يې چې مطلب يې دادی چې دخنزير په غوښه کې موجودې هګۍ
په عامه درجه تودوخي باندې هم نه مړې کیږي .
دخنزير په غوښه کې چربي (غوړوالی) ډېر زيات دی
دخنزير په غوښه کې د اندامونو د ودې د زياتوالي مادې ډېرې کمې وي او
دا د غوړو مادوڅخه ډکه وي دا غوړ والی د وينې په نلکيو کې ټوليږي او د
فشار دلوړوالي او بيا د زړه د دورې سبب جوړيږي او دا کومه د تعجب خبره
نده چې د 50 فيصده څخه زيات امريکايان د فشار د لوړ والي په بيمارۍ
باندې آخته دي.

## دخنزير شمار په بدو حيواناتوکې کيږي :

خنزير د دنيا په بدو حيواناتو کې شمارل کيږي د عمومي خوراك نه علاوه
خرشنه، خوشايه او انساني ګندګي هم خوري د مردارو او بدبويه شيانو پ
خوراك هم دهغه کومه پروا نه وي بعض خلك دا دليل وركوي چې په نن سبا
کې په اکثر پاكو ملكونو کې دمثال په توګه لكه استراليااو داسي نورو
ملكونو کې ساتل کيږي مګر دا په داسې پاكو ملكونو کې هم له خپلې
ګندګۍ څخه نه راګرځي او په هغه ماحول کې هم يو د بل ګندګي خوري .
خنزير له شرم څخه خلاص حيوان دی
دزمکې په مخ باندې د خنزير نه ډېر بې شرمه حيوان بل مثال نشته او
يوازينی حيوان دی چې نورو ملګريو ته دعوت وركوي چې دده د جوړې سره
يو ځای شي او په امريکا کې چې اکثر خلك دخنزير غوښه خوري په
هغوی کې هم د خنزير عادتونه پيدا شوي دي چې دشپې تر ناوخته پورې په
نايټ کلبونو کې د ډانس پروګرامونو څخه وروسته هغوی په ښكاره د يود بل
له ښځو سره يوځای کيږي .

# دشرابو څخه منعه

پوښتنه : په اسلام کې دشرابو څخه ممانعت ولې شوی دی ؟
ځواب : شرابو ته په معاشره کې دلعنت درجه ورکول کیږي او هرکال په سلګونو، زرګونو او لکونو انسانان پدې ام الخبائث باندې آخته کیږي او په معاشره کې متعدد مشکلات د شراب خانې له امله وي ، د جرمونو زیاتېدونکې اندازه ، روزانه ذهني بیماریانې ، د طلاقونو واقعات زیاتېدل ددې خبرو ښکاره ثبوت دی .
په قران کریم کې د شرابو ممانعت
په قران کریم کې دشرابو ممانعت لکه په لاندې الفاظو کې شوی دی :
"ای مسلمانانو بیشکه شراب ، قیمار، بت پرستي ، فالونه ویستل مردار دي او د شیطان کارونه دي تاسې له هغې څخه ځان وساتئ.
سورت 5 آیه 90

په بائیبل کې دشرابو ممانعت:
په بائیبل کې دشرابو ممانعت داسې شوی دی .
" شراب د انسان څخه مسخره جوړونکی یو تیز مشروب دی دا انساني عقل خرابوي او هغه چې پدې باندې آخته شي له عقل څخه خلاصیږي "
**(Proverbs 20:1)**
"شراب مه څښئ هغه تاسې بې هوشه کوي"
**(Ephesians 5:18)**
شراب د دماغو ممانعتي مرکز بې کاره کوي :
په انساني دماغو کې یو نظام کارکوي چې هغه یو انسان دکوم کار د صحیح او غلط کار څخه خبروي د شرابو له څښلو سره هغه نظام کار پرېږدي بیا انسان ته د حلال او حرام، صحیح او غلط فرق نه کیږي دمثال په توګه په فطري توګه باندې انسان دخپلو مشرانو ، مور پلار و غیره په وړاندې بدې

خبرې او ګستاخي نه کوي او انسان د چا په وړاندې خپل شرم ساتي او ګندګي دچا په وړاندې نه کوي بلکه دهغې لپاره تشناب استعمالوي دده دا رويه ددماغو ددې مرکز کار دی چې ده ته لارښونه کوي او کله چې کوم انسان دشرابو عادي شي او یا شراب وڅښي نو د دماغو دا برخه کار نه کوي ددې امله دي چې د شرابو په نشه کې انسان داسې کارونه کوي چې په عادي زندګي کې دهغه فکر هم نه کوي دمثال په توګه هغه بدې خبرې کوي او کله کله خو دده مور پلار هم دده دخبرو څخه په امن کې نه وي او د بعض خلکو ګندګي دده په جامو کې دده نه ځي او پدې حالت کې هغه په صحيح توګه باندې خبرې هم نشي کولی او د تلو راتلو قابل هم نه وي او کله له نورو خلکو سره هم بد تميزي کوي .

په شرابیانوکې بد کاري ، زنا د محرماتو سره د بد عملي واقعې او د ایډز بیمارياني زیاتې پیدا کیږي .

د امریکا د انصاف دمحکمې د شمار له مخې صرف د 1996 په دوران کې په امریکا کې هره ورځ د زنا 2713 واقعات شوي وو او ددې کار اکثر کونکي دشرابو په نشه کې وو د شمېرنې له مخې 8 فیصده امریکایان د محرماتو سره ناروا تعلقات ساتي يعني هر دولسم يا ديارلسم امريکایي پدې بد کارکې آخته دي او تقریباً په ټولو واقعاتو کې سړی او یا دواړه طرفونه د شرابو په نشه کې وي .

هر دشرابو معتاد به په اول کې کله کله څښل :

خینې شراب څښونکی دځان لپاره یو دلیل وایي چې دی یې عملي ندی بلکه هسې کله کله یې په پروګرامونو کې یوه او یا نیمه پیاله څښي او هغه اړه په شوې څېړنه کې معلومه شوېده چې د شرابو دڅښلو د ټولو حدونو هیڅ شرابي شراب پدې نیت باندې نه شروع کوي چې دی به د شرابو معتاد

جوړ شي دا ټول بيا وروسته کيږي او هيڅ داسې شرابي چې کله کله يې څښني دا دعوه نشي کولی چې زه يې دڅو کلونو راهيسې څښم او زه چې شراب وڅښم بيا هم په مکمله توګه باندې په هوش کې وم او کله يې هم بې هوشه کړی نه يم .

د نشې په حالت کې يو کار کول د ټول عمر لپاره دپښېماني سبب شي .

تاسې فرض کړئ چې که په کوم پروګرام کې څوك شراب وڅښني او پدې مجلس کې دکومې محرمې سره بدعملي وکوي بيا که وروسته هغه څومره هم ددې خبرې دهېرولوکوشش وکوي دا خبره به يې بيا هېره نشي او دده سره به ټول ژوند ددې خبرې احساس وي چې ده کوم جرم کړی دی او پدې خبره به دی هم پوهيږي او هغه ښځه چې ده ورسره داکار کړی وي هغه به هم پوهېږي .

# په احاديثو کې دشرابو ممانعت :

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

1. په سنن ابن ماجه دريم جلد کتاب مسکرات باب 30 کې په حديث نمبر 33،71 کې روايت دی چې شراب د ټولو بديو مور (ام الخبائث) او په ټولو بديو کې شرمناکه بدي ده .
2. د سنن ابن ماجه په دريم جلد کتاب مسکرات په 30 باب کې په 3392 حديث کې روايت شوی دی " هغه څه شی چې ډېر استعمال کړل شي انسان نشه کولی شي نو دهغې کمه اندازه استعمال هم ناروا دی " ددې امله داويل چې دهغې د يو ګوټ دوه سره به څوك نشه کيږي؟ غلط دي بلکه دهغې يو غړپ هم حرام دی .
3. الله تعالى صرف په شراب څښونکو باندې نه بلکه دهغې په هرقسم کاربار کونکو باندې هم لعنت ويلی دی .

4. دحضرت انس رضی‌الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي "الله تعالی د شرابو د کار بار د په متعلقو لسو کسانو باندې لعنت ویلی‌دی هغه چې جوړوي يې ؛ دچا لپاره يې جوړوي، هغه چې څښي يې ، هغه چې له يو ځای نه يې بل ځای ته وړي، چاته چې راوړل شي، چا چې چاته وړاندې کړل، هغه چې خرڅوي يې، هغه چې پدې کې ګټه کوي، هغه چې اخلي يې ، دچا لپاره يې چې اخلي"

دشرابو دڅښلو له امله راتلونکې بېماریانې

د شرابو دممانعت سائنس وجهې هم شته يوه وجه خو يې داده چې په دنيا کې دشرابو له امله هرکال بې شماره خلك مړه کيږي هرکال په زرګونو خلك د شرابو د څښلو له امله مړه کيږي او د شرابو نقصانونه او ددې امله مينځ ته راتلونکې بېماريانې له هېچاڅخه پټې ندي بلکه اکثر خلك د شراب خانې د نقصانانو څخه په پوره توګه باندې خبر دي لاندې دځو بېماريانو ذکر کيږي چې دشرابو له امله په انسان کې راځي .

i. Crrhosis of liver د ځيګر يوه بيماري ده د شراب په څښونکو کې په عامه توګه باندې پيدا کيږي .

ii. دمعدې په خوله ، سر ، غاړه، ځيګر او دکلمې په آخرنۍ برخه کې سرطان هم د شراب څښلو نه پيداکيږي .

iii. د معدې په خوله کې په کُلمو کې په لبلبه کې سوخت او د هيپا ټائټس تعلق هم د شراب دڅښلو سره دی .

iv. د زړه د بېماريانو (Cardio Myopathy) د وينې فشار Coronary Arthero Sclerosis انجائنا او د زړه د درد تعلق هم د شرابو د ډېرو څښلو سره دی .

v. اعصابي بېماريانې Peripheral Neuro Pathy

vi. Cortcal Atrophy

vii. Cerebellar Atrophy

viii. دا بیمارياني هم دشراب څښلو څخه پيدا کيږي .

ix. د نیږدې تېر وخت قصې هېرول او ډېرې پخوانۍ قصې په ياد پاتې کېدل او د فالج مختلف قسمه بیماریانې هم د شرابو دڅښلو له امله پيدا کيږي .

x. د بيري بيري او وټامن کمبود او ددې اړوند نورې بیماریانې هم په شراب څښونکو کې په عامه توګه باندې پيدا کيږي او عامې جلدي بیماریانې هم په شراب څښونکو کې پيدا کيږي .

xi. شراب څښونکو ته دکوم ځای دزخم کېدلو او يا عمليات کولو نه وروسته يوه بيماري **Delerium Tremens** پيدا کيږي کومه چې کله کله ډېره سختي اختيار کوي .

xii. د غدودونو مختلفې بیماریانې دمثال په توګه **Myxodema** او **Hyperthyoidism** هم په عامه توګه باندې په شراب څښونکو کې پيدا کيږي .

xiii. دشراب څښلو په نتيجه کې په عامه توګه په بدن کې فولك ايسډ کميږي چې په نتيجه کې يې **Macrocytic Anemia** او **Zeive S Syndrome** او يرقان انسان ته پيدا کيږي .

xiv. په عادي شراب څښونکو کې **Thrombocytopenia** او د وينې د جسيمونو څه نورې بیماریانې عامې وي .

xv. په عامه توګه استعمال کېدونکې يوه ګولۍ **(Flatyl) Metronidazole** چې دشرابو سره يوځای استعمال شي په بدن کې بد اثر پيدا کوي

xvi. د عادي شراب څښونکو قدرتي جسماني دفاعي نظام کمزور شي او د بیماریانو په مقابل کې دهغې ددفاع قوت ضعيف شي ددې امله انفيکشن او ددې متعلق نورې بیماریانې پده باندې بيا بيا حمله کوي .

xvii. د چهاتي انفيکشن د شرابو څښونکو يوه عامه بېماري ده ، نمونيا او د سګيو د سختوالي سره د تنفس کولو صلاحيت هم متاثر شي او په تب دق بيماري باندې هم اکثر شراب څښونکي آخته کيږي .

xviii. په ډېره بې هوشی کې شراب خواره اکثر قی کوي چې ددې سره دټوخېدلو دفاعي نظام اکثر خرابيږي او قی سګيو ته لاړ شي چې ددېنه يوه خطرناك قسم نمونيا بيماري پيدا کيږي چې کله کله ددې بيمارۍ څخه نفس تنګ شي او مرګ هم واقع شي.

xix. دشراب څښلو اثرات تر نارينه وو څخه په زنانه وو باندې سخت وي او د ښځو دفاعي قوت پدې اړه له سړيو څخه کمزور وي او دحمل په وخت کې د شراب څښلو ډېر بد اثرات په راتلونکي ماشوم باندې پريوزي

xx. د څرمنې د ډېرو بيماريانو تړون هم له شرابو سره وي .

xxi. بخار، پك والی (دوېښتانو غورځېدل) دنوکونو انفيکشن اود زامو سوزېدل د شرابو په څښونکو کې عام وي .

دشرابو عادت بيماري ده

د شرابو معتاد کېدل پخپله په بيماريانو کې شمارل کيږي او ډاکټران هم ديوې بېماري په څېر دهغې علاج کوي د اسلامك ريسرچ فاونډيشن موقف ددې په چپه دی هغه يوه نشريه خپره کړېده چې په هغې کې ويل شويدي چې که د شرابو عملي کېدل يوه بېماري ده نو هغه يوازينۍ بېماري ده چې هغه:

- په بوتلونوکې خرڅيږي
- اودهغې اشتهار په اخبارونو، رسالو ، راديو او تلويزيون باندې کيږي
- دهغې دخپرولو لپاره په قانوني توګه باندې اجازه نامه (لائسنس) ملاويږي .
- ددېنه حکومت ته ټيکس رسيږي .
- په عامو لارو کې دمرګونو سبب جوړيږي .

- کور تباه کوي او په جرمونو کې زیاتوالی راولي .
- په خپرولو کې یې دکوم وایرس او جراثیمو کردار نه وي .

د شرابو عادت بیماري نده بلکه دشیطان چالاکي ده :

الله تعالی په پوره حکمت سره مونږ د شیطان دکارونو څخه او دهغه دچالاکیو څخه خبر کړي یو اسلام ته د فطرت دین ویل شوي دي او دهغه ټول اصول او قوانین د انسان د فطرت د تحفظ لپاره دي او شراب څښل د انساني فطرت څخه سرغړونه کول دي ، دا انسان د ځنګلي ځناورڅخه هم کمې درجې ته رسوي .

پورتنۍ ټولې وجې یقیناً چې داسې یو مضبوط بنیاد جوړوي چې دهغې په بنیاد باندې ویل کیږي چې اسلام شرابو ته ام الخبائث ویلي دي او چې دهغې ممانعت یې کړی دی هغه یقیناً سمه لاره ده او صحیح کار دی .

# د سړیو اوښځو دشاهدي (ګواهي) مسئله

پوښتنه : داسې ولي دي چې د دوو ښځو ګواهي دیو سړي برابر ده .

ځواب : هروخت داسې نه وي چې دوه شاهداني ښځې دیو نارینه شاهد برابرې وي په قران کریم کې داسې آیتونه دي چې هلته د ګواهي د یادولو په وخت کې د نر او ښځې ذکر ندی شوی .

د وارثانو لپاره د وصیت کولو په وخت صرف ویل شوي دي چې باید انصاف دار شخص وي :

په قران کریم کې په سورت مائده کې الله تعالی فرمایي :

"مسلمانو! کله چې په تاسې کې چاته دمرګ نښې راشي نو دستاسې په مینځ کې دګواهي کولولپاره په تاسې کې باید دوه معتبر اشخاص وي اوکه تاسې په سفر کې یاست او تاسې ته مرګ راشي نو بیا دوه کسان بس دي "

سورت مائده آیه 106

د طلاق په معامله کې دوه عادلان ګواهان
په قران کريم کې الله تعالى فرمايي :
"او شاهدان کړئ دوه دعدل خاوندان او خلکوتاسې چې څوك ګواه کړي نو
سمه سمه ګواهي ورکړئ
سورت 65 آيه 2
د پاکې ښځې په خلاف د بدعملۍ دالزام (تور) لګولو په صورت کې د څلورو
ګواهانو ضرورت :
په قران کريم کې الله تعالى فرمايي :
"هغه چې په مسلمانه ازاده او پاکه ښځه باندې د بدعملي تهمت ولګوي نو
څلور ګواهان دې وړاندې کړي اوکه يې دا ونشوکولی نو الزام لګونکي ته
اتيا دُرې ورکړئ ( اتيا ځله يې په دُره باندې ووهئ) او بيا د ټول عمر لپاره
دده ګواهي مه منئ اوهغه خپله بدکاره دی "
سورت 24 آيه 4
ددوو ښځو ګواهي چې ديو سړي برابره ګڼله شوېده دا صرف په مالي
معاملاتو کې ده :
دا خبره صحيح نده چې په هرځای کې د يو سړي ګواهي د دوو ښځو سره
برابره ده بلکه دا صرف په خاصو معاملاتو پورې خاص کړل شوی حکم دی
په قران کريم کې پنځه ځايونه داسې دي چې هلته د ګواهي ذکر شوی دی
صرف يو ځای داسې دی چې هلته پدې باندې تصريح شوېده چې هلته ديو
نارينه ګواهي ددوو ښځو سره برابر ه ده هغه په سورت بقره کې يو آيت دی
چې په ټول قران کريم کې ترټولو اوږد آيت دی او هغه حکم هم په مالي راکړه
ورکړه کې دی په هغه آيت کې الله تعالى فرمايی :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ وَلاَ يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّهُ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّهَ رَبَّهُ وَلاَ يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا فَإن كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لاَ يَسْتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ وَاسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ من رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاء أَن تَضِلَّ إْحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى

سورة بقره اية 282

ترجمه : اى مومنانو كله چې تاسې تر يوې معلومې مودې پورې دقرض راكړه وركړه كوئ نو هغه په چا باندې وليكئ ......... (بيا وړاندې فرمايي) او په هغې باندې له خپلو نارينه وو څخه دوه ګواهان ونيسئ او كه دوه سړي نه وونو بيا يو سړى او دوه ښځې پرې ګواهان كړئ نو كه ديوې نه غلطه شي نو بلې ته به وريه ياد وي.

په قران كريم كې پدې آيت كې دمالي راكړې وركړې په اړه حكم شوى دى چې پداسې معاملاتو كې دې ليكنه وشي او ددې واقعې لپاره دې دوه ګواهان كه سړي پيدا شي نو ښه دي او كه سړي پيدا نشي نو يو سړى او دوه ښځې هم دا ګواهي وركولى شي .

ددې صورت داسې دى چې تاسې فرض كړئ چې يو انسان دكوم ضرورت له امله عمليات (اپريشن) كول غواړي او ددې لپاره چې دى يقيني كړي چې آيا ده ته عمليات په رښتيا ضروري دى اوكنه نو ددې لپاره هغه دځان دمطمئن كولو لپاره غواړي چې ځان په دوو ماهرو سرجن ډاكټرانو باندې وګوري او

که بیا دوه ماهر سرجن پیدا نشي نو بیا ځان په یو سرجن او دوو ایم بي بي اس ډاکټرانو باندې وګوري او فیصله وکوي .
په همدې توګه باندې په مالي معاملاتو کې دوو نارینه وو شاهدانو ته ترجیح ورکړل شوېده خو بیا هم که نارینه پیدا نشي نو د یو نارینه په ځای دوه زنانه هم ګواهي ورکولی شي .
اسلام چې څرنګه د روپیو د ګټلو ذمه واري په سړي باندې اچولې ده او هغه ټول مالي کارونه کوي او مالي مشکلات له مخې لرې کوي او د کور ددې طرف ضرورتونه پوره کوي نو ددې امله د سړي فکر په مالي معاملاتو کې ښه کار کولی شي نو ځکه ددې ګواهي لپاره دوی خوښ کړل شوي دي خو بیا هم که دوه سړي پیدا نشي نو بدل خبره یې هم شته چې یو سړی او دوه ښځې به ګواهان کړل شي او ددې وجه هم ورسره ذکر کړل شوېده چې که د یوې نه خبره غلطه شي نو دوهمې ته به یاده وي او په قران کریم کې چې پدې ځای کې کوم لفظ استعمال شوی دی هغه تضل دی چې معنی یې ده ذهن منتشر کېدل یا غلطي کول دي پدې ځای کې ځینې اردو ژبو ترجمانانو ددې ترجمه په هېرېدلو سره کړېده او دا غلطه ده .
دا خبره دفکر وړ ده چې الله تعالی صرف په مالي معاملاتو کې د دوو ښځو ګواهي دیوه سړي برابره کړېده .
د قتل په معامله کې هم د دوو ښځو ګواهي دیو سړي برابره ده
د بعض علماوو د رایې له مخې د قتل په معامله کې هم د زنانه رویه کمزوري وي او پداسې معاملاتو کې ښځې ډېرې ډارېږي او وارخطا کیږي او په جذباتي کیفیت باندې آخته کیږي ددې امله بعض علماوو د قتل په معامله کې هم دښځو ګواهي دنارینه نیمه ګرځولې ده ددېنه علاوه په نورو ټولو مقدمو کې دنارینه او زنانه ګواهي په یو شان ده .

په قران کريم کې د نارينه او زنانه وو د ګواهي د برابرېدلو اعلان شته د بعض علماوو رايه داده چې د ګواهي اصل دا په هره مقدمه کې ده چې د يو سړي ګواهي ددوو زنانه وو برابره ده لکن ددې نفی قران کريم کوي لکه الله تعالی چې د هغه وخت په صورت کې فرمايي چې سړی په خپله ښځه باندې دبدعملي الزام (تور) ولګوي او ګواهان ورسره نه وي .

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاء إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ وَيَدْرَأُ ويدرؤا عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ

سورة النور اية 6-9

ترجمه : او هغه خلك چې په خپلو ښځو باندې تور ولګوي او له هغه سره دده نه بغير بل څوك شاهد نه وي نو هلته ديو کس ګواهي داده چې هغه به څلور ځله د الله قسم خوري او ګواهي به ورکوي چې دی په خپل الزام کې رښتيا ويونکی دی او په پنځم ځل به وايي چې که دی درواغ وايي نو په ده دې د الله تعالی لعنت وي او له ښځې نه ددې الزام سزا هغه وخت آوړي چې هغه هم څلور ځله د الله قسم وخوري ګواهي ورکړي چې دا الزام درواغ دي او په پنځم ځل به وايي چې که دی رښتياوايي نو په دې د الله غضب وي .

يعني که خاوند په خپله ښځه باندې غلط الزام ولګوي نو ددې يوازې ګواهي هم دا له حد څخه ساتلی شي .

ددې آيت نه تاسې ته ښکاره کيږي چې ديوې ښځې ګواهي ديو سړي سره برابره ده .

دحضرت عائشې رضی الله عنها احاديث هرچاته دقبول وړ دي حال دا چې هغې خو يوازې روايت کړی دی :

دحضرت عائشې رضی الله عنها پاکې بي بي حضرت عائشې رضی الله عنها تقريباً کم او زيات 2220 احاديث روايت کړي دي او هغه ټول مصدقه او صحيح احاديث ګڼل کيږي حال دا چې دهغې روايت خو دې بي بي رضـی الله عنها يوازې کړی وو او دا ددې خبرې ثبوت دی چې يوازې ديوې ښځې ګواهي هم د منلو وړ ده ډېر فقها پدې خبره باندې اتفاق لري چې د مياشتې د لېدلو په اړه ديوې ښځې ګواهي دمنلو وړ ده تاسې فکر وکوئ چې ديوې ښځې ګواهي د روژې په شان ديو مهم فرض په شروع کې د منلو وړ وي نو پدې کې بيا نور څه شك پاتې کيږي؟

د بعض فقهاوو په نيز د رمضان د شروع لپاره يو ګواه او د اختر دمياشتې د لېدلو لپاره دوه ګواهان په کار دي او پدې کې دنر او ښځې هيڅ فرق نشته .

په بعض معاملاتو کې صرف دښځو ګواهي معتبره ده :

او داسې ځايونه هم ډېر شته چې هلته د نارينه ګواهي بالکل د قبول وړ نده او هلته صرف دښځې ګواهي آورېدله کيږي لکه په کومه مقدمه کې چې هغه ښځه ګواهي ورکولی شي چې هغې زنانه مړي ته غسل ورکړی وي او داسې نور ددې مثالونه ډېر دي .

# ميراث

پوښتنه : د اسلام د قوانينو له مخې ښځه ولې د سړي نيمه برخه وړي ؟

ځواب : د ميراثو په اړه قران کريم ښه په تفصيل سره او په جامع انداز کې رهنمايي کړېده او د ميراث برخه من خلك يې په تفصيل سره بيان کړي دي .

په قران کریم کې د میراثو ذکر
په قران کریم کې په لاندې ځایونو کې د میراث ذکر شوی دی :
سورت بقره آیه 180
سورت بقره آیه 246
سورت نساء آیات 7 او 9
سورت نساء آیه 19
سورت نساء آیه 33
سورت مائده آیات 106 نه تر 108
په میراث کې د وارثانو برخه
د قران کریم دری آیتونه داسې دي چې په هغې کې د وارثانو تفصیل ذکر شوی دی او برخه یې هم معلومه کړل شوېده .
په سورت نساء کې الله تعالی فرمايي :

يُوصِيكُمُ اللّهُ فِي أَوْلاَدِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ فَإِن كُنَّ نِسَاء فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَا نَ لَهُ وَلَدٌ فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِن كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلأُمِّهِ السُّدُسُ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ آبَآؤُكُمْ وَأَبناؤُكُمْ لاَ تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعاً فَ رِيضَةً مِّنَ اللّهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيما حَكِيمًا وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِ ن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا

تَرَكْتُم مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَو امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ فَإِن كَانُوَاْ أَكْثَرَ مِن ذَلِكَ فَهُمْ شُرَكَاء فِي الثُّلُثِ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَآرٍّ وَصِيَّةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ

سورة النساء اية 11-12

ترجمه : ستاسې د اولاد په اړه الله تعالى تاسې ته لاز ښونه کوي :

- د نر حصه د دوو ښځو برابره ده
- که دمړي وارثان له دوو څخه زياتې جينکۍ وې نو هغوی ته دې د ميراث 2/3 دوه دريمې برخې دي او که يوه جينۍ وارثه وه نو هغې ته دې 1/2 نيم ميراث ورکړل شي .
- که د مړي اولاد وي نو دهغه مور او پلار ته دې هر يو ته د ميراث نه 1/6 شپږمه برخه ورکړل شي .
- او که دمړي اولاد نه وو نو مور ته يې دې 1/3 دريمه برخه ورکړل شي .

او که دمړي ورور او خور هم وي نومور د 1/6 شپږمې برخې لائقه وي .
دا ټولې برخې به هغه وخت تعين کيږي کله چې دمړي وصيت پوره کړل شي او هغه قرضونه چې په ده باندې وو هغه اداء کړل شي .
تاسې نه پوهېږئ چې ستاسې په مور پلار او اولادکې د نفع او فايدې په حساب څوك تاسې ته ډېر نږدې دي ، دا برخې الله تعالى تعين کړي دي او بېشکه چې الله دټولو حقيقتونو څخه ښه خبر دی او په ټولو مصلحتونو باندې ښه پوهيږي .

- او ستاسې ښځو چې کوم مال پرېښی دی په هغې کې نيمه حصه تاسې ته رسيږي که دهغې اولاد نه وو او که دهغې اولاد وو نو دميراث

څلرمه برخه ستاسې ده کله چې دهغه وصيت پوره کړل شي او هغه قرض چې په ده باندې دی هغه اداء کړل شي .

- او ښځې ستاسې له ميراث څخه د 1/4 څلرمې حقدارانې وي که ستاسې اولاد نه وي او که ستاسې اولاد وي نو بيا دهغوی برخه 1/8 آتمه وي خو وروسته دهغې نه چې د مړي وصيت پوره کړل شي او که په ده باندې قرض وو هغه اداء کړل شي .
- او که هغه سړی او يا ښځه بې اولاده هم وي او مور اوپلار يې ژوندي هم نه وي مګر دهغه يو ورور او يوه خور موجوده وي نو ورور او خور به هر يو 1/6 شپږمه برخه اخلي .
- او که ورور خور له يو څخه زيات وو نو د ټول ميراث په 1/3 دريمه کې هغه شريکان دي خو وروسته دهغې نه چې د مړي وصيت پوره کړل شي او که په ده باندې قرض وو هغه اداء کړل شي پدې شرط چې هغه ضرر رسونکی نه وي ، دا حکم د الله تعالی له لوري دی او الله تعالی پوه ، ليدونکی او حليم دی .

په بل ځای کې الله تعالی د کلاله (داسې شخص چې نه يې اولاد وي او نه يې مور پلار ژوندي وي) په اړه فرمايي :

ای پيغمبره! دوی لـتا څخه پوښتنه کوي د کلاله په اړه ته ورته ووايه چې الله تعالی دهغه په اړه فتوی ورکوي چې که څوك کلاله مړ شي او دهغه يوه خور وي نو په ميراث کې به نيمه برخه ورته ورسيږي او که خور بې اولاده مړه شي نو ورور به دهغه ميراث خور وي که د مړي وارثانې دوه خويندې وي نو هغوی به دميراث څخه د دريمې برخې حقدارې وي او که متعدد ورونه او خويندې وي نو بيا به دښځو يوه او د سړيو دوه برخې وي الله ستاسې لپاره احکام په ښکاره توګه باندې بيانوي ترڅو تاسې بې لارې نه شئ الله تعالی په هرشي باندې پوهيږي .

سورت نساء آيه 176

ښځو ته کله کله د سړیو سره برابر یا له هغې څخه هم زیاته برخه ورکول کیږي :

ښځو ته په قانوني توګه باندې په میراثو کې د سړي په نسبت نیمه برخه رسیږي لکن په ځینې معاملو کې دا اصول بدلېدلی هم شي دمثال په توګه :

مړی چې نه دځان څخه وروسته ښځه پریږدي او نه خو دهغه مور پلار ژوندي وي پدې صورت کې که ناسکه وروڼه(صرف دمور نه وي) وي نو هغوی ته به برابره شپږمه برخه رسیږي که د مړي زامن پاتې وي نو که مور پلار ژوندي وي نو دوی ته هم شپږمه برخه ورکوله کیږي په بعض صورتونو کې ښځې ته د سړي غبرګه برخه ورکوله کیږي یعني په هغه صورت کې چې یوه ښځه مړه شي او دهغې نه اولاد وي او نه یې ورور او خور وي او د مړي مور پلار ژوندي وي نو خاوند ته د ښځې له میراث څخه نیمه برخه ورکوله کیږي او پلار ته شپږمه برخه ورکوله کیږي او مور ته دریمه برخه تاسې وینئ چې پدې صورت کې ښځې تر خاوند څخه زیاته بلکه دهغه دوه چنده برخه یوړه .

په عامه توګه باندې په میراثو کې ښځه دسړي نیمه برخه وړي :

دا خبره صحیح ده چې په میراث کې سړي ته دښځې دوه چنده برخه ورکوله کیږي دمثال په توګه :

i. لور ته د زوی نیمه برخه ورکوله کیږي

ii. سړی چې مړ شي اولاد یې نه وي ښځې ته یې د میراث نه آتمه برخه او که ښځه پدې صورت کې مړه شي خاوند ته څلرمه برخه ورکوله کیږي

iii. که د مړي اولاد وي نو ښځې ته د خاوند له میراث څخه څلرمه او خاوند ته د ښځې له میراث څخه نیمه برخه ورکوله کیږي .

iv. که د مړي اولاد نه وي او دهغه مور پلار هم مړه شوي وي نو دهغه خور ته چې په میراث کې کومه برخه ورکوله کیږي هغه د ورور نیمه وي .

سړي ته په میراث کې تر ښځې څخه زیاته برخه ددې لپاره ورکوله کیږي چې دکور دچلولو ذمه واري په ده باندې ده .
اسلام په ښځو بـاندې هیڅ قسم مـالي ذمـه واري نده ور اچولـې او د کور د ټولـو مصارفو بوج باید سړی پورته کړي د واده نه وړاندې دښځې د اوسېدلو ځای ،دښځې جامې، او نـور مـالي ضرورتونه او دهغـې نـوره سـاتنه پـلار او ورور کـوي او د واده نه وروسته دا ټوله ذمه واري دخاوند په غاړه باندې شي .

اسلام د خپـل کور د ټولو مصارفو ذمه وار نارینه ګڼلی دی او ددې لپاره یې د هغـه سره دمرستـې کولـو لپـاره پـه میراث کې هغه ته دښځې په مقابل کې غبرګه برخه ورکړېده دمـثال په توګه یو سړی مړ شو او یو نیم لك روپۍ ترې پاتې شوې او یـو زوی او یـوه لـور یې پاتې شول نو تقسیم به یې داسې کیږي چې یو لك به زوی ته ورکړل شي او پنځوس زره به جینۍ ته ورکړل شي .
دهلك نه به دا ټولې روپۍ بېرته په خپل کور کې مصرف شي ځکه چې ددېنه وروسـته خو دکـور دچلولو ذمه واري ده ته ورپاتې شوه او د جینۍ په سر چې هیڅ مالي مسئولیت نشته نو دا پنځوس زره هم ورسره ډېرې دي .
او که تاتـه څوك اختیار درکړي چې ستـا خوښه چې دا یولك روپۍ اخلي لکن مصرف کوې به یې او که نه دا پنځوس زره اخلي او دا ټولې ستا نو ته به کوم صورت خوښ کړې؟

# آیا قران کریم د الله تعالی په کلام باندې مشتمل دی

ښتنه : کافرانو دا الزام هم لګولو چې قران کریم پخپله د رسول الله صلی الله
لیه وسلم لیکنه ده نو ددې لپاره څه دلیل دی چې قران دخدای کلام دی ؟
واب : الله تعالی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وړاندې کوم
یغمبران رالیږلې دي هغه د یو خاص او محدود وخت لپاره وو مګر د رسول
لله صلی الله علیه وسلم رسالت به تر قیامت پورې باقي پاتې وي د قران کریم په
سورت حج کې الله تعالی فرمایي :

ومَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ

سورت حج آیت 107

رجمه : او مونږ ته د ټولې دنیا د خلکو لپاره رحمت لیږلی یې .
ځرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولې نړۍ لپاره رحمت دی ددې
مله ده صلی الله علیه وسلم چې کوم پیغام راوړی دی هغه هم همیشنی دی الله
عالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بې شمارې معجزې ورکړې وې مګر هغه
ه هغه وخت کې ښکاره کړل شوې او قران کریم یوه داسې معجزه ده چې دا
ه تر قیامته پورې په هره زمانه کې پاتې وي بلکه اوس خو یې لاتصدیق په
سائنسو تجربو سره هم کیږي .
قران کریم د ماخذ په اړه دری نظریې :
وښتنه : د قران کریم د ماخذ په اړه عمومي نظریې څه دي؟
واب : پدې اړه دری نظریې مشهورې دي

د قران کریم په اړه د مسلمو او غیر مسلمو پدې خبره اتفاق دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه شخصیت دی چا چې د زمکې پر مخ د ړومبي ځل لپاره د قران کریم تلاوت کړی دی لکن تر کومه ځایه پورې چې د قران کریم د ماخذ خبره ده هلته دری نظریې تر بحث لاندې راځي .

1. قران کریم په خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم کلام دی کوم چې ده پخپله د شعوري، بې شعوري، نیم شعور په عالم کې جوړ کړی دی .

2. رسول الله صلی الله علیه وسلم پخواني اسماني کتابونه کتلی او له هغه ځخه یې اخذ کړی دی او یا یې انساني ذرائع استعمال کړي دي یعني دخلکو له سینو ځخه یې اخذ کړی دی او د خلکو یو له بل ځخه نقل شوي روایات یې جمع کړي دي او د یو مکمل کتاب شکل یې ورکړی دی .

3. قران کریم نقطه په نقطه د الله تعالی کلام دی کوم چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی دی
راځئ چې پدې دریو نظریو باندې تفصیلي ځېړنه وکړو .

# آیا قران کریم د رسول الله صلی الله علیه وسلم اختراع ده ؟

ترکومه ځایه پورې چې د اولې نظریې تعلق دی چې قران کریم د رسول الله صلی الله علیه وسلم اختراع ده د فکر خبره داده چې یو انسان پخپله دداسې لوی شي د اختراع ځخه انکار کوي په هغه پسې په زور ترل ځومره مشکل دی ؟ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله همیشه ددې خبرې ځخه انکار کړی دی چې گڼي قران کریم دده خپل تصنیف دی مگر دا زمونږ د مهربانو کفارو کمال دی چې په زور سره دا قران کریم هغه ته منسوب کوي

نو دا عقیده چې هرڅوك کوي نعوذ بالله په رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې دروا‌غ تړي او په هغه باندې عقیده کوي چې دی دروغ وایي چېرته چې د تاریخ ورقې پدې ګواهي ورکوي چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې تر څلویښت کلنۍ پورې یعني ترکومه وخته پورې چې هغه مبعوث شوی نه وو هیڅ کافر هم دا نه وو ویلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دروا‌غ ویونکی دی بلکه ده ته به د صادق (رښتیا ویونکي) او امین (امانت ساتونکی) دراندە لقبونه او نومونه استعمالېدل او که د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کې چا دا ګستاخي کړې هم ده چې ده ته یې د درواغو نسبت کړی وي هغه دده د نبوت څخه وروسته دي او بیا هم سره ددې چې خلکو به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ددې وجې بد ویل چې ده صلی الله علیه وسلم به دهغوی د بتانو سپکه ویله خو بیا به یې هم د ضرورت په وخت کې امانتونه له همده صلی الله علیه وسلم سره اېښودل نو ددې سره بیا ددې خبرې فکر څنګه کېدلی شي چې دی دروا‌غ وایي چې قران کریم د الله کتاب او دی صلی الله علیه وسلم دهغه رسول دی ؟

# آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د منصب او مال طلبګار وو؟

ترکومه ځایه پورې چې د کفارو ددې دعوا تړون دی چې د قران کریم او نبوت معامله رسول الله صلی الله علیه وسلم د مالي فایدو او د دنیا د منصب د حاصلولو لپاره وکوله نو پدې اړه ویل کېدلی شي چې په دنیا بالخصوص په هندوستان کې د داسې جعلي پیغمبرانو کوم کمښت نشته کوم چې د دنیاوي عیش او عشرت لپاره داسې ډرامې کوي لکن ترکومه ځایه پورې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلق دی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم تر

پیغمبری څخه وړاندې له مالي اړخه آسوده وو او دښه ژوند خاوند وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم واده په 25 کلنۍ کې له حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنه الله عنها سره وشو کومه چې یوه مالداره تاجره وه ، له واده څخه وروسته 15 کاله رسول الله صلی الله علیه وسلم په مالدارۍ کې تېر کړل چې کله هم ورته د لاس د تنګېدلو تکلیف پېښ نه شو الله تعالی پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم دژوند دې بدلون ته په قران کریم کې اشاه کړېده چې فرمايي :

وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَى

سورة ضحی اية 8

ترجمه : او ته یې پیدا کړې فقیر بیا یې مالدار کړې .

کله چې د الله تعالی له لورې رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغمبر شو څرنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولې توجه مرکز د رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل مشن یعني خلکو ته د الله تعالی د پیغام رسول شول او ددې وجې نه رسول الله صلی الله علیه وسلم دنیایي کارونو ته توجه نشو کولی نو دا مالداري یې پخپله رضا په غریبۍ باندې بدله کړه د علامه نووي رحمه الله د مبارك تصنيف رياض الصالحين د 492 حديث له مخې له حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې د غریبۍ داسې حالت وو چې تر دوو میاشتو پورې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کې د نغري د بلېدلو فرصت نه راتلو ځکه چې د پخولو لپاره به څه شی نه وو ، پدې ورځو کې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم خاندان او پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم په خورما او اوبو باندې ګذاره کوله کله کله به دکوم صحابي رضی الله تعالی عنه له کوره څخه د اوزې شودې راغلې یا به با دخوراك شی راغلل او دا د صرف یو څو ورځو ژوند نه وو تر کلونو کلونو پورې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دکور همدا ګذاره وه .

د رياض الصالحين د 465 او 466 احاديثو له مخې حضرت بلال رضى الله تعالى عنه فرمايي كله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هديه او د خوراك څه شى راغلل نو ده صلى الله عليه وسلم به ضرورت مندو خلكو ته ليږل او كله به يې هم د ځان لپاره د سبا په نيت نه ايښودل پداسې شخص باندې دا الزام څنګه لګول كېدلى شي چې ده به د دنيايي فايدې لپاره نعوذ بالله له غلط بيان څخه كا ر اخستى وي د قران كريم په سورت بقره كې الله تعالى د هغه خلكو لپاره (تباهي او بربادي، دجهنم يوه ډېره بده برخه) ياده كړې ده څوك چې د خپلو خبرو نسبت الله تعالى ته كوي .

الله تعالى فرمايي :

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَـٰذَا مِنْ عِندِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا يَكْسِبُونَ

سورة بقره 79

ترجمه : دهغه كسانو لپاره ويل (تباهي او بربادي، دجهنم بد ترينه برخه) ده څوك چې دخپل لاس ليكلى كتاب الله تعالى طرف ته منسوب كوي او پدې توګه باندې دنيا حاصلوي د دوى لپاره او د دوى د ليكل شويو او د حاصلې شوې دنيا لپاره ويل دى .

الله تعالى هغه كسانو ته بربادي او هلاكت اعلان كړى دى چې په خپل لاس باندې كتاب وليكي او نسبت يې الله تعالى ته وكوي او

دا خبره ثابته شوېده : هغه كسان چې د خپلو خبرو نسبت الله ته كوي يا په الهي كلام كې تحريف كوي چېرته نه چېرته خامخا بې پردې كيږي نو كه رسول الله صلى الله عليه وسلم هم داسې كړي واى نو دى صلى الله عليه وسلم به هم خامخا چېرته بې پردې كېدلو .. كوم انسان چې د دنيا د منصب او دنيايي

مفاداتو په طلب کې وي دا هرڅه د څه لپاره کوي ؟ خو ددې لپاره چې هغه دې شاهانه لباس و اغوندي، ښه خوراکونه دې وکوي ، او په ښه کور کې و اوسیږي چېرته چې د نوکرانو ډلې دده وړاندې وروسته ګرځي مګر زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند لدې ټولو ګندګیو څخه پاك وو ده صلی الله علیه وسلم به د بېزې شودې پخپله را لوشلې ، خپلو جامو ته به یې پیوند پخپله لګولو ، خپلې څپلۍ به یې پخپله ګنډلې، او دکور دکارونو دکولو څخه یې هم د هېڅ شرم احساس نه کولو ، دده صلی الله علیه وسلم ټول ژوند په سادګۍ او عاجزۍ باندې ښائسته وو، دی صلی الله علیه وسلم به په خاورو باندې بې تکلیفه کېناستلو، له بازار څخه به یې پخپله سودا راوړه، دده صلی الله علیه وسلم سره به نه کوم مزدور وو او نه کوم باډي ګارډ (ساتونکی)، ترټولو غریب صحابي به هم چې دی و غوښتلو ده صلی الله علیه وسلم به دهغه دعوت منلو او ورکره ورتللو به ، له هغه سره به کېناستلو او خوراك به یې ورسره کولو او پدې حالت کې به یې دخوشحالۍ احساس کولو، کوم شی به چې حاضر وو د شوق سره به یې خوړل،

رسول الله صلی الله علیه وسلم د درواغو ویلو بیماري نه درلوده :

بعض مستشرقینو تردې پورې د خپل باطن د ګندګۍ اظهارکړی دی چې دوی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د درواغو ویلو بیماري لرله (پدې بیمارۍ کې که انسان دروا غ وایي ده ته احساس Mythomania نه کیږي چې دی دروا غ وایي او دی له پوره دیانت سره هغه ته د رښتیا په سترګه ګوري)

په اصل کې د مکې مشرکین پخپله د Mythomanic بیماران وو ویل به یې : محمد (صلی الله علیه وسلم الله علیه وسلم ) دروا غ وایي ( نعوذبالله) او دا دعوه به ورته صحیح هم ښکاره کېده ، د قران کریم اندازه دا وه چې ورته ویل به یې : که ستاسې په ذهن کې دا وي چې قران کریم دروا غ دی نو بیا تاسې داسې وکوئ ، داسې وکوئ ، او داسې وکوئ مختلف آیتونه داسې

دي چې په هغې کې دوی ته چلنج ورکړل شوی چې تاسې که دا قران دروغ گنئ نو تاسې هم داسې څه جوړ کړئ .
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لیونی هم ویل شوي وو:
کفارو به رسول الله ته لیونی هم ویل او ددې فکر به یې نه کاوه چې په قران کریم کې څومره داسې واقعې دي چې هغه مخکې تېرې شوې دي او که الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نه وای ویلي نو ده ته یې علم نه وو او څومره پیش گویانې دي چې وروسته ثابتې شوې او څومره سائنسي حقیقتونه دي چې اوس یې تصدیق کیږي
په قران کریم کې هم ددې افتراء گانو تردید موجود دی په سورت اعراف کې ارشاد دی :

أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُواْ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍ إِنْ هُوَ إِلاَّ نَذِيرٌ مُّبِينٌ

سورة اعراف اية 184

ترجمه : آیا دې خلکو پدې خبره باندې غور ندی کړی چې ددوی ملگری (پیغمبر) لېږ هم لېونی ندی هغه خو یو ښکاره ډارونکی دی (له اور او له عذاب د آخرت)
په همدې توگه په سورت قلم کې الله تعالی فرمایي :

مَا أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ

سورة قلم اية 2

ترجمه : ته د خپل رب له فضل څخه لېونی نه یې .
همدا موضوع په سورت تکویر کې هم مطرح شوېده :
وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ

سورة تکویر اية 22

ترجمه : او ستاسې ملگری لېونی ندی

او بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د درواغو ويلو ضرورت څه وو ، ټولو خو په رسول الله صلى الله عليه وسلم ته امين او صادق (رښتيا ويونكى) ويل په يو مجلس كې د هغه ټولو اعتراضونو او افتراء ګانو را ټولول ممكن ندي د سوالونو په دوران كې كه كوم اعتراض را وړاندې شو نو انشاء الله زياد بحث به پرې وكوو

رسول الله صلى الله عليه وسلم قران كريم د نورو پخوانيو كتابونو څخه ندى راټول كړى :

وَمَا كُنتَ تَتْلُو مِن قَبْلِهِ مِن كِتَابٍ وَلَا تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ إِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُونَ

سورة عنكبوت اية 48

ترجمه : ددې نه وړاندې به تا كوم كتاب نه لوست او نه دې په خپل لاس كوم كتاب ليكلى دى ترڅو دا باطل پرست خلك په شك او شبه كې واقع شي .

له الله تعالى څخه څوك هم زيات پدې خبره نه وو خبر چې دا بې لارې خلك به دا اعتراض ضرور را پورته كوي چې ګڼي رسول الله صلى الله عليه وسلم به دا قران كريم د مخكنيو كتابونو څخه راټول كړى وي ځكه څرنګه چې د ټولو اسماني كتابونو سرچينه يوه ده نو ددوي په مينځ كې د خبرو ورته والى او يو والى يو حقيقت دى ددې وجې نه الهي حكمت وو چې الله تعالى خپل وروستى پيغمبر يو امي انسان انتخاب كړو ځكه كه رسول الله صلى الله عليه وسلم لوستل كولى شول او په دنيايي حساب د تعليم خاوند واى نو ددې افتراء به بيا هم يوڅه وزن وو .

په بل ځاى كې په قران كريم كې الله تعالى فرمايي :

تَنزِيلُ الْكِتَابِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ۝ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّا أَتَاهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ .

سورة سجده اية 1-3

ترجمه : بېشکه ددې کتاب نازلېدل د ټول جهان د پروردګار له لوري شوي آيا دوی وايي چې دا رسول الله صلی الله عليه وسلم له ځانه جوړ کړی دی (نه) بلکه دا ستا د رب له لورې راغلی دی ترڅو ته دوی و ډاروې چاته چې ستا نه مخکې کوم يو ډارونکی نه وو راغلی ترڅو دوی سمې لارې ته راشي .

په بائيبل کې هم په کتاب Isaiah کې ليکلي وو "کتاب په هغه پيغمبر باندې نازل شو چې هغه ليکل او لوستل نشوای کولی"

هغه کفار چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې دا الزام لګوي چې ګني ده صلی الله عليه وسلم قران کريم له بائبل څخه را نقل کړی دی هغوی ته شايد دا معلومه نه وي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې خو بائبل په عربي ژبه کې ترجمه شوی هم نه وو او د تاريخي حقايقو له مخې ټولو ته معلومه ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د عربې نه سوا په بله ژبه خبرې هم نشوای کولی .

د (عهد نامه قديم) تر ټولو لمړنی ترجمه کومه چې په عربي ژبه کې وشوه هغه په 900 کال کې R.Sadias Gaon وکړله کومه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دوفات نه دوه سوه کاله وروستنی خبره وه او د (عهدنامه جديد) لمړنی عربي ترجمه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وفات نه کم زيات 1000 کاله وروسته په 1616 کې منظر عام ته راغله کومه چې Erpenius کړې وه .

هو! که د قران کریم او دبائبل په ځینې موضوع ګانو کې مشابهت وي له هغې څخه دا بالکل نه ثابتیږي چې ګني قران کریم له هغه څخه را اخستل شوی دی، صحیح ده د مشابهت له امله ویل کېدلی شي چې د دواړو سرچینه یوه ده، د الله تعالی ټول کتابونه د وحدانیت پیغام ورکوي ددې وجې نه د قران کریم او دمخکنیو اسماني کتابونو په مینځ کې مشابهت شته لکن مخکني کتابونه د یو خاص وخت او دور لپاره وو او اوس په هغوی کې په پوره پیمانه سره لاس وهنه هم شوېده او د انسانانو جوړې کړل شوې خبرې په هغوی کې زیاتې شوې دي، او د دووشیانو یو بل ته ورته کېدل خو څه نوې خبره نده، او که په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې مونږ (نعوذبالله) دا الزام ومنو نو د حضرت عیسی علیه السلام ذمه واري به څوک وکوي چې ده عهدنامه جدید د عهد نامه قدیم څخه را ټوله کړېده ځکه په هغوی کې خو هم ډېرې خبرې سره ورته شوې دي .

په قرآن او بائبل کې کوم کتاب صحیح دی؟

صرف د تاریخي حقیقتونو له مخې دا ویل مشکل دي چې په قران کریم او بائبل کې کوم یو ربنتیا دی مګر سائنسي حقیقتونو ته په نظر سره دا خامخا ښکاره کېږي .

په ښکاره نظر سره د قران کریم او بائبل ډېر واقعتونه او خبرې یو قسم ښکاره کېږي مګر که تفصیلي وکتل شي نو په ډېرو معاملاتو کې به اختلاف ښکاره شي .

دمثال په توګه : په بائبل کې د پیدائش د باب په اول کې د کائناتو ، اسمانونو زمکې پیدا ئښت موضوع کړل شوی دی دهغه له مخې ددې ټولو پیدائښت په شپږو ورځو کې پوره کړل شوی دی او یوه ورځ 24 ساعته وه په قران کریم کې هم په مختلفو ځایونو کې مثلاً په سورت اعراف 54 آیت سورت یونس 3 آیت کې د اسمانونو او زمکې پیداکېدل په شپږو ورځو کې د پوره کېدلو یادښت شوی دی ایام د عربي لفظ یوم جمع ده چې مطلب یې

ده ورځ مګر د دېنه مطلب ډېره اوږده موده ، دور او زمانه هم کېدلی شي ددې وجې نه سائنسدانانو د قران کریم په دعوه باندې اعتراضونه ندي کړي لکن دا ويل صحيح ندي چې زمکه او اسمانونه په هغه شپږو ورځو کې پيدا کړل شوي دي چې يوه ورځ په 24 ساعتونو باندې مشتمله وه .
په بائبل کې دا هم ويل شوي دي چې شپه او ورځ په اوله ورځ پيدا شول (کتاب پيدا ئش باب اول آيت 5،3 ) چېرته چې سائنسدانان وايي چې په مخلوقاتو کې رڼا د ستوريو د رد عمل له وجې وي په همدې توګه د لمر په اړه بائبل وايي : د لمر پيدائښت په څلرمه ورځ وشو ( کتاب پيدائش باب اول آيت 19،14 ) .
لږ فکر ورته وکوئ چې دا څنګه ممکنه ده چې نتيجه دې له کار څخه وړاندې مېنځ ته راشي چې رڼا په څلرمه ورځ پيدا شوه ليکن د شپې او ورځې د پيدائښت په اړه ويل کيږي چې دا په اوله ورځ وشو ، اوس ددې جواب څوك ورکوي له رڼا څخه بغير د ورځې تصور څنګه کيږي او رڼا که په څلرمه ورځ پيدا شوه نو دهغې نتيجه يعني ورځ په اوله ورځ څنګه پيدا کېدلی شي ؟
په همدې ډول د زمکې په اړه د بائبل فرمان دی : چې په دريمه ورځ پيدا شوه اوس دا هم د تصور قابل نده چې زمکه دې د ورځې او شپې نه بغير پيدا شي .
قران کريم هم د رڼا او لمر د پيدائښت ذکر کړی دی لکن دهغه بيان شوی ترتيب د سائنس په چپه ندی نو بيا د نقل افتراء کونکی څنګه کولی شي چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې الزام ولګوي چې دا يې له بائبل څخه نقل کړی دی او بيا يې د هغه دسائنسي غلطيو تصحيح کړېده حال دا چې 1400 کاله وړاندې د سائنسي علومو له سره وجود نه وو .
د بائبل په (کتاب پيدائش) کې دا خبره هم راغلې ده (باب اول آيت 13،9 ) چې زمکه په دريمه ورځ پيدا شوه چېرته چې د لمر او سپوږمۍ ذکر دا سې

دی "د لمر او سپوږمۍ پيدا کېدل په څلرمه ورځ وو) (آيت 14،19) او ساينس مونږ ته را ښيي چې زمکه او سپوږمۍ په اول کې د لمر حصه وو په همدې ډول دا څنګه ممکنه ده چې زمکه د لمر څخه مخکې پيدا شي او دده برخه شي دا دساينس نه لرې خبره ده .

يوه بله له ساينس نه لرې خبره : د بائبل دعوه ده چې نباتات ، تخمونه او بوټي ، ونې و غېره په دريمه ورځ پيدا شول (کتاب پيدائش باب اول آيات 11،13) او چې د لمر پيدا کېدل په څلرمه ورځ وو (آيات 14،19) او پدې خبره د اوسنۍ زمانې يو معمولي انسان هم پوهيږي چې د نباتاتو وجود د لمر نه بغير ممکن ندی .

د بائبل په کتاب پيدائش ( باب اول آيت 16) کې ليکل شوي دي : خدای دوه لوی چراغونه پيدا کړل يعني لمر چې دورځې دنيا رڼا کړي او سپوږمۍ چې دشپې خپله رڼا خپره کړي ددې نه ښکاره معلوميږي چې د لمر او سپوږمۍ خپله خپله رڼا ده او په قران کريم کې په سورت فرقان کې ښکاره شوېده چې د سپوږمۍ رڼا خپله نده .

بيا دا څنګه ممکنه ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دې قران کريم له بائبل څخه نقل کړی وي او سائنسي حقيقتونه يې دې پکې اصلاح کړي وي .

قران خدايي کلام دی د حقيقتونو په رڼا کې :

پوښتنه : هغه خلك چې په غيبو سره دا نه مني چې قران دخدای کلام دی هغه په څنګه قانع کول کيږي ؟

ځواب : ددې خبرې لپاره چې قران کريم دالله کلام دی زر دليلونه کېدلی شي او په هرلحاظ باندې ثابتېدلی شي چې دا هماغه الفاظ دي چې الله تعالی په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې نازل کړي دي .

د قران کريم طريقه يوازينۍ ده :

د قران کريم اسلوب له نورو مذهبي کتابونو او صحيفو څخه بدل دې په کوم کې چې د قصو او حکايتونو انداز خپل کړل شوی دی تاسې پوهېږئ

چې قصې څنګه شروع کیږي چې یو ځل یوې ګیدړې انګور خوړل غوښتل
..... همدارنګه کله چې ته پخواني کتابونه وګورې نو دهغې انداز به داسې
وي : تر هرڅه څخه وړاندې الله وو بیا هغه زمکې او اسمانونه پیدا کړل او
بالکل د یو داستان ویونکي انسان چې د بل شخص سره وي او او یا د کو
دخلکو او ماشومانو سره وي داسې وي باب (یا سورت) 1 باب 2 او په
همدې توګه قصه له یوې سلسلې سره چلیږي لکن د قران کریم طریقه ددې
نه بدله ده پدې کې د بعض افرادو او خاندانونو ذکر وي لکن په انساني
انداز کې قصې ندي لیکل شوې څرنګه چې قران کریم یوازینی کتاب دی
ددې وجې نه یې د بیان طریقه هم یوازینۍ او بې مثاله وي .

## د قران کریم دعوی

د قران کریم دعوی ده چې دا یو اسماني کتاب دی او که ته دا خبره نه منې
نو ته بیا خپله مدعا وړاندې کړه چې له کومه شوی دی قران کریم خو په
ځایځای کې دا دعوه کوي چې دا اسماني کتاب دی .
په سورت جاثیه کې الله تعالی فرمایي :

تَنزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ إِنَّ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
لَآيَاتٍ لِّلْمُؤْمِنِينَ

ترجمه : دا آیت د الله له طرفه نازل شوی دی چې غالب او دحکمت خاوند دی
. سورة جاثیه اية 2

دا ذکر په قران کریم کې په مختلفو ځایونو کې راغلی دی چې قران کریم
الله په خپل بنده رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړی دی په همدې
توګه په سورت انعام کې الله تعالی فرمایي :

دسورت انعام په 19 او 92 آیت، د سورت یوسف په اول او دوهم آیت، دسورت طٰهٰ په 113 آیت ، دسورت النحل په 6 آیت، د سورت السجده په 3،2،1 آیت، سورت یٰسٓ په اول ،دوهم او دریم آیت، په سورت الزمر اول آیت، په سورت رحمن اول او دوهم آیت کې او ددېنه علاوه په نورو ځایونو کې هم ددې خبرې ذکر راغلی دی .

## ابو لهب قران کریم درواغ ثابت نشو کړلی .......:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو تره وو ابولهب نه صرف دا چې دایمان له نعمت څخه بې برخې پاتې شوی وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم بد ترین دښمن هم وو دا به اکثر په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې لګېدلی وو کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو اجنبي انسان ته د اسلام دعوت ورکولو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رخصت کېدلو څخه وروسته به دی هغه کس ته ورغلو او پوښتنه به یې ترې وکوله چې هغه کس (رسول الله صلی الله علیه وسلم الله علیه وسلم ) درته څه وویل؟ او ورته ویل به یې : دده په خبر کې رانشې، که هغه تاته وایي ورځ ته وایه چې نه شپه او که هغه درته وایي سپین ته وایه تور هروخت دهغه په سرچپه باندې خبرې کوه .
الله تعالی ددې لعنتي انسان په یاد کې پوره سورت نازل کړی دی (سورت لهب 111) چې په هغه کې ویل شوي دي : ابو لهب او دهغه ښځه به ددوزخ په اور کې سوزي .
چې په اصل کې ددې خبرې دېته اشاره وه چې ابو لهب او دهغه ښځه به تر مرګه پورې اسلام قبول نه کړي . ددې سورت د نازلېدلو څخه لس کاله وروسته ابو لهب ژوندی پاتې شو او دهغه ځینې ملګري چې یو وخت دده په څېر د اسلام او مسلمانانو دښمنان وو د اسلام له نعمت څخه برخه من شول مګر ابو لهب مسلمان نشو حال دا چې که ده غوښتي وای قران کریم یې

دروا غ ثابتولی شول چې ده اعلان کړی وای چې (زه مسلمان شوم او په قران کریم کې زما په اړه فیصله شوې چې زه به دوزخ ته ځم نو په قران کریم کې درواغ راغلل) دده ددې دعوې ښکارولو ته ددې خبرې ضرورت هم نه وو چې دی باید داسې کارونه وکوي لکه مسلمانان يې چې کوي بلکه صرف ددې اعلان ته ضرورت وو چې (زه مسلمان شوم) هو ! هغه داسې انسان هم نه وو چې ده ته د يو درواغ ويل سخت کار وو چې ده په درواغو نشو ويلی (زه مسلمان شوم) او په هغه وخت کې بل يو کافر ته هم په ذهن کې دا خبره ور پيدا نه شوه چې د قران کريم د يو آيت د درواغ کولو لپاره ابو لهب دې خبرې ته آماده او تيار کړي .

دا د قران کريم د برکت لويه نښه ده چې دهغه دښمن هم دده په مقابل کې په لاس ورغلې اسلحه استعمال نشو کړای .

د قران کريم د درواغ ثابتولو لپاره له يهودو سره هم ښه نسخه وه :
د يو بل مثال لپاره د سورت بقره 94-95 آيت وګورئ په هغې کې ويل شوي دي :

قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الآَخِرَةُ عِندَ اللّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالمِينَ

سورة بقره اية 94-95

ترجمه : ای پيغمبره ! ته ورته ووايه که د آخرت کور (جنت) صرف ستاسې لپاره وي د الله په وړاندې او د بل چا لپاره نه وي نو راشئ دخپلې رښتون ولی امتحان وکړئ خپل مرګ وغواړئ ، لکن دوی به دهغه عملونو له امله چې دوی مخکې کړي کله هم مرګ ونه غواړي .

د تاریخ له مخې ثابته ده چې دا آيت هغه وخت نازل شوی دی کله چې دمسلمانانو او یهودانو په مینځ کې دخبرو مناقشه آخري حد ته رسېدلې وه او یهودانو د خپل مذهب د ثابتولو لپاره د دلیلونو امبار جوړ کړی وو پدې وخت کې یهودانو دعوه وکوله چې" جنت به صرف دوی ته ورکول کیږي او ددوی نه سوا یې بل هېڅوك حقدار ندي" الله تعالی ددوی دا دعوه ددوی په مخ ور وویشتله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وفرمایل : دوی ته وو وایه : هو مونږ منو چې جنت صرف ستاسې لپاره دی لکن چې ستاسې پدې یقین دی چې مونږ خامخا د مرګ نه وروسته جنت ته ځو نو راشئ د الله نه مرګ وغواړئ چې ددنیا د تکلیفونو څخه خلاص او جنت ته لاړشئ . په بل آیت کې الله تعالی پسې وفرمایل : دوی به کله هم دخپلو عملونو له امله د مرګ خواهش ونه کوي ځکه دوی پوهیږي چې دوی پدې دعوا کې درواغ ویونکي دي .

تاسې وګورئ دا څومره اسانه وه چې صرف یو یهودي را پورته شوی وای او د خپل ټول یهود قوم د خوشحالۍ او سرلوړۍ لپاره ئې اعلان کړی وای چې زه مرګ غواړم دده د یو اعلان سره به د قران کریم یو آیت درواغ ثابت شوی وو (دوی به کله هم دمرګ امید ونه کوي) دیو یهودي په داسې اعلان سره به څومره لوی انقلاب راغلی وو مسلمانان به دیهودو په وړاندې کم راغلي وو او یهود به په هسکه غاړه ګرځېدل، لکن ددوی بد قسمتي وه چې په ټولو یهودو کې یو داسې هم پیدا نشو سره ددې چې مرګ او ژوند د الله په لاس کې دی کېدی شي الله دی مړ کړی هم نه وای صرف اعلان ته ضرورت وو .

# د قران د درواغو د ثابتولو لپاره چلنج تر قيامت پورې دی :

پريږدئ دا خو د تېرې زمانې خبرې وې او هغه وخت تېر شوی دی د نن زمانې لپاره هم چلنج شته چې تر قيامت پورې به موجود وي هرڅوك چې غواړي خپل قسمت دې پرې و آزمايي .
په سورت اسراء كې الله تعالى فرمايي :

قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَـذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا

سورة اسراء اية 88

ترجمه : ورته ووايه كه ټول انسانان او پيريان را ټول شي چې ددې قران مثل جوړ كړي نو دوی به ددې مثل جوړ نه كړای شي اګر كه دوی يو له بله سره مرسته هم وكوي .
په همدې توګه په سورت الطور كې ويل شوي دي :

أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا صَادِقِينَ

سورة الطور اية 33-34

ترجمه : آيا دوی وايي چې دا قران نبي پخپله جوړ كړی دی ، حقيقت دادی چې دوی ايمان نه راوړي او كه ددوی دا خبره رښتيا وي نو دوی دې هم ددې په مثل يو جوړ كړي

څرنګه چې الله تعالی پدې خبره ښه پوهیدو چې اعتراض کونکي خو ټول قرآن لاڅه یو آیت هم نشي جوړولی لکن بیا هم الله تعالی ددوی دښه ملامت کولو لپاره دوی ته بیا چلنج ورکړو چې ځئ ټول قران خو لرې خبره ده لس داسې آیتونه جوړ کړئ لکه دقران الله تعالی فرمایي :

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُواْ بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُواْ مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ

سورة هود اية 13

ترجمه : آیا دوی وایي چې قرآن پیغمبر له ځانه جوړ کړی دی ، ته ورته ووایه تاسې هم داسې لس آیتونه جوړ کړئ او د الله تعالی نه بغیر څوك چې را غوښتی شئ د مرستې لپاره هغه را وغواړئ که تاسې ربښتیا وایاست .

مګر په عربي دنیا کې چې پدې وخت کې لوی لوی شاعران موجود وو ددې سره سره چا هم دا چلنج قبول نه کړو او نه چا لس آیتونه تیار کړل او کله چې اعتراض کونکي پدې امتحان کې هم پاتې راغلل نو الله تعالی ورته امتحان یو څه نور هم اسان کړو په سورت یونس کې یې ورته وفرمایل :

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُواْ بِسورة مِّثْلِهِ وَادْعُواْ مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ

سورة یونس اية 38

ترجمه : آیا دوی وایي چې دا رسول الله صلی الله علیه وسلم له ځانه جوړ کړی دی ، نو ته ورته ووایه بیا تاسې ددې په مثل صرف یو سورت جوړ کړئ او د الله نه بغیر چې له چا څخه مرسته غوښتلی شئ ترې ویې غواړئ که چېرته تاسې ربښتیا وایاست .

د الله تعالی حکمتونو ته وګورئ چې هغه په قران اعتراض کونکي څنګه په حکمت سره په خبرو کې را تولوي او یو کونج ته یې حصاروي ترڅو چې دهغوی په ملامتولو کې هیڅ شك پاتې نشي او الله تعالی هغوی ته امتحان داسې اسان کوي چې هغوی په هیڅ قسم و نه تښتي او نه د تیښتې لاره پیدا کړي او دخپل ځان د درواغو اقرار وکوي چې کله دوی په قران کریم کې کتل کتل او یو داسې سورت یې هم پیدا نه کړو چې دوی پدې وتوانیږي چې دهغې مثل وړاندې کړلی شي (او نه به یې وړاندې کړي) او بیا هم الله تعالی دوی ته فرمایي :

وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُواْ شُهَدَاءكُم مِّن دُونِ اللّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ وَلَن تَفْعَلُواْ فَاتَّقُواْ النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ

سورة بقره اية 23-24

ترجمه : مونږ هغه څه چې په خپل بنده باندې نازل کړي دي که ستاسې ته په هغې کې شك وي نو دهغې په مثل یو سورت تاسې هم جوړ کړئ تاسې ته اختیار دی د الله نه بغیر چې له چا څخه مرسته غواړئ نو ترې ویې وغواړئ ، پس که تاسې دا کار ونشو کولی او بالکل به یې ونشئ کولی نو بیا دهغه اور څخه وډارشئ دکوم چې خاشاك انسانان او تیږې دي کوم چې د کافرانو لپاره تیار کړل شوی دی .

تاسې وګورئ الله تعالی یو چلنج ورکړو چې که تاسې ته قران درواغ ښکاره کیږي تاسې هم دقران په مثل یو کتاب جوړ کړئ ، بیا یې هغه ورته اسانه کړو چې ځئ لس آیتونه ددې د آیتونو په مثل جوړ کړئ ، بیا یې ورته نور هم اسانه کړو چې ځئ تاسې صرف داسې یو سورت جوړ کړئ او په آخر کې

یې نور هم ورته اسان کړو چې که همداسې سورت نشئ جوړ ولی دهغه دکوم
سورت په مثل سورت جوړ کړئ (من مثله) او هغه ښکاره کړئ .
دیادښت وړ ده چې په کوم وخت کې قران نازلېدو عربي شاعري په عروج
کې وه او عربو به په خپله ژبه باندې داسې فخر کولو چې غیر عربو (عجمو)
ته به یې ګونګیان ویل ، په عربي زمکه باندې یو له پاسه بل عربي ماهر
موجود وو کوم چې ددې ژبې له ټولو باریکیو څخه خبر وو مګر ددې چلنج د
قبلولو جرئت دېرو کمو خلکو وکولو ځینو د خپل طبیعت او عربي مهارت د
امتحان کولو کوشش وکولو لکن دخلکو دخندا تر حد پورې ناکام شول .

**په قران کریم کې سائنسي حقیقتونه :**

ددې لپاره چې قران کریم د خدای کلام دی یو مهم دلیل دادی چې پدې کې
داسې سائنسي حقیقتونه دي چې دهغې تصدیق اوس کیږي او تر اوسه پورې
یې چاته علم نه وو :

**لویه چاودنه په قران کې :**

ما د یو کس نه چې د الله تعالی نه منکر وو او په سائنسي خبرو پوهېدو
پوښتنه وکوله چې دا کائنات څنګه پیدا شول؟ ویل یې په ابتداء کې داټول
کائنات د یو انبار په شکل کې وو دکوم نه وروسته چې لویه چاودنه
(Secondary Separation) وشوه دکومې په نتیجه کې چې ستوري او
کهکشانونه پیدا شول بیا زمکه په کومه باندې چې مونږ ګرځو دا پیدا شوه
، ما ترې پوښتنه وکوله دا د پریګانو قصه تا چېرته آورېدلې ده؟ هغه
وویل دا دپریګانو قصه نده منل شوی حقیقت دی دکوم چې په قانوني
توګه باندې ثبوت شوی دی ، ما ترې بله پوښتنه وکوله چې دا ټولې خبرې
تاته له کومه ځایه معلومې شوې؟ هغه وویل چې په تېرو پنځوسو نه تر سلو
کالونو کې سائنسي تحقیقاتو ددې پیدائښت پټ راز ښکاره کړو .
په 1973 کال کې څو سائنسدانانو ته د (لویې چاودنې) "بګ بینګ تهیوري"
دنظریې په پېش کولو سره د نوبل انعام ورکړل شو .

زه وايم صحيح ده سائنس دانانو ته په 1973 کې د بګ بينګ تهيوري په پيدا کولو سره د نوبل انعام ورکړل شو لکن زما قران 1400 کاله وړاندې له مخکې نه دا خبره ښکاره کړې ده .
الله تعالی په سورت انبياء کې فرمايي :

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاء كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ

سورة انبياء اية 30

ترجمه : آيا کافرو خلکو دا ونه ليده چې اسمان او زمکه له يو بل سره لګېدلي وو بيا مونږ هغه سره بېل کړل او مونږ هر ژوندی شی له اوبو څخه پيدا کړو ، دا خلك بيا هم ايمان نه راوړي .
دا خبره له تاريخي حقيقتونو څخه ثابته شوېده چې قران کريم 1400 کاله مخکې موجود وو.
ستا دعوه ده چې بګ بينګ تهيوري محض 50 يا 100 کاله وړاندينی ده بيا دا خبره په يو داسې کتاب کې څنګه راغله کوم چې 1400 کاله وړاندې منظر عام ته راغلی وو ؟
زما ددې پوښتنې په جواب کې هغه وويل : کېدلی شي چا به قياس کړی وي

# زمکه مربع ده او که ګرده (ګول)؟

د دهري د لويې چاودنې په اړه نقطه نظر ما پرېښووده مخکې لاړم پوښتنه مې ترې وکوله : ښه ده دا راته ووايه چې زمونږ زمکه په څه شکل کې ده؟ هغه وويل چې مخکې به خلکو ګمان کاوه چې زمونږ زمکه يو فراخ ميدان

دی دکوم چې باقاعده طرفونه او سرحدونه شته او مخکني خلك به داوږده سفر څخه ډارېدل چې چېرته دزمکې د ساحې دختمېدلو سره چېرته د لاندې ونه غورځيږي لکن وروسته سائنس مونږ ته وښوده چې زمکه مسطح نه بلکه ګرده (ګول) ده .

د سائنس دا انکشاف څومره مخکنی دی؟

هغه وويل : شايد سل دوه سوه کاله مخکنی وي که له هغه سره پوره علم واې نو ده به ويلي وو چې سرفرانسس ډريك په 1597 کې د لمړي ځل لپاره دا ثابته کړه چې زمکه ګول ده .

ما دهغه په وړاندې د سورت لقمان آيت ولوست او پوښتنه مې ترې وکوله چې پدې آيت کې فکر وکوه او ماته خپله رايه ښکاره کړه

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى وَأَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ

سورة لقمان اية 29

ترجمه : آيا تاسې نه وينئ چې الله تعالى شپه په ورځ او ورځ په شپه کې ننباسي او تابع کړي يې دي لمر او سپوږمۍ هر يو ګرځي تر نيتې مقررې پورې او يقيناً چې الله په هغه څه چې تاسې يې کوئ خبردار دی .

د ننوتلو نه مراد دا وي چې ورو ورو يې پکې د ننه کوي يعنى شپه ورو ورو د ورځې په رڼا باندې بدليږي او همدا ډول ورځ ورو ورو د شپې په تياره کې پټيږي يعني په شپه او ورځ کې داسې وخت وي چې څه تياره او څه رڼا وي او که زمکه مربع واې دا منظر کله هم ممکن نه وو ځکه په هغه صورت کې خو به يا مکمله تياره وه او يا به د ورځې مکمله رڼا وه ځرنګه چې زمکه ګول ده او په خپل محور باندې تاويږي او د لمر نه را ځرخيږي نو بعض هغه

حصې چې مکملې لمر ته مخامخ وي په هغوی باندې مکمله ورځ وي او نورې علاقې په تياره کې وي او هلته مکمله شپه وي او بعض حصې چې اوس په پوره توګه لمر ته مخامخ نه وي هلته د يوڅه تيارې او يو څه رڼا حالت وي (که کره د چراغ مخې ته کېښودل شي په ښه توګه سره کتل کېدلی شي) لکن که زمکه مسطح وي نو د يوطرف ټولې علاقې به په مکمله تياره کې او د بل طرف ټولې علاقې به په مکمله رڼا کې وای د قران کريم په سورت الزمر کې ارشاد دی .

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى أَلَا هُوَ الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ

سورة الزمر اية 5

ترجمه : هغه پيدا کړي دي اسمانونه او زمکه هغه شپه په ورځ او ورځ په شپه باندې را تاووي او مسخر کړي يې دي لمر او سپوږمی هر يو ګرځي تر نيټې مقررې پورې خبر دار هم دی غالب او ښونکی دی .

پدې آيت کې عربي لفظ يکور استعمال شوی دی دکوم چې مطلب داسې دی لکه پګړی چې پسر تړله کيږي په همدې توګه ورځ د شپې د پاسه او شپه دورځې د پاسه را تاوېدل هغه وخت ممکن وي کله چې زمکه ګول وي د مسطح زمکې سره دا کار نشي کېدلی ، آيا تاسې دا اندازه کولی شئ چې 1400 کاله وړاندې په قران کريم کې ددې خبرو ذکر چا وکولو ، ممکنه ده چې د الله تعالی څخه انکار کونکی ددې په جواب کې هم ووايي چې چا به قياس کړی وي اګر چې دا خبره ډېره له قياس څخه لرې ده خو راځئ مونږ به دا خبره هم نه نيسو مخکې به لاړ شو

د اوبو ګردش (Water Cycle) د قران کريم انکشاف:

په قران کريم کې نور سائنسي حقيقتونه هم ياد کړل شوي دي دمثال په توګه جغرافيه، د اوبو ګردش او داسې نور ...

په سورت الزمر کې الله تعالى فرمايي :

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ

سورة الزمر اية 21

ترجمه : آيا تاسې نه وينئ چې الله تعالى له اسمان څخه اوبه را اورولې دي او بيا يې هغه د چينو او سيندونو په شکل کې په زمکه کې بهولې دي او بيا هغه د ددې اوبو په مرسته ډول ډول فصلونه را شنه کوي چې هغه مختلف رنګونه لري .

د اوبو د ګردش ذکر په قران کريم کې يوځه په تفصيل سره کړل شوی دی او په يوڅه نورو آيتونو کې هم ددې ذکر شوی دی

اوبه د بخارونو په شکل کې پورته ځي او چې کله ښه لوړ شي د وريځې شکل واخلي او وريځ ټينګه شي کله چې يخو طبقو ته ورسيږي په هغې کې تنيدل، برښنا کول او له هغې څخه بارانونه شروع شي ددې خبرې ذکر په سورت المومنون 18 آيت کې او په سورت النور 43 او په سورت الروم 48،24 آيت کې هم شوی دی چېرته چې په سائنس کې برنارډ پيلسی هغه اولنی شخص وو چا چې په 1580 کال کې آبي چکر ( داوبو ګردش) کشف کړو .

سوال دلته دادی چې له هغه څخه وړاندې تقريبا کم يا زيات 1000 کاله وړاندې دا حقيقت په قران کريم کې چا وليکلو ؟

هرشی له اوبو څخه پيدا شوي دي (د قران کريم انکشاف)

په قران کريم کې په سورت انبياء کې الله تعالى فرمايي :

وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاء كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ

سورة انبیاء اية 30

ترجمه : او هرژوندی شی مونږ له اوبو څخه پیدا کړي دي .
تاسې اندازه وکوئ د عربو په صحراء ګانو کې چېرته چې اوبه انتهایي نایاب شی دي چاته دا خیال راتلی شي چې هر ژوندی شی له اوبو څخه پیدا شوی‌س او که دزمکې دحشراتو په شمول د الله تعالی د ټولو ژوندیو مخلوقاتو د تخلیق اندازه لګول غواړي نو د صحراء عرب د وچ او د اوبو او ګیاه څخه د لرې ماحول په سبب ددې هرشي خیال ذهن ته راتلو لکن د اوبو خیال نه راتلو ، لکن سائنس نن مونږ ته ښیي چې خلیه (سیلCell) د هر جسم د مادي بنیادي برخه ده چې هر جسم د لکونو خلیاتو څخه تشکیل شوی وي او د هر سیل ډېره برخه په سائټو پلازم باندې مشتمله وي چېرته چې سائټو پلازم کې 80% اوبه وي پدې ډول په هر ژوندي جسم کې له 50 فیصده نه تر 90 فیصده پورې اوبه وي تاسې فکر وکوئ چې دومره لوی سائنسي حقیقت 1400 کاله وړاندې د چا په ذهن کې څنګه راتلی شو او په قران کریم کې دهغه یادښت د چا د وس خبره وه.
ما چې کله دا حقیقتونه د الله تعالی نه دمنکر په وړاندې کېښودل دهغه ژبه ګونګه وه او له هغه سره زما ددې حوالو هېڅ جواب نه وو او کله چې وړاندې هغه ته ما وویل چې بوټي جوړه جوړه وي ، د شهدو د مچیو دژوند طریقه، او دا چې دهغوی یوه ملکه وي ددې خبرو یاد الله تعالی په قران کریم کې 1400 کاله وړاندې کړی دی دهغه حیرانتیا انتها ته ورسېده ...
فرانس بیکن په ځای باندې ویلي دي چې د سائنس لږ علم انسان دهري کوي او په سائنس ډېر علم انسان په واحد خدای باندې ایمان ته قانع کوي .
دا موضوع دومره فراخه ده چې پدې باندې د دلیلونو انبار جوړېدلی شي چې دهغه دلیلونو څخه ثابتیږي چې قران کریم دالله تعالی کلام دی او پدې

هيڅ شك او شبه نشته او په هماغه حالت کې دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې نازل شوی وو .

## آخرت (حيات بعد الموت)

پوښتنه : تاسې د حيات بعد الموت تصور څنګه ثابتولی شئ؟
ځواب :
په آخرت باندې يقين لکه ايمان بالغيب داسې ندی؟
ډېر خلك پدې باندې حيرانيږي چې يو انسان د چا چې په زندګي کې د سائنس او منطق ډېر دخل وي حيات بعد الموت يعني دمرګ نه وروسته ديوه بل ژوند تصور څنګه کولی شي ددې امله دا خلك يقين کوي چې کوم خلك دمرګ نه په وروسته په يوه بله زندګي باندې يقين کوي دا يوه ړنده عقيده ده مګر داسې نده بلکه د حيات بعد الموت او د آخرت دقيام بنياد په منطقي دلائلو باندې دی

## آخرت يوه منطقي عقيده

په قران کريم کې لږ تر لږه زر آيتونه داسې دي چې په هغې کې د سائنسي حقيقتونو يادونه شوېده زما دخپل کتاب حواله درکول غواړم قران او نوی سائنس تاسې هغه مطالعه کړئ .
په قران کريم کې ياد کړل شوي حقيقتونه په يوڅو سلګونو کلونو کې اوس اوس کشف شول او تر اوسه پورې هم سائنس دومره ترقي نده کړې چې په قران کريم کې د يادو شويو ټولو حقيقتونو انکشاف وکوي .
فرض کړئ چې په قران کريم کې چې څومره سائنسي حقيقتونه ياد شوي دي په هغې کې اتيا فيصده تصديق شوی دی او په شلو فيصدو پسې تر اوسه

پورې سائنس دانان کوشش کوي مګر دهغې په اړه کومه ښکاره خبره نشي کولی ځکه چې دسائنس ترقۍ تر اوسه پورې دې حد ته نده رسېدلې چې د قران کریم ټول بیانونه رښتیا ثابت کړل شي او یا یې په زړورتیا سره رد کړلی شي مونږ د خپل محدود علم په بنیاد باندې ویلی شو چې په هغه شلو کې هم داسې یو فیصد نشته چې هغه دې درواغ وي ددې امله چې که د قران کریم هغه اتیا فیصده حقیقتونه سل په سلو کې صحیح دي او پاتې شل فیصده هم تر اوسه پورې رد کړل شوي ندي نو په منطقي توګه باندې ویل کیږي چې پاتې شل فیصده هم صحیح دي د حیات بعد الموت د وجود چې یاد یې په قران کریم کې شوی دی دا هم صحیح دی.

د امن او انساني قدرونو تصور دحیات بعد الموت نه بغیر بې ځایه دی.

پوښتنه داده چې لاره وهل او غلا کول ښه کاردی که بد کار؟

د هر هوښیار او پوه سړی جواب به داوي چې دا بد کاردی هغه انسان چې د مرګ نه وروسته په ژوند باندې یقین نلري هغه په یو موثر اوزورور مجرم شخص باندې څنګه دا منلی شي چې لاره وهل او غلا کول بدکار دی تاسې فرض کړئ چې زه ددنیا یو زورور مجرم انسان یم مګر ددې سره سره زه یو دښه ذهن لرونکی او د دلیل قوت منونکی انسان یم زه وایم چې غلا کول یو ډېر ښه کار دی ځکه هغه خو ماته د ښه ژوند کولو اسباب په لاس راکړي دي ددې امله زما لپاره غلا کول ډېر ښه کار دی که کوم انسان د دلیل له مخې ماته یقین راکړلی سس شي چې دا زما لپاره ولې ښه کار ندی نو زه به هغه فوراً پرېږدم خلك په عامه توګه باندې همداسې دلیلونه ورکوي.

هغه کس چې غلا ترې وشي هغه به د مشکلاتو سره کورته ځي.

ځینې خلك وایي چې د کوم شخص څخه غلا وکول شي هغه به له تکلیفونو سره کورته ځي زا دا منم چې یقیناً هغه کس چې غلا ترې وشي دهغه لپاره دا بد کار دی مګر زما لپاره دا ښه کار دی ځکه چې که زه له چا څخه زر

ډالر پټ کړم نو په هغې سره زه په پائیو ستار هوټل کې یو مزیدار دعوت نه مزه اخستلی شم .
کله ستا نه پخپله هم غلا کېدلی شي
ځینې خلك دا دلیل وایي چې یو وخت به ستاسې نه هم غلا وشي او څوك به تاسې هم لوټ کړي ( زه ددې په جواب کې وایم) زما نه هېڅوك هم غلا نشي کولی ځکه زه یو زورور مجرم یم او زه ا شاوخوا 100 کسه ساتونکي وي زه چې وغواړم له چا څخه غلا کولی شم مګر لما څخه څوك غلا نشي کولی ډاکه اچول د یوه عام انسان لپاره د خطر نه ډك کار بار دی مګر زما په شان د زورور لپاره پدې کې هېڅ خطر نشته .
کومه ورځ ته نیول کېدلی هم شې
ځینې به یقیناً دا دلیل هم ماته ووایي چې یوه ورځ داسې هم راتلی شي چې ته د پولیسو لخوا ونیول شې ترڅو پورې به ته داسې په امن کې وې (لکن زما جواب به داوي) پولیس ما نشي نیولی ځکه پولیس زما تابع دي زه به پیسې ورکړم او دهغوی خولې به بندې کړم څومره وزیران زما په جیب کې دي او دا خبره صحیح ده چې عام غل د پولیس په ولکه کې راتلی شي او دا به دهغه لپاره بده خبره وي لکن زه د غیر معمولي حد پورې زورور غل یم ددې امله پولیس ماته هېڅ هم نشي ویلی او زه په خپل کار باندې پوره مطمئن یم خو که له کوم دلیل سره ماته څوك ثابته کړي چې دا کار زما لپاره ښه ندی نو زه به هغه پرېږدم .
پدې کې د تکلیف نه بغیر دولت په لاس راځي .
بعض خلك دا دلیل وایي چې دا دولت د خولو د بهولو سره په لاس راځي او تکلیف غواړي او دا دولت ما د خولو دبهولو او تکلیف برداشت کولو سره ندی حاصل کړی ما دا اسانه کاروبار غوره کړی دی نو دا فطري خبره ده چې که کوم یو شخص ته په دوه خبرو کې اختیار ورکړل شي چې د دولت دګټلو لپاره دوه لارې دي یوه اسانه او بله مشکله نو دی به کومه لاره غوره کوي .

دا کار د انسانیت خلاف دی

بعض خلك وایي چې دا کار د انسانیت د شرف خلاف دی او هر انسان باید د ځان سره دبل چا خیال هم وسساتي زه به جواب ورکړم چې د انسانیت لپاره قانون چا جوړ کړی دی او ماته څه ضروري ده چې زه په هغې باندې عمل وکوم دا قانون د جذباتي خلکو لپاره کېدلی شي لکن زه عملیت خوښوونکی انسان نه یم او زما سره د نورو سره دهمدردي کولو هېڅ شوق نشته .

دا خود غرضي ده

ځینې خلك غلا ته دخود غرضي نوم ورکوي او بېشکه دا خبره صحیح ده چې غلا کول خود غرضي ده لکن پوښتنه داده چې زه باید خود غرض ولې نه شم زما غرض د ښه ژوند او عیش سره دی او د ښې زندګي سره دی او پدې کاربار کې ماته هرشی رسیږي .

غلا ته د بدو ویلو لپارهېڅ منطقي دلیل نشته

د غلا د بدي لپاره دا ټول دلیلونه بې فایدې ثابتېدلی شي دا ټول دلیلونه به یو عام انسان مطمئن کړلی شي مګر زما په شان زورور مجرم نشي مطمئن کولی او دا دلیلونه زما لپاره هېڅ حیثیت نلري په هغه یو دلیل کې هم داسې نشته چې هغې دې په منطقي معیار باندې پوره شي .

زما په شان نور داسې خلك هم غلا او زنا ته څه نا څه د جواز او ښه والې لارې پیداکوي او حقیقت دادی چې په پورتنیو دلیلونو کې داسې دلیل نشته چې ما مطمئن کړلی شي چې هغه څه چې زه کوم بد کوم .

دیو مسلمان سره ددې دلیل وي چې هغه یو زورور مجرم ته مطمئن کړي چې دده دا کاربار ښه کار ندی .

راځئ مونږ دې معاملې ته له یو بل لوري څخه ګورو تاسې فرض کړئ چې تاسې د جرمونو ددنیا تر ټولو زورور مجرم یاست چې هغه پولیس خو لا پرېږده وزیران یې هم اخستي دي او ستا سره د خپل ځان دحفاظت لپاره د

محافظينو فوج موجود وي زه ديو مسلمان په حيثيت تادېته قانع كوم چې غلا، زنا او پردى حق خوړل بد كار دى او كه زه هم هغه دليلونه وړاندې كړم چې مخكي ياد كړل شول نو دهغې اندازه به هماغسې وي او ټول به بې فايدې وي او زه پدې پوهېږم چې يو مجرم زورور وي نو دهغه سره هم د دليلونو كمښت نه وي او ددې وجې نه موثر هم وي چې لكه رښتيا داسې ښكاره كيږي .

هرشخص د انصاف غوښتنه كوي

يقيناً چې په دنيا كې هر انسان انصاف غواړي او كه دنورو لپاره نه وي نو لږ تر لږه د ځان لپاره خو انصاف ضرور غواړي ځينې خلك د خپل قدرت او اقتدار نه په بده استفاده سره د نورو خلكو ژوند تنګ كړي او كه ددوى سره پخپله په كومه معامله كې بې انصافي وشي نو دوى اعتراض كوي د اقتدار او قدرت په هوس كې دا خلك دنورو خلكو دمشكلاتو دحس كولو څخه بې خبره وي او ددوى دا ګمان وي چې د دوى په لاس كې قدرت خو نه صرف دوى ته دا حق وركوي چې خپله رايه دې په زور په نورو خلكو باندې مسلطه كړي بلكه دنورو خلكو مخه هم نيسي چې ددوى په خلاف باندې څه كار وكوي .

## الله تعالى قادر مطلق او منصف (انصاف كونكى) دى

دیو مسلمان په حیث به زه یوه مجرم ته پدې باندې یقین ورکړم چې ددې کائناتو مالك الله تعالی دی کوم چې هرځای موجود وي او پدې اړه به زه هغه ته دلیلونه ورکړم چې الله تعالی په هرځای کې موجود وي او دا چې الله تعالی یقیناً له تا څخه ډېر دقدرت خاوند دی او ددې سره سره هغه د انصاف مالك هم دی .

په قران کریم کې الله تعالی فرمایي :

"بېشکه الله تعالی په چا باندې دیوې ذري په اندازه باندې ظلم هم نه کوي "

سورت نساء آیه 40

الله ماته سزا ولې نه راکوي

څرنګه چې که مجرم دښه ذهن او دلیل آورېدونکی انسان وي نو کله چې دقران نه هغوی ته ښکاره سائنسي دلیلونه وړاندې کړل شي نو هغه خو به دخدای په وجود باندې قائل شي لکن بیا به هم دهغه پوښتنه دا وي چې که رښتیا خدای دومره زورور او په هرځای کې موجود وي نو هغه بیا ماته زما دجرم سزا ولې نه راکوي .

بې انصافي کونکی ته یقیناً سزا رسیږي

د هرانسان سره چې بې انصافي کیږي که هغه په مالي توګه باندې وي او یا په کوم بل اړخ کې وي هغه غواړي چې پدې اړه دې له هغه سره انصاف وشي او دده سره یې چې ظلم کړی دی هغه ته باید سزا ورکړل شي او شاید داسې څوك هم پیدا نشي چې هغه دا ونه غواړي چې د لارې وهونکي او غلا کونکي او دښځو دعزت سره لوبې کونکې خلك دې د عبرت او د نورو لپاره ددرس نښه جوړه نه کړل شي اګر چې ډېرو مجرمانو ته سزا هم ورکوله کیږي لکن بیا هم هغه مجرمان هم کم نه وي چې په محکمه کې هغه پاك ګڼل کیږي او په راتلونکي کې هم له هرقسم حساب څخه بې فکره پاتې کیږي او که له یو زورور سره کوم بل دده نه زیات زورور څه ظلم وکوي نو پدې

صورت کې دی غواړي چې هغه زورور چې له ده سره یې ظلم کړی دی باید هغه ته سزا ورکړل شي .

## دا ژوند د آخرت دژوند لپاره امتحان دی

الله تعالی انسان ته دا ژوند د آخرت دژوند لپاره دامتحان په توګه باندې جوړ کړی دی .

په قران کریم کې الله تعالی فرمایي :

الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ

ترجمه : هغه ذات چې پیدا کړي یې دي مرګ او ژوند ترڅو تاسې امتحان کړي چې په تاسې کې څوك نېك عمل کوي الله تعالی بې اندازې غالب او معاف کونکی دی .

سورة ملك ایة 2

## مکمل او حتمي انصاف به دقیامت په ورځ وي

په قران کریم کې الله تعالی فرمایي :

هر ژوندی شی به مړ کیږي او دقیامت په ورځ به تاسې ته ستاسې دعملونو پوره پوره بدلې درکول کیږي بیا هغه څوك چې له دوزخ نه وساتل شول او جنت ته ننه ایستل شول نو هغه خپل مراد ته ورسېدل او نده دنیا مګر صرف د دوکې یو سامان دی .

سورت آل عمران آیه 185

دخپلو دنیاوي عملونو پوره بدله به دقیامت په ورځ هرانسان ته رسیږي د مرګ نه وروسته به هر انسان له نورو انسانو سره راپورته کړل شي او داسې هم کېدلی شي چې یو انسان ته دې دخپلو ځینو عملونو څه سزا او جزا پدې دنیا کې هم ورکړل شي لکن پوره بدل به یې الله تعالی هلته ورکوي داسې

هم کېدلی شي چې يو مجرم پدې دنيا کې تر مرګه پورې دخپلو عملونو سزا
ونه وينې لکن په آخرت کې يې دخپلو عملونو له سزا څخه د محفوظ پاتې
کېدلو هېڅ تصور نشته .

هتلر ته به انساني قانون څه سزا ورکړي

په هتلر باندې الزام لګول کېږي چې هغه 60 لکه يهوديان په اور کې
وسوزول او مړه يې کړل که هغه پوليسو نيولی هم وای نو انساني قانون به
هغه ته څه سزا ورکړې وه چې دهغې سره د انصاف تقاضا پوره شوې وای
زياته نه زياته داسې به يې کړي وای چې هتلر به يې هم په اور کې اچولی او
مړ کړی به يې وو لکن دا سزا خو دهغه 60 لکو نه ديويهودي په بدل کې هم
ده ته ورکول کېده باقي د ددې نورو په بدل کې له ده سره څه وشول او دهغې
پاتې 59999 نورو يهوديانو سزا به ده ته چا او څنګه ورکړې وه .

الله تعالی هغه ذات دی چې هتلر د ددوزخ په اور کې 60 لکه ځله سوزولی
شي

په قران کريم کې الله تعالی فرمايي :

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ
بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُواْ الْعَذَابَ

سورة النساء اية 56

ترجمه : بيشکه هغه کسان چې کافران شوي دي په آياتونو زمونږ زرده چې
وبه رسوو مونږ دوی اورته هرکله چې وسوزي ددوی پوستکي نو بدل به کړو
مونږ دوی ته پوستکي نور لپاره ددې چې وڅکی دوی عذاب بيشکه الله
غالب او دحکمت خاوند دی .

که الله تعالی د خپل قدرت کامله سره وغواړي نو هتلر 60 لکه ځله په اور
کې سوزولی شي .

په آخرت باندې ديقين نه بغير د انساني قدرونواو دکوم کار دښه والي او بد والي تصورممکن ندی .

دا خبره بالکل ښکاره ده چې هر انسان چې د بې انصافي مرتکب کیږي په خاصه توګه چې هغه زورور هم وي ترڅو چې هغه د آخرت په ژوند باندې قائل نه کړل شي هغه انساني قدر او احترام کولو ته نشي آماده کول کېدلی او نه خو دهغه په ذهن کې دیوې خبرې ښه والی او بد والی اچول کېدلی‌شي

# مسلمان په مختلفو فرقو باندې ولې تقسیم شوي دي ؟

پوښتنه : کله چې ټول مسلمان یو قران مني نو بیا په مسلمانانو کې دومره فرقې او دفکرونو اختلاف ولې دی؟

ځواب :

مسلمان يو کېدل په کار دي

دا خبره بالکل صحيح ده چې نن مسلمانان په مختلفو فرقو باندې تقسیم شوي دي حال دا چې اسلام تقسیم او اختلاف نه خوښوي او اسلام په ټولو مسلمانانو کې یو والی غواړي په قران کریم کې الله تعالی فرمايي :

وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ

سورة آل عمران اية 103

ترجمه : او په زور سره ونیسئ د الله رسۍ. تاسې ټول او مه سره تيت کيږئ .

د الله تعالی رسۍ څه ده چې قران کريم دا فرمايي چې ټول مسلمان دې په جمع سره هغه کلکه ونيسي دا قران کريم دی یقیناً صرف قران کریم د الله تعالی هغه رسۍ ده چې کومه ټينګه نيول غواړي پدې آيت کې په دوو خبرو

باندې زور ورکړل شوی دی یوه دا چې رسۍ په زور سره ونیسئ او دوهمه دا
چې په خپلو مینځونو کې جنګ مه کوئ په قران کریم کې په یو بل ځای کې
الله تعالی فرمایي :
ای مسلمانانو دالله او دهغه د رسول حکم ومنئ .

سورت النساء آیه 59

په اسلام کې په فرقو باندې تقسیم کېدل او په خپل مینځ کې جګړې او
اختلافونه کول منع کړل شوي دي .
په قران کریم کې الله تعالی فرمایي :

إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمْ وَكَانُواْ شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ

سورة انعام اية 159

ترجمه: بېشکه هغه خلکو چې خپل دین ټوټې کړو او ګروپ ګروپ شول
ستاسې له هغوی سره هېڅ واسطه نشته خبره داده چې دهغوی معامله الله
تعالی ته سپارل شوېده بیا به هغه دوی ته ور وښیي چې دوی څه کول .
پدې آیت کې دالله تعالی فرمان دی چې ته خپل ځان له هغه خلکو څخه لرې
او جداکړه چې هغوی خپل دین تقسیم کوي او په مسلمانانو کې ډلې جوړوي
مګر چې کله له کوم مسلمان څخه پوښتنه کیږي ې ته څوك یې؟ نو هغه په
جواب کې تاته وایي چې زه سني یم ، یا به وایي چې زه شیعه یم او بعض
خپل ځان ته حنفي ، مالکي او شافعي او حنبلي وایي او بیا دا چې زه یا
دیوبندي یم او یا بریلوي .
زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم صرف مسلمان وو .
ددې جواب ورکونکو څخه څوك وړاندې پوښتنه کولی شي چې رسول الله
صلی الله علیه وسلم څوك وو آیا هغه حنفي، شافعي، مالکي او که حنبلي وو

ښکاره خبره ده چې دهغه جواب باید دا وي چې هغه صرف مسلمان وو او د الله تعالی له لورې څخه را لیږل شوی پیغمبر وو .
په سورت آل عمران په 52 آیت کې ویل شوي دي چې حضرت عیسی علیه السلام هم مسلمان وو په همدې توګه په همدې سورت کې په 67 کې ویل شوي دي چې حضرت ابراهیم علیه السلام هم مسلمان وو نه خو یهودي اونه نصراني (عیسایي) وو .
قران کریم تاسې ټولو ته مسلمانان وایي
که کوم انسان دا دعوه کوي چې دی مسلمان دی نوهغه باید ددې پوښتنې په جواب کې چې ته څوك یې ؟ باید دی ووایي چې زه مسلمان یم دا جواب ددېنه غوره دی چې هغه ووایي چې زه حنفي او که شافعي یم الله تعالی په سورت حم السجده کې فرمایي :

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ

سورة حم السجده (فصلت) اية 33
ترجمه : او ددې نه ښه خبره به د چا وي څوك چې دعوت وكوي طرف د الله ته او نېك عملونه وكوي او ووايي چې يقيناً زه له مسلمانانو (فرمانبردارانو) څخه يم .
په بل ځای کې قران کریم فرمایي چې هغه کسان چې مسلمان دي هغوی ته وواېه چې دوی دې ووایي چې زه مسلمان یم .
رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې دنورو ملکونو بادشاهانو ته خطونه لیږل او هغوی ته به یې د اسلام لورې ته دعوت ورکولو په هغې کې د سورت آل عمران د 64 آیت حواله ورکړل شوېده .

• ای پیغمبره تاسې ووایاست چې تاسې ګواهان شئ چې تاسې دیو خدای تابعداران یاست.

د اسلام د ټولو علماوو او فقهاوو احترام کول ضروري دي.

مونږ ته د څلور واړو امامانو یعني امام ابوحنیفه، امام شافعي، امام حنبل او امام مالك رحمهم الله او د اسلام د نورو لویو عالمانو او فقهاوو احترام کول په کار دي هغوی د اسلام لپاره ډېر خدمتونه کړي دي الله تعالی دې دهغوی درجې لوړې کړي.

پدې خبره باندې هیڅ اعتراض نشته چې تاسې په مسائلو کې دامام ابو حنیفه یا امام شافعي یا بل کوم امام نظریه تائیدکوئ مګر زما مطلب دادی چې که لتا څخه څوك پوښتنه وکوي نو ته ورته ددې په ځای چې دیو عالم نوم واخلې او ځان هغه ته منسوب کړې ورته وایه چې زه مسلمان یم ځینې خلك پدې اړه درسول الله صلی الله علیه وسلم دیو حدیث حواله ورکوي:

"زما امت به په 72 ډلو باندې تقسیم شي" (سنن ابو داود حدیث نمبر 4579)

پدې حدیث کې پیشګویي شوېده چې زما امت به په 72 ډلو باندې تقسیم شي مګر دا ندي ویل شوي چې دوی باید په 72 ډلو باندې وویشل شي په قران کریم کې په ښکاره توګه باندې حکم شوی دی چې په فرقو باندې مه تقسیم کیږئ هغه کسان چې په قران کریم او په احادیثو باندې عمل کوي هغوی په فرقو باندې له تقسیم څخه کرکه کوي او همغه خلك په سمه لاره دي

د ترمذي شریف په 171 نمبر حدیث شریف کې فرمایل شویدي په مسلمانانو کې به 73 ډلې جوړیږي او دیوې نه بغیر به نورې ټولې په دوزخ کې وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه چې دنبي او د صحابه وو په لاره روانه وي، هغه فرقه صحابه رضی الله تعالی عنهم پوښتنه وکوله: کومه فرقه؟ چې د قران کریم او د احادیثو تابعداري کوي.

په قران کريم کې په متعددو ځايونو کې حکم شوی دی چې ای مسلمانو د الله تعالی اطاعت وکوئ او دهغه د رسول اطاعت وکوئ يو مسلمان بايد په پوره زړه باندې په قران کريم او په احاديثو باندې عمل وکوي هغه که بيا دهر امام خبرې او نظريې دخپل عمل لپاره خوښې کړي مګر که دا نظريې د قران کريم له آياتونو او درسول الله صلی الله عليه وسلم له احاديثو سره ټکر وي نو بيادهغې هېڅ حيثيت نشته که ددې نظريو وړاندې کونکی هرڅومره لوی عالم هم وي .

که ټول مسلمانان قران کريم په ژور فهم سره وګوري او د هغې سره په صحيح احاديثو باندې عمل کول خپل شعار جوړ کړي نو انشاء الله ټول اختلافونه به ختم شي او مونږ مسلمانان به يو واحد امت جوړ شو .

# ټول مذهبونه ښې لارې ته بلنه کوي نو بیا د اسلام ترجیح ولې ده ؟

پوښتنه : ټول مذهبونه په بنیادي توګه باندې ښې لارې ته خلك ور غواړي او دا وايي چې په سمه لاره باندې لاړشئ نو بیا اسلام ته ترجیح ولې ورکول کیږي ؟ کوم بل مذهب نشي اختیار کېدلی؟

ځواب:

په اسلام او نورو مذهبونو کې فرق :

ټول مذهبونه په بنیادي توګه باندې انسانانو ته ښیي چې نېك کارونه وکوي او له بدو کارونو څخه ځان وساتي لکن اسلام له نورو مذهبونو څخه لږ وړاندې ځي او مونږ ته دښه والي لپاره لارې هم ښیي اسلام په خپل فطرت کې د انساني معاشرې مشکلات په نظر کې ساتي او اسلام د خپل خالق له لوري سیده پیغام دی ددې امله اسلام ته د فطرت دین ویل کیږي .

دمثال په توګه اسلام مونږ ته صرف دا حکم نه کوي چې له غلا څخه ځان وساتئ بلکه دهغې دخاتمې لپاره هم مونږ ته لاره را ښیي .

د اسلام ښودل شوې لاره

دټولومذهبونو تعلیم دادی چې غلا بد کار دی اسلام هم دا وايي چې غلا بد کار دی نو بیا پوښتنه داده چې په اسلام او نورو مذهبونو کې فرق څه دی ؟ فرق دادی چې اسلام ددې لوی جرم نه دخلکو دخلاصولو لپاره مونږ ته دیوې لارې دغوره کولو مشوره راکوي .

په اسلام کې دزکات نظام

اسلام په معاشره کې دبې وسه خلکو لپاره دزکات ورکولو حکم کړی دی او ددې حکم لاندې هر مالدار انسان چې له هغه سره د 85 ګرامه سرو زرو په

مالیت کې مال موجود وي هغه ته اسلام صاحب نصاب وایي او په ده باندې د هر قمري کال په تیرېدلو سره د خپل مال نه دوه نیم فیصده مال په غریبانو باندې تقسیم کول ضروري دي نو که هر مالدار سړی له امانت داري سره زکات ورکړي نو ددنیا څخه به دغریبی خاتمه وشي او هیڅ انسان به له لوږې څخه مړ نشي.

د غلا په جرم کې دلاس پرې کولو سزا

په چا باندې چې دغلا جرم ثابت شي اسلام هغه ته د لاس د پرې کولو سزا ورکوي په قران کریم کې الله تعالی فرمایي:

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُواْ أَيْدِيَهُمَا جَزَاء بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ

سورة مائده اية 38

ترجمه: د غله (که نر وي او که ښځه) لاس یې پرې کړئ دا ددوی د خپل عمل سزا ده د الله له لوري الله تعالی غالب او دحکمت خاوند دی.

ځینې خلك دا اعتراض کوي چې پدې شلمه پیړۍ کې لاس پرې کول یو وحشیانه کار دی نو ځکه اسلام یو وحشیانه دین دی، دا یو بې رحمه قانون دی

کله چې اسلامي قانون عملي شي.

آیا ته پدې خبریې چې په اوس وخت کې چې امریکا د دنیا تر ټولو نه ډېر پر مخ تللی ملك دی له بده مرغه هلته د جرمونو اندازه هم تر ټولو زیاته ده، دغلا او د ډاکې (داړې) اندازه هم هلته تر هرځای نه زیاته ده زه لتاسې څخه پوښتنه کوم چې که په امریکا کې اسلامي قانون عملي کړل شي او د امریکا هر مالدار انسان د خپل اضافي دولت څخه دوه نیم فیصده دزکات په توګه باندې غریبانو ته ورکړي او ددې سره سره دا اعلان هم وشي: هرڅوك چې

غلا کوي که نر وي او که ښځه دهغه لاس به پرې کول کیږي نو پوښتنه داده چې آیا بیا به په دومره لویه پیمانه باندې هلته غلاوشي؟ آیا هلته به غلا په همدې اندازه پاتې شي او که به لدې څخه هم کمه شي؟ دا به خامخا کمه شي.

دا خبره صحیح ده چې د غلا واقعې ډیرې زیاتې دي که دټولو غلو لاسونه پرې کړل شي نو دلکونو خلکو لاسونه به پرې کړل شي لکن دلته نکته داده چې که پدې قانون باندې عمل کول شروع کړل شي نو دغلا واقعې به فوراً کمې شي هر غل به له غلا څخه وړاندې دا فکر کوي چې که ونیول شم نو لاس مې پرې کول کیږي او ددې سره سره که بیا هم څوك غلا ته زړه ښه کوي په هغوی کې چې دیو څوکسانو لاسونه پرې کړل شي نو په لکونو نور خلك به د آراسم خوبونه وکوي او دهغوی نه به دا ویره ورکه شي چې ددوی نه دې څه غلا وشي دد پنه ښکاره کیږي چې اسلام که عملي کړلی شي نو فوراً مثبتې نتیجې ورکوي .

دریم مثال اسلام له ښځو سره زیادت منع کوي او دپردې کولو حکم کوي او هغه چې بیا هم دښځو د عزت سره لوبې کوي هغوی ته دمرګ سزاوارکوي.

د بدعملي او زنا د ختمولو لپاره د اسلام لاره

ټول لوی لوی مذهبونه وایي چې د زنانه وو بې عزتي مه کوئ ، له هغوی سره زنا مه کوئ هندو مذهب هم همدا وایي عیسائیت هم همدا وایي او اسلام هم همدا تعلیم ورکوي لیکن اسلام تاسې ته یوه عملي لاره درکوي چې په هغې باندې عمل وشي هېڅ نارینه به د زنانه وو بې عزتي ونه کوي .

په اسلام کې د پردې لپاره خپل قانون دی خلك په عامه توګه د ښځو دپردې خبره کوي مګر الله تعالی په قران کریم کې اول د سړیو دپردې خبره کوي او بیا ښځو ته د پردې کولو امر کوي په قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي :

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ

سورة النور اية 30

ترجمه : ووایه سړیو ته چې دوی دې خپل نظرونه ښکته ساتي او دخپلو شرمګاهونو دې حفاظت وکوي دا طریقه ډېر پاکیزه ده ددوی لپاره بېشکه الله تعالی په پوره توګه باندې خبر دی له هغه څه نه چې دوی یې کوي .

کله چې کوم نارینه په زنانه باندې نظر واچوي او دده په دماغو کې شهواني خیالات راشي نو ده ته په کار ده چې خپل نظر دې سمدستي ښکته کړي .

د ښځګو لپاره پرده

دښځو لپاره دپردې حکم په قران کریم کې داسې شوی دی .

وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ

سورة النور اية 31

ترجمه : او ووایه مسلمانو ښځو ته چې دوی دې ښکته کړي خپل نظرونه او دخپلو شرمګاه حفاظت دې وکوي او ښکاره دې نه کړي خپل سنګار مګر

هغه چې پخپله ښکاره کيږي او را څپاره دې کړي خپل ټکري په خپلو سينو باندې او ندې ښکاره کوي خپل سنګار مګر ددې خلکو په وړاندې خاوند، پلار، خسر (دخاوندپلار) ، زامن، دخاوند زامن (دبلې ښځې نه) ، وروڼه، وريرونه، خوريونه، زنانه ، هغه مريونه چې دوی يې مالکانې وي، هغه خادمان چې خواهش يې نه وي، هغه ماشوم چې د زنانه له پټو خبرو څخه خبر نه وي، او په تللو کې دې خپلې پښې په زور سره په زمکه نه وهي پداسې توګه باندې چې ښکاره شي هغه پټ زينت ددوی چې دوی پټ کړی وي او تاسې ټول الله ته توبه وباسئ ای مومنانو شايد چې تاسې کامياب شئ.

د ښځو لپاره د پردې حدادی چې بايد ددې ټول بدن پټ کړلی شي صرف هغه برخې چې هغه ښکاره کيږي لکه لاس او پښې اګر چې دمخ په اړه هم ځينې علما وايي چې دا په پرده کې ندی داخل او بعض وايي چې داخل دی.

حجاب دښځو ساتنه کوي

د ښځو لپاره د پردې دپابندي کولو حکمت الله تعالی په سورت احزاب کې فرمايلی دی.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا

سورة احزاب اية 59

ترجمه : ای نبي ووايه خپلو بيبيانو ته او خپلو لورانو ته او مومنو زنانه وو ته چې هغوی د را وپيچي په خپلو ځانونو باندې خپل ټکري او دخپل ټکري پلو دا ډيره ښه طريقه ده ترڅو هغوی و پيژندل شي او ضرر ورته ونه رسول شي او دی الله تعالی معاف کونکی او رحم کونکی.

د پورتني آيت نه دا هم ښکاره کيږي چې ښځه په اسلامي حجاب کې وي نو دا به ښکاره کيږي چې دا يوه پاکه ښځه ده بيا به بد خلك هغې ته نظر او تمه نه کوي .

د غبرګو خويندو مثال :

تاسې فرض کړئ چې دوې يو ځای پيدا شوې خوراني دواړه يو قسم ښائسته دي يوه په مکمل حجاب کې ګرځي او بله معمولي جامې واغوندي او د بې سترئ مظاهره وکوي او دواړه که په يوه کوڅه کې رواني وي او يو بد عمل سړی ورسره مخامخ شي نو ددې بد عمل سړي نه به په دواړو کې خطر کومې يوې ته زيات وي په حجاب کې پټې ښځې ته او که دهغې لوڅې خور ته ؟

جواب ښه ښکاره دی او حقيقت دادی چې داسې لباس چې ستا بدن نه پټوي او هغه يې لاخلکو تـه ور ښکـاره کـوي نـو هغـه خلکو تـه يـو قسم دعـوت ورکوي نو ددې وجې نه د قران کريم د پردې حکم په ځای دی چې په ښځو باندې يې لازمي کړېده .

دښځو د بې عزتي کولو لپاره دمرګ سزا .

تر اسلامي قوانينو لاندې ديوې ښځې سره په زور باندې بدعملي کونکي ته دمرګ سزا ورکوله کيږي په مغرب کې دا قسم سزا اوس د تنقيد لپاره هدف کيږي او ددې املـه اسـلام تـه ظـالم مذهـب ويـل کيـږي مـا پـه سلګونو غيـر مسلمو څخه يـوه پوښتنه کړېده چې خدای ناخواسته که کوم بدعمل انسان ستا له ښځې، خور ، مـور سره داسې کاروکوي او په اتفاقي توګه باندې ته ددې محکمې لپاره قاضي مقرر کړل شي او مجرم ستا په وړاندې راوستل شي نوته به هغـه تـه څـه سزا ورکړې؟ نـو د هريو جواب همداوي چې مونږ به هغوی تـه دمرګ سزا ورکـوو او ځينې خو لادومره په جذبـه کې راشي چې وايي مونږ به هغه ته تکليف ورکوو ورکوو تردې چې مړ شي نو ددې مطلب دادی چې که ستا دښځې،خور يا مـور سره داسې کار وشي نو تاسې ورته

دمرګ سزا آوروئ او که د بل چا له ښځې ، خور او مور سره داسې کار وشي نو تاسې بیا دهغه ظالمانه سزاوایاست نو دا غبرګ موقف ستاسې دا ولې دی ؟

## په امریکا کې د زنا واقعات تر هرځای څخه زیات دي

د امریکا شمار د دنیا په ترقي یافته ملکونو کې کیږي مګر هلته حالت دا دی چې د ایف بي آی د 1990 د شمیرنې له مخې د زنا یو لك دوه زره پنځه سوه پنځه پنځوس واقعې درج شوي دي او دمعاملې دسخت والي اندازه ددېنه کیږي چې پولیسو ته د رسېدلو اندازه صرف 16 فیصده وي چې 84 فیصده ښځې په کومه وجه باندې ددېنه ځان ساتي چې خبره یې پولیسو ته و رسیږي پدې توګه باندې ګواکي شپږ نیم لکه نه زیاتې ښځې هرکال د بدعمله خلکو له لوري بې عزته کیږي یعنې په اوسطه درجه باندې 1756 واقعې هره ورځ چې یو ډاروونکی حالت دی بیا دیو بل کار د راپور له مخې هره ورځ 1900 داسې واقعې کیږي د امریکا د انصاف دمحکمې د یو راپور له مخې په 1996 کال کې د زنا بالجبر دری لکه اوه زره واقعې درج کړل شوي وو او د یوې څېړنې له مخې دا شمېره په اصل کې 31 فیصده وه ګواکې چې د زنا بالجبر واقعې نه لکه نوي زره نه زیاتې دي او داسې 1996 کې په درمیانه اندازه 2713 زنانه وو سره ظلمونه شوي دي په امریکا کې په هرو 32 ثانیو کې د زنا بالجبر یوه واقعه کیږي د یوه راپور له مخې په 1990 کې د ثبت شویو واقعو لس فیصده مجرمان ونېول شول یعنې د اصل جرمونو صرف 1.6 فیصده مجرمان نیول شوي دي او په هغوی کې هم پنځوس فیصده مجرمان د مقدمې د سماعت د شروع نه وړاندې خوشې شول او پدې توګه باندې 0.8 فیصده داسې ملزمان وو چې دهغوی محکمې تر عدالتي کارونو پورې ورسېدلې نو ددې ټولو خبرو مطلب دادی چې څوك د 125 زنانه وو سره په زور باندې بدعملي وکوي نو هغوی ته د سزا د ملاوېدلو امکان صرف په یو فیصد نه هم کم وي او که بیا هم تر ټولو مرحلو

تېر شي خو چې قاضي ته مخامخ شي نو بيا هم په تکليف سره تر يو کال کمه سزا ورکوله کيږي .

د اسلامي شرعي قانون دعملي کولو نتيجې

تاسې فرض کړئ چي که په امريکا کې اسلامي قانون عملي کړل شي چې بيا که دکوم اجنبي سړي نظر په ښځه باندې ولګيږي او په زړه کې يې څه شيطاني خيال راشي نو هغه خپل نظر ښکته کړي او ددېنه علاوه هره ښځه اسلامي حجاب واغوندي يعني دهغه ټول جسم او مخ په اسلامي لباس باندې پټ وي او بيا هم که کوم سړی له ښځې سره په زور باندې بدعملي وکوي نو هغه ته به دمرګ سزا ورکوله کيږي نو په امريکي معاشره کې به ددې جرمونو اندازه په همدې اندازه باندې پاتې شي او که به کمه شي نو قدرتي خبره ده چې دا واقعې به کمې شي او دا د جرمونو کمښت به صرف داسلامي قانون دعملي کولو نه راشي .

په اسلام کې انساني نسل ته په مخه د راغلو مسئلو حل موجود دی .

اسلام دژوند بهترينه طريقه ده ځکه اسلامي تعليمات صرف خبرې ندي بلکه انسان ته په مخه د راغليو مشکلاتو حل هم وړاندې کوي او د اسلامي قوانينو د عملي کولو نتيجې په انفرادي او اجتماعي دواړو حالتونو باندې مرتبي کيږي اسلام د ژوند بهترينه طريقه وړاندې کوي ځکه دا يو عملي او آفاقي مذهب دی کوم چې د کوم خاص نسل او ګروپ پورې محدوديت نلري

# د اسلام په احکامو او د مسلمانانو په عمل کې فرق ولې دی؟

پوښتنه : که اسلام بهترین مذهب دی نو دمسلمانانو لوی تعدادولې بې دینه وي او په هغوی باندې څوك اعتماد نشي کولی او هغه ولې خلکو ته دوکه ورکوي رشوت او د نشه يې موادو په تجارت او داسې نورو کارونو باندې آخته وي؟

ځواب :

مغربي میډیا د اسلام سره کینه کوي

اسلام بېشکه بهترین مذهب دی لکن مغربي میډیاچې په کومو لاسونو کې ده هغوی له اسلام څخه په وېره کې دي هغوی په مسلسله توګه باندې داسلام په خلاف کار کوي او دخپلو لوستونکو او کتونکو ذهنونه د غلطو او بې بنیاده خبرو نه زهرجن کوي د اسلام په اړه غلط معلومات خپروي او د حوالې په ورکولو کې هم بې دیني کوي او بې سر او پښې خبرې له لوی تسلسل سره دخلکو په ذهنونو کې ور اچوي .

کله چې هم د کومې چاودنې واقعه کېږي نو فوراً بغیر دکومې پلټنې او ثبوت څخه الزام په مسلمانانو باندې لګول کېږي او د اخبارونو سرخي لوی عنوانونه په مسلمانانو باندې تهمت لګوي او که وروسته بیا ثابته شي چې ددې واقعې ذمه وار یو غیر مسلم وو بیا ددې خبرې په کولو باندې خاورې اړول کېږي او دمخکنیو تورونو صفایي نه کېږي .

که کوم پنځوس کلن انسان له یوې پنځلس کلنې جینۍ سره دهغې په رضا باندې واده وکوي نو داخبارونو په اول مخ کې ددې خبرې نشر د ظلم په نوم سره کېږي لکن که کوم پنځوس کلن غیر مسلم له یوې شپږ کلنې ماشومې

سره بدعملي وکوي نو داخبار دننه په صفحو کې دمختصرو خبرونو په جمله کې په یوه کالم کې دهغې سرسري ذکر کیږي په امریکا کې په مینځنۍ اندازه د زنا 2713 جرمونه کیږي مګر په عامه توګه په اخبارونو کې دهغې یاد نه راځي ځکه داسې واقعې اوس هلته معمولي شوې دي .

توره مېږه په هره جامعه کې وي .

زه دامنم چې داسې مسلمانان شته چې بې دینه وي او د اعتماد وړ نه وي او ډېر داسې دي چې هغوی دوکې ورکوي لکن د میډیا په راپورونو کې داسې ښکاره کیږي لکه بې دیني چې صرف مسلمانان کوي او بېشکه چې په هره معاشره کې داسې خلك پیداکیږي بېشکه چې په مسلمانانو کې هم دشرابو څښونکي پیدا کیږي لکن د غیر مسلمو په مقابله کې به دهغوی شمېره څومره وي؟

# مسلمان په مجموعي توګه باندې نېك خلك وي

په مسلمان قوم کې د دې تورو مېږو د شمول سره سره په مجموعي توګه باندې مسلمانان نېك او ښه خلك وي او بهترین ښاریان ګڼل کیږي په دنیا کې د شرابو او نورو مسکراتو څخه ځان ساتونکي اکثر مسلمانان وي په معاشره کې بې وسه خلکو ته ورکړه کونکي او دهغوی مرسته کونکي هم تر هرچا څخه مسلمانان زیات وي ددېنه علاوه د معاشرې دښه والي د تقاضو پوره کونکي خلك هېڅوك هم له مسلمانانو څخه زیات نشي کېدلی .

د موټر د معیار اندازه د ډرایور نه نشي کېدلی .

که ته دا پېژندل غواړې چې دمثال په توګه د مرسډیز موټر نوی ماډل څومره ښه او مضبوط دی مګر یو داسې ډرایور ته په لاس ورشي چې هغه ته ددې چلول نه وي زده او په بې اختیاره توګه سره هغه چلوي او کوم ځای ته یې وغورځوي او هغه تباه کړي نو دلته قصور دچا دی؟ د مرسډیز موټر او که د

ډرایور؟ یقیناً چې نقصان به د ډرایور وي دکار د ښه والي په معامله کې ته باید ډرایور ته نه بلکه موټر ته وګورئ چې داڅنګه ګرځي او څنګه منډه کولی شي دهغې حفاظتي انتظامات څه دي .
که دامعلومه هم شي چې مسلمان بد دی نو بیا هم اسلام ته بایدد مسلمانانو دعملونو له امله ونه کتل شي او که ته داسلام په اړه څېړنه کول غواړې نو د مستندو ذرائعو نه په حاصلو شویو معلوماتو باندې یقین وکوئ اودا مستند ذرائع قران کریم او او نبوي احادیث دي .
اسلام د اسلام دبهتر پیروان حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د کارونو په حواله سره وپېژنئ .
که تاسې دکوم موټر خصوصیت کتل غواړئ نو تاې په سټرنګ باندې یو ماهر ډرایور کېنوئ په همدې توګه باندې ددې کتلو لپاره چې اسلام څومره ښه دین دی نو دپیغمبر صلی الله علیه وسلم مبارك ژوند ته دې وکتل شي دمسلمانانو څخه علاوه نورو امانت دارانو مورخینو دهغه دژوند په ښه توګه سره اظهار کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو بهترین انسان وو ددې امله "بهترین انسان" په نوم یو کتاب ډبلیو ایچ هارټ لیکلی دی هغه وایي تهامس کارلائل او لامارټین داسې لویو مورخینو هم رسول الله صلی الله علیه وسلم دی وسلم ته د مینې اظهار کړی دی .

# غیر مسلمو ته کافر ولې ویل کیږي

پوښتنه : مسلمان غیر مسلمو ته کافر ولې وایي؟

ځواب : دکافر لفظ له کفر نه اخستل شوی دی چې مطلب یې دی پټول ، ردکول او انکار کول په اسلامي اصطلاح کې دکافر مطلب هغه وي چې د اسلام له ربښتیا والي څخه انکار کوي او دېته په انګریزي کې Non Muslim ویل کیږي که هر غیر مسلم ځان ته دکافر لفظ توهین مني او که غیر مسلم ورته وویل شي دا ورته توهین نه ښکاره کیږي دا ددې نتیجه ده چې دی د اسلام له اصطلاح څخه نا خبر دی او دهغه راهنمایي ته ضرورت دی اوکه هغه پوه کړل شي نو بیا خو به هغه نه داخبره دځان لپاره توهین ونه ګڼي بلکه اسلام به هم دیو مذهب په حیثیت باندې دهغوی په نظرونو کې د احترام درجه حاصله کړي .

# ANSWERS TO NON-MUSLIMS COMMON QUESTIONS ABOUT ISLAM


***Dr. Zakir Naik***



د نیوکابل کتاب پلورنځی نمائیندګیانی

افغان کتاب او قرطاسیه پلورنځی
ارګ بازار کندهار
0700303251/0777303251

غرغښت کتاب او قرطاسیه پلورنځی
خوست بازار شاروالی مارکېټ
موبایل: 0700791313 - 0799137362

عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی
د مخابراتو څلور لارې جلال آباد
موبایل: 070626161

نمائندګی نیو کابل کتاب فروشی
جوی شیر مرکز کتب فروشان شهر کابل
موبایل: 0799683044